# د ابن خلدون
# مقدمه

Ketabton.com

عبدالرحمن ابن خلدون
محمد زبیر شفیقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عثمان غني زابلي لخوا

په PDF بڼه ډالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مطالبو لړلیک


د ژباړن یادښت ...................................... ۹
د تاریخ ارزښت ...................................... ۱۱
پر تاریخ لیکونکیو تنقیدي نظر .......................... ۱۲
ربښتیني مؤرخین د ګوتو په شمار دي ..................... ۱۲
د مسعودي او واقدي په اړه نظر ......................... ۱۳
په تاریخونو کې د تاریخ لیکونکیو انداز .................. ۱۳
د تاریخي غلطیو څو مثالونه ........................... ۱۸
معمولاً خلک د څه شي شمېر ډېر ښیي ..................... ۲۰
پر هارون الرشید یو دروند تور ......................... ۲۷
په دیني علم کې د منصور مقام ......................... ۲۸
د منصور تقوا ...................................... ۲۸
د اموي او عباسي خلیفه ګانو د تقوا یو ساری ............. ۳۰
د زنبیل حدیث ...................................... ۳۱
د دروغو داستانونو جوړولو یو لامل ...................... ۳۲
یوه شهزاده ته نصیحت ................................ ۳۲
آیا د عبیدیانو خلیفه ګان له اهل بیت څخه وتلي ۳۳
د دروغجنو راز زر افشا کېږي .......................... ۳۴
د شیعه ګانو د پټېدو سبب ............................. ۳۵
د ادریس په نسب کې د پېغور سبب ....................... ۳۷
پر خلافت د عجمیانو برلاسي او د خلیفه .................. ۳۸
د دروغو آوازو د خپرولو سبب .......................... ۳۹
پر امام مهدي بد ویل .................................. ۴۰
د امام مهدي د نسب له اړخه سپیناوی ..................... ۴۱
تاریخ د خواصو فن دی د عامو خلکو نه دی ..... ۴۲
په هره زمانه کې د قومونو وضعه بدله وي .................. ۴۲
په قیاس او نقل کې د تېروتنې امکان ...................... ۴۳
د قیاس د تېروتنې یو ساری ............................. ۴۴
د اسلام په پیل کې د علم حیثیت ......................... ۴۴
د اندلس د خلکو لنډه پاري .............................. ۴۵
په لومړیو وختونو کې قضا چا ته سپارل کېدله؟ .. ۴۶
د اوسنیو مؤرخینو موخې او اهداف ........................ ۴۶
د اتمې پېړۍ په نیمایي کې وژونکې وبا .................... ۴۷
د عجمي ژبو د هجا توریو بیان ........................... ۴۹
د غیر عربي ژبو کلیمه څه ډول ولیکل شي؟ ...... ۴۹
په تاریخ کې د دروغ، ربښتیا او غلطیو احتمال ..... ۵۱
د خبرونو ارزولو یوه معیاري قاعده ........................ ۵۲
ډېر ناممکن او سخت خبرونه منل کېږي .................... ۵۲
ما ته یوازې د یوه قوم علوم په لاس راغلي .................. ۵۵
د سیاست په موضوع د ارسطو یو کتاب ...................... ۵۷
بشري خصلتونه چې انسان له حیوان ........................ ۵۸
د ټولنې ډولونه ........................................ ۵۹
په ټولنه کې انسان ته شپږ ستونزې پېښېږي ............... ۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library




د انساني ژوند لپاره تولنې ته اړتیا ده ............... ٦٠
د تولنې لپاره د پنځو شیانو کېدل اړین دي ........ ٦١
پاچاهي انساني ځانګړتیا ده .................... ٦٢
د ځمکې نیمایي برخه پرانیستې ده ............. ٦٣
د ځمکې څومره برخه اباده ده.................... ٦٣
د استوا کرښه، د البروج سیمه او معدل النهار ...... ٦٣
هره برخه لس ټوټې ده ........................ ٦٤
د اباديې نړۍ سیندونه .......................... ٦٦
د نیل سیند .................................. ٦٧
جنوبي برخه شاړه ده............................ ٦٨
پیغمبران منځلاري خوښونکیو انسانانو ........... ١٠٢
د نا معتدلو اقلیمونو اوسېدونکي نیمه ............ ١٠٣
د وحشي توب لامل يې ......................... ١٠٣
د تودوخې او یخنۍ طبیعي خواص .............. ١٠٤
د حبشیانو، زنګیانو او سوډانیانو تر منځ توپیر ...١٠٥
پیغمبران په کومو قومونو کې راغلي ............. ١٠٥
د معتدلو اقلیمونو په خلکو کې اقتصادي......... ١٠٩
بېوزله خلک تر شتمنو په «اخلاقو» او «روغتیا».١٠٩
د آرام ژوندانه اغېزې او د هغو سببونه .............. ١١١
په لوږه بدن اصلاح کېږي......................... ١١٢
په معجزه، جادو او کرامت کې توپیر .............. ١١٧
د علماؤ په اند د جادو او معجزې تر منځ توپیر.١١٩
د حکیمانو له نظره د کرامت او معجزې تر......١١٩
قرآن کریم تر ټولو ستره معجزه...................... ١١٩
لومړی ډول وحې ولې سخته وي ................ ١٢٤
ایا جادو د رسالت له زمانې وروسته ختم شوی.١٢٧
خوب د پیغمبری ۴۶ مه برخه ده .................١٢٩
پرېشانه خوب څه شی دئ؟ .......................١٣١
خوب لیدل درې ډوله وي ...........................١٣١
د خوب سببونه ...................................١٣١
په خوب کې د کومې خبرې د معلومولو عمل..١٣٢
د کوډو ډولونه ...................................١٣٤
د شګون او فال یادونه ...........................١٣٥
د لېونیانو یادونه ..................................١٣٥
د ځېره پېژندونکیو یادونه .........................١٣٥
د جوګیانو یادونه...................................١٣٧
د صوفیانو یادونه...................................١٣٧
د صوفیانو کشف ..................................١٣٨
حضرت عمر «رض» محدث .........................١٣٨
د حضرت صدیق اکبر «رض» یو کرامت .........١٣٩
د بهلول صفته فرقې یادونه .........................١٣٩
د نجوم علم ........................................ ١٤٠
ایا د رمل علم حضرت ادریس ع ایجاد کړئ؟ . ١٤١
پر پټو او غیبي رازونو د با خبرو کسانو نښې ..... ١٤٢
د نړۍ زایچه ........................................ ١٤٤
په انساني کورنیو کې ښاریتوب او اطرافي ........ ١٤٩
د ژوند ژواک وسایل انسانان پر بېلا بېلو .......... ١٤٩
بزګر او شپانه له کلیو پرته چاره نه لري .......... ١٤٩
کسبګر د ښه ژوند په حالت کې ښارونه ......... ١٤٩
د کلیوالو طبیعي ګرځنده ژوند ...................... ١٥١

(c) ketabton.com: The Digital Library




د کليوالو پر يوه ځای اوسېدل غوره دي ........۱۵۱
کليوالتوب تر ښاريتوب پخوانی دی ..........۱۵۳
کلي د ښارونو زېږي دي. لوی لوی ښارونه ......۱۵۳
تر ښاريانو کليوال خير ښېګڼې ته ډېر ........۱۵٤
چاپېريال پر انسان اغېز کوي ..............۱۵٤
تر ښاريانو کليوال زړور وي .................۱۵۷
د احکامو تعميل د ښاريانو زړورتيا خوري .....۱۵۸
د غيرتي کورنيو غړي پر يو بل ظلم نه کوي .....۱۶۱
خلک د کانونو په څېر دي ...............۱۷۱
د حسب او نسب ګټه ملاتړ دی ..........۱۷۱
په يوه کورنۍ کې د حسب انتها څلور پښته دي ۱۷۶
د عصبيت موخه د حکومت ترلاسه کول دي ...۱۸۱
د حکومت او رياست په مفهوم کې توپير ......۱۸۱
عياشي او ساعت تېری د حکومت دوام ته .....۱۸۳
د عياشو پلار او مور اولاده هم عياشه وي .......۱۸۳
د يوه نسل عمر ۴۰ کاله دی ...........۱۸۵
د حکومت او خلافت حقدار څوک دي.......۱۸۸
په واکمنو کې ښه عادتونه ليدلای شو .......۱۸۸
د واکمنو عام صفتونه ...........۱۸۸
د هېواد د زوال سببونه ..........۱۸۹
د کمال سببونه ...........۱۸۹
د فضايلو د خاوندانو عزت د کمال سبب دی...۱۸۹
د ځنګلي قومونو پاچاهي پراخه وي .....۱۹۱
زامن د پلرونو تقليد کوي........۱۹٤
مغلوب قام ډېر زر له منځه ځي ........۱۹۵
د نړۍ په قومونو کې عربان له سياست نه ډېر ...۲۰۱
د هېواد او عام حکومت تکيه پر ملي ځواك .....۲۰٤
چې کله حکومت پياوړی شي قومي ملاتړ ......۲۰۵
په بحراني وضعه کې د حکومت ملاتړ ..........۲۰۵
له قومي ملاتړ پرته د حکومت ترلاسه کولو .....۲۰۸
مذهبي غورځنګ قومي ملاتړ ډېر پياوړی.......۲۱۰
مذهبي غورځنګ له قومي ملاتړ پرته زور نه ....۲۱۱
تر ټولو مخکې اصلاحي تحريك له بغداده پيل ۲۱۲
پر حکومت د بوډاتوب اغېزه ..............۲۱۵
په کومو هېوادونو کې چې ډلې او قومونه ډېر وي د
هغوی حکومتونه پياوړي نه وي ..........۲۱۹
عياشي غوښتل د حکومتولی ځانګړتيا..........۲۲۳
کله چې هېواد د مستۍ او عيش اوج ته .........۲۲۵
د حکومت د زوال د مخنيوي يوه اغېزناکه لاره ۲۲۷
يو حکومت ډېر لږ تر ۱۲۰ کاله اوږي ..........۲۲۹
د شجرې قانون ...........۲۳۰
ښاريتوب څه شی دی ...........۲۳۱
په پيل کې په حکومت کې ناز او نعمت .........۲۳۵
د ابن بطوطه کيسه ............۲۴٤
د حکومت د پايته رسېدو يوه نښه ..........۲۴۷
تر حکومت مخکې اړيکې تر حکومت له وروسته
اړيکو ژورې او پخې وي ..........۲۴۹
بيدار مغزه او ذهين پاچاهان نرم خويه نه وي....۲۵۷
د امامت شرطونه .........۲۶۳
خلافت پر حکومت بدلبدل ........۲۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library




شریعت پر حکومت او قومپالنې بد وايي ........ ۲۷۷
که حکومت مطلق بد وای نو حضرت سلیمان او
حضرت داود علیهم السلام به ولې پاچاهان وو؟ ۲۷۹
خلافت څه شی دی؟............................ ۲۸۰
په عادلانه حکومت کې هیڅ بدي نشته.......... ۲۸۳
حضرت عثمان «رض» له خپل ژوند تېر شو ..... ۲۸۶
حضرت علي «رض» د دین لپاره سیاست ........ ۲۸۶
خلافت او حکومت دوه بېل واکونه دي.......... ۲۸۷
د بیعت تعریف.................................. ۲۸۸
د بیعت الایمان تعریف ......................... ۲۸۸
ځایناستی (ولیعهد) ........................... ۲۹۰
د ابن زبیر رضی الله عنه سیاسي غلطي.......... ۳۰۲
په خلافت او حکومت کې توپیر .................. ۳۰۴
د خلیفه ځانګړې دندې ......................... ۳۰۴
د فتواو لیکل.................................. ۳۰۶
د علماؤ دندې .................................. ۳۰۷
د قضا منصب.................................. ۳۰۷
د پولیسو مشر ................................. ۳۱۰
پاچاهان د علماؤ عزت ولې کوي؟.............. ۳۱۲
د امیرالمؤمنین لقب، د امارت پخوانی یادګار ... ۳۱۷
امیرالمؤمنین د پوځي منصبدارانو لقب ؤ ........ ۳۱۷
د سلطان د نوم دود کېدل ....................... ۳۲۰
مهدي ته د امام خطاب ......................... ۳۲۱
د بني اسراییلو د حکومت ټوټه کېدل.............. ۳۲٤
د قلم او تورې په مرتبو کې توپیر .............. ۳۵۷
د بیرغونو دود له کومه وخته دی.................. ۳۵۹
سریر (تخت)................................... ۳٦۲
په اسلام کې تر ټولو لومړی تخت ............... ۳٦۲
د سکې د لفظ څېړنه .......................... ۳٦۳
د لیکونو د نغاړلو دود ......................... ۳٦۹
د خاتم (مهر) اداره یانې څه ................... ۳٦۹
دښمني ......................................... ۳۷۷
جهاد ........................................... ۳۷۷
د بغاوت د ځپلو لپاره جګړه...................... ۳۷۷
یرغلیزه (چریکي) جګړه:......................... ۳۷۸
حکومت په وروستیو وختونو کې ګمرکي ........ ۳۹۰
د حکومت په پیل کې د پاچا او چارواکیو ....... ۳۹۰
د پرمختګ او تمدن په دوران کې د واکمنو..... ۳۹۰
څلوېښتم فصل ................................ ۳۹۱
د پاچا سوداګري د ولس په زیان ده او.......... ۳۹۱
د هېواد لګښتونه څه ډول پوره کړای شي ........ ۳۹۱
د حکومت کرنه او سوداګري..................... ۳۹۱
یو حکومت دوه ټوټې کېدل ...................... ٤۰۷
د حکومت ټوټه کېدل د زوال نښه ده ............ ٤۰۷
پوځي فساد .................................... ٤۱۱
د نویو حکومتونو جوړېدل ...................... ٤۱٥
د نوي حکومت د جوړېدو دوه ډولونه ............ ٤۱٥
نوی حکومت پر پخواني له یوې مودې............ ٤۱٦
یاغیان ناڅاپي بریا نشي ګټلای.................. ٤۱٦
د قحطۍ او وبا خپرېدل ......................... ٤۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library


د وبايي ناروغيو د زياتوالي سبب ................. ۴۲۱
په انساني ټولنه کې د نظم لپاره سياست ته اړتيا.۴۲۲
د عقلي سياست ډولونه ................. ۴۲۲
مسلمانان عقلي سياست ته اړتيا نه لري .......... ۴۲۳
د امام جعفر صادق وړاندوييني .................. ۴۶۳
د ساري ناروغيو اصل سبب ................. ۴۸۱
کرنه بنستيز کسب دی .................... ۵۳۰
د صنعت دوهمه درجه ده .................. ۵۳۰
د سوداګرۍ درجه دريمه ده ................... ۵۳۰
عزت او مقام د شتمنۍ لپاره ګټور دی .......... ۵۳۸
ديني علما لکه مفتي، قاضي، مدرس، امام، خطيب، او مؤذن په عام ډول شتمن نه وي ............ ۵۴۴
کرنه د لټو او آرامۍ طلبه کليوالو دنده ده ....... ۵۴۵
کوم تجارت وشي کوم نه .................. ۵۴۷
د بيې د لوړېدو لپاره د مال ساتل ............. ۵۵۰
صنعتونه علومو ته اړتيا لري ................. ۵۵۳
د صنعتونو ډولونه ....................... ۵۵۳
عرب له صنعت څخه ډېر لرې دي .............. ۵۵۹
يو سړی په يوه صنعت کې کمال پيدا ............ ۵۶۰
د ترکاڼۍ صنعت ........................ ۵۶۷
د ترکاڼۍ په چارو کې هندسه ډېر رول لري ..... ۵۶۸
د ټوکرانو جوړولو او ګنډلو صنعت............. ۵۶۹
قابله توب (دايي) ........................ ۵۷۰
طب ................................ ۵۷۲
معده د ناروغيو کور دی ..................... ۵۷۲
پرهېز د دوا سر دی ...................... ۵۷۲
د هرې ناروغۍ ريښه په ډکه معده خوراک دی ۵۷۲
د ناروغيو ريښه ........................ ۵۷۳
په ښارونو او عياشانو کې ناروغۍ ډېرې وي .... ۵۷۴
کاغذ جوړول ........................... ۵۸۰
زموږ د زمانې طالبان ...................... ۵۹۲
خلک د تمدن په اندازه هوښيار وي ............ ۵۹۴
په زده کړو کې د مصريانو کمال .............. ۵۹۴
د نقلي علومو ډولونه ....................... ۵۹۸
قرائت ............................... ۶۰۰
اووه مشهور قرائتونه ...................... ۶۰۰
د ناسخ او منسوخ علم ..................... ۶۰۵
د اجماع تعريف ......................... ۶۱۴
د کتاب، سنت، اجماع او قياس څلورو .......... ۶۲۲
يوولسم فصل .......................... ۶۳۹
د تصوف علم .......................... ۶۳۹
د صوفيانو لقب .......................... ۶۳۹
د خوب تعبير .......................... ۶۴۸
له خوب څخه د پټو خبرو د معلومولو سبب .... ۶۴۸
د تعبير حقيقت ......................... ۶۴۹
د خوب ډولونه ......................... ۶۵۰
د تعبير په فن کې امام محمد بن سيرين دی..... ۶۵۱
عقلي علوم څلور دي ...................... ۶۵۲
د ستوريو پېژندنې علم ..................... ۶۶۴
د ازياج (جدولونو) علم ..................... ۶۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library




د منطق علم ........................................... ٦٦٦

د نباتاتو علم ........................................... ٦٧٢

الهيات (فلسفه)........................................... ٦٧٣

جادو او کوډې ........................................... ٦٧٥

د معجزې او جادو تر منځ توپير ........................ ٦٧٨

د رنګونو ډولونه ........................................... ٦٩١

په حيوان کې کيمياوي عمل آسانه دی .......... ٦٩١

د عربي ژبې علوم ........................................... ٧٣٥

د نحوي علم ........................................... ٧٣٥

د لغت علم ........................................... ٧٣٧

د بيان علم ........................................... ٧٤٠

د بيان علم ډولونه ........................................... ٧٤١

د بلاغت علم موخه ........................................... ٧٤٢

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د ژباړن یادښت

د لوی الله جل جلاله ډېر شکرونه چې ما ته یې د اسلامي نړۍ د ستر نابغه علامه عبدالرحمن ابن خلدون نوماند اثر (د ابن خلدون مقدمې) د ژباړې توفیق راوباښه، دغه اثر تر ننه د اروپا د علمي مرکزونو او پوهنتونونو په درسي نصاب کې شامل دی. د نړۍ پر زیاترو ژوندیو ژبو څو څو ځله ژباړل شوی او په رښتینې مانا د یوه داسې نابغه ذهن محصول دی چې انساني ټولنې ته له پېړیو پېړیو وروسته خدای تعالی یونیم ورلوروليٰ دي.

علامه عبدالرحمن ابن خلدون پر ۷۳۲ هجري په المغرب (تونس) کې زېږېدلی، د وخت له مشهورو علماؤ څخه یې دیني زده کړې ترسره کړې او بیا یې په فلسفې، تاریخ او بېلابېلو نورو ټولنیزو علومو کې د ترلاسه کړې تجربې پر مټ په دوو ټوکونو کې دغه تلپاتې اثر (مقدمه) ولیکه چې د نړۍ له نوماندو اثارو څخه یو ډېر غوره او ویاړمن اثر ګڼل کېږي.

د دغه اثر لومړی کتاب نوموړي په ۷۹۹ هجري کال کې د پنځو میاشتو په موده کې بشپړ کړی دی.

د ابن خلدون په دغه اثر کې په رښتینې مانا دودیز علوم په یوه ټوک کې راټول شوي دي، له تاریخ، جغرافیې، ټولنپوهنې او ټولنیزو اړیکو تر نجوم او ستوریو پېژندلو پورې، د نړۍ د مذاهبو، تر لویو امپراتوریو پورې د عروج او زوال لاملونه، د بشر د تاریخ لوړې ژورې، علوم، اړیکې، او د بدوي او ښاري ژوندانه ځانګړتیاوې په داسې بڼه لیکل شوې چې لوستونکی یې د لیکوال پر نبوغ اعتراف ته اړ کېږي.

علامه ابن خلدون په ریښتنې مانا جامع الکمالات او نابغه عالم دی. نوموړي چې د حکومتونو او قومونو د عروج او زوال او د هغو د پیل، ځوانۍ او بوډاتوب کومې نښې او ځانګړتیاوې په ګوته کړې نن یې موږ هم په خپله ټولنه کې عیني شواهد لیدای شو او هم یې د خپل مظلوم ولس د تېرې نیمې پېړۍ پېښې کټ مټ د ابن خلدون د سوونو کلونو وړاندې ښودلو پایلو سره یوشان مومو.

ابن خلدون وایي چې ټولنې او حکومتونه د انسانانو په څېر زېږي، ځوانېږي او د ژوند شباب ته رسېږي او بلاخره بوډا کېږي او مري.

د ځوانۍ په اوج کې هغو غلطیو او کړو وړو ته اشاره کوي چې د بوډاتوب د پیل په مانا دی. نوموړی وایي چې حکومتونه د پرمختګ اوج ته ورسېږي بیا عیاشي او تجملي ژوند پکې پیل شي چې ورځ تر بلې زور اخلي. همدغه عیاشي او تجمل لګښتونه زیاتوي چې بوج یې پر عام ولس ورلوېږي، دا د یوه حکومت او نظام د بوډاتوب پیل دی. ابن خلدون مثال راوړي چې کله د حکومتي چارواکیو خرمستۍ اوج ته ورسېږي نو پر عام ولس مالیې او باج زیاتېږي چې د چارواکیو د خرمستیو لګښتونه پوره کړي.

تاسو څو سوه کاله پخوا دغه درنې خبرې زموږ د ټولنې او حکومت له اوسني حالت سره پرتله کړئ، پر عامو خلکو څومره بوج دی، چې د څو نازولیو د خرمستیو لګښتونه پوره شي.

د ابن خلدون مقدمه د همدغو ځانګړتیاو له مخې دغه ارزښت لري چې د نړۍ په معتبرو علمي مرکزونو کې د تعلیمي نصاب برخه ده، نه یوازې دا چې د نصاب برخه ده بلکې په زغرده ویلای شو چې ابن خلدون، ابن

(c) ketabton.com: The Digital Library



رشد، ابن سینا او څو نور د اسلامي نړۍ ویاړمن زامن وو چې په اروپا کې یې د علم او پوهې ډېوې روښانه کړې، نن اروپا د پوهې، تمدن او تکنالوژۍ هغه اوج ته رسېدلې چې موږ یې خوب نشو لیدلی.
راځم د دې درانه اثر ژباړې ته. دا چې بنده په وس پوره دی ما چې څومره توان درلود صرفه مې نه ده کړې، دغه اثر مې له دوو ژبو اردو او فارسي ژباړلی، د ژباړې ستونزه په دې کې ده چې پخپله اثر څو متنونه لري، د پاریس چاپ، د بیروت، ینې، د قاهرې او ډېر نور. په هر چاپ کې له بل سره یو لړ توپیرونه شته، ما د اردو ژبې څخه چې مولانا عبدالمجید صدیقي ژباړلی او له فارسی څخه چې ایراني لیکوال (محمد پروین گنابادي) ژباړلی دی، په ژباړه کې گټه اخیستې، د دغو دواړو ژباړو په متونو کې توپیرونه شته، په ځانگړې توگه په فارسي متن کې تفصیل او لمن لیکونه زیات دي. په دې کې د هغه اضافي متن په باب دا وضاحتونه هم شته چې گواکې په ینې متن کې نه ؤ او ژباړن د پاریس له متن نه پکې راوړي دي او یا د دې برعکس.
ما ته سمدستي دا اړینه ښکاره شوه چې لومړی په پښتو ژبه کې د دغه نوماند اثر مطلق تشه رفع شي هم غنیمت ده، ځکه مې له ډېرو لړو ځایونو پرته د فارسي متن اضافي برخې نه دي ژباړلې، نه مې لمن لیکونه او حاشیې راوړې.
د ژباړې په برخه کې زما تر ټولو لویه ستونزه دا وه چې دغه اثر د علومو او فنونو خزانه ده، له جغرافیې، تاریخ او د بشري ژوندانه له بېلابېلو اړخونو نیولې د نړۍ تر مذهبونو، دودونو، کلتور، خرافي عقایدو او باورونو پورې، آن تر ستوریو پېژندنې، کوډو، جادو، معجزو او کراماتو پورې هر څه پکې په تفصیل بیان شوي دي، په داسې حال کې چې زه د ځینو شیانو په الف، ب هم نه پوهېږم، د کوډو، جادو، ستوریو پېژندنې په باب چې کوم مطالب ژباړل شوي تر ممکن حده مې د ژباړې امانت خوندي ساتلی خو پر اړوندو موضوعاتو د نه پوهېدو په دلیل ما ته د فهم وړ نه وو. ښایي هغه چا ته چې له یادو مسایلو سره یې سروکار وي او معلومات پکې لري دغه مسایل د فهم وړ وي.
په ټوله کې د ابن خلدون مقدمه یو علمي اثر دی، له درنو، پوهانو او فاضلو لوستونکیو نه مې د زړه له کومې هیله ده چې که په ژباړه کې چېرته تېروتنه ویني له ما (ژباړن) او یا د اکسوس له ادارې سره یې دې شریکه کړي چې په نورو چاپونو کې اصلاح شي.
د دې درانه اثر پر ژباړلو کمپیوټر او سمون ټول ټال ۱۴ میاشتې ولگېدې، که د درنو لوستونکیو لخوا یې هرکلی وشي دا به زما او زما د ټولو هغو همکارانو لویه نېکمرغي وي چې د دې اثر په کمپیوټر چارو سمون او ایډېټ کې راسره ملگري وو، د دوی ټولو ښه منم په تېره د ښاغلي ولي داد خوېشکي، محمد منعیم زماني، نورالحق حیدر، رحمت الله مالیار او محمد عاصم منندوی یم. د اکسوس د ادارې ښه غواړم چې د رغنده او علمي اثارو د چاپ په لړ کې یې درونده خدمت ته اوږه ورکړې او تر اوسه یې ډېر ارزښتناک اثار خپاره کړي دي چې د ځوان کوول د لوست تنده یې پرې ماته کړې ده، د دې درانه اثر د ژباړې پر بشپړېدو بیا بیا د الله ج شکر ادا کوم، په مینه او درنښت.

محمد زبیر شفیقي ــ کابل ــ د خوشال مینې ښارگوټی ۱۳۹۸ ــ د سلواغې ۱۳ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسمه تعالی

# حمد او ثنا

د الله فقیر او د هغه لطف او کرم ته اړ بنده، عبدالرحمن محمد بن خلدون حضرمي عرض کوي چې: الله ج دې همت ورکړي آمین.

ټولې ستاینې د الله ج لپاره دي، په رښتیا چې عزت او کبریایي د ده جل جلاله له لوړو صفاتو څخه دي، هغه داسې عالم دی چې نه د ګونګوسې خبرې ترې پټې پاتې کېږي او نه هغه خبرې چې په چوپتیا کې کېږي. الله د داسې غلبې خاوند دی چې پر ځمکه او اسمانونو یې کوم شی ناتوانه کولای نشي او نه یې د ځواک له دایرې څخه څه شی وتلي دي. هغه موږ له خاورې ژوندي راپیدا کړو او همده موږ پر ځمکه د قومونو او نسلونو په بڼه بسیا کړو. همده زموږ لپاره د روزۍ برخه آسانه کړه. موږ په کورونو او خپلولیو کې راګیر یو، او زموږ د روزي او خوراک ضمانت یې اخستی دی. موږ پر خپل هغه ټاکلي وخت چې راته غوره شوی دی، رخصتېږو (مانا دا چې فناه کېږو). او بقا او دوام یوازې د الله ج لپاره ده. او په اصل کې هماغه ذات تل تر تله ژوندی دی او هېڅ مرګ نه لري.

## پر رحمة للعالمین درود

زموږ درود او سلام دې زموږ محبوب پیغمبر ته ورسېږي چې زموږ سردار دی او مبارک نوم یې محمد صلی الله علیه وسلم دی. هغه اُمي عربي پیغمبر دی چې په تورات کې یې د راتلو زیری ورکړ شوی و. او په انجیل کې یې صفات یاد شوي وو. هغه څوک چې د موجوداتو عالم یې د پیدایښت لپاره ځانګړی شوی دی. او چې لا اونۍ، لسیزې او میاشتې نه وې پیدا شوې، او زحل له حوت «کب» څخه نه ؤ بېل شوی چې د پیغمر په بڼه دی پیدا شوی و.

د ده پر اولاد او کورنۍ او یارانو دې درود او سلام وي، چې د ده مبارک په حضور مشرف شوي او په علم کې پر نورو ځلېدلي دي، او د ده په بریا او ملاتړ کې د زړه له کومي ولاړ وو او دښمن یې د ګډوډۍ او تیت او پرک کېدو ښکار دی. الله ج دې پر ده او د ده پر یارانو بېساري رحمتونه و اوروي. تر هغو چې د مسلمانانو د وحدت رسۍ مضبوطه او د کفر شلېدلې وي. پر هغه دې رحمتونه او سلامونه وي.

## د تاریخ ارزښت

له حمد او درود وروسته لوستونکیو ته عرض دی چې تاریخ داسې فن دی چې امتونه او قومونه یې لاس په لاس ګرځوي او د ترلاسه کولو لپاره یې لرې لرې ځایونو ته سفرونه کوي، په تاریخ کې د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره «عالمان» او «ناپوهان» دواړه سرګردانه دي، په دې کې «پاچاهان» او «نوابان» هم ډېره لېوالتیا ښیي او پر تاریخ د پوهېدو لپاره عالمان او ناپوهان دواړه په هلو ځلو ستومانه دي. ځکه چې ظاهراً تاریخ د جګړو او حکومتونو د خبرونو او د تېرو پېریو له پېښو نه وړاندې نه ځي، په دې کې د نقل قولونو او مثالونو پرېماني وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې چېرته لویه غونډه جوړه شي نو ویناوې یې پر تاریخي روایاتو ښکلې کېږي او تاریخ موږ ته د نړۍ وضعه ښيي چې څه ډول خلک له نازکو پړاوونو راووتل. پر هغوی څه ډول نازک وختونه راغلل او د حکومتونو سیمې او لمنې څه ډول پراخه او ورټولې شوې او هغوی په کوم ډول زیار او هڅو په نړۍ کې ژوند وکړ تر دې چې مرګ ورته راغی او له نړۍ نه یې خپله بستره او کمپله ورټوله کړه.

خو که په ژور نظر ورته وګورو نو په تاریخ کې تحقیقي نظریات هم شته او د کایناتو لاملونه او مبادي هم. او د دغسې پېښو د کیفیت او اسبابو ژور علم هم شته له همدې لامله تاریخ له فلسفې او حکمت څخه سرچینه اخلي او هغه د دې وړتیا لري چې د حکمت په علومو کې شامل کړای شي.

## پر تاریخ لیکونکیو تنقیدي نظر

د اسلام سترو تاریخ لیکونکیو تفصیلي تاریخونه لیکلي او د نړۍ پېښې یې بشپړې لیکلې او په کتابونو کې خوندي کړې دي، خو افسوس چې نابللیو ناپوهو مېلمنو له تاریخ سره دروغ او غلطې افسانې ګډې کړې دي. وهمونه او خیالونه یې راوړي او په کمزوریو او له ځانه جوړو شویو روایاتو یې ښکلې حاشیې لیکلې دي.

بیا را وروسته کسان د دوی په لاره تللي او د تقلید ښکار شوي دي چې کومې پېښې دوی اورېدلې له کمې زیاتي پرته یې موږ ته رارسولې. هغوی د پېښو پر لاملونو «فکر» نه دی کړی او نه یې پر دې پام کړی چې تشې اوازې یې هم نه دي پرېښې نه یې هغو ته معقول ځواب ورکړی دی. لنډه دا چې هیڅ «پلټنه» یې نه ده کړې. په زیاتو پېښو کې د پېښو لړۍ غوټه خوړلې او په خبرونه کې خیال او وهم همګام او همغږي روان دي. تقلید په انساني طبعو کې پوخ شوی دی او ریښې یې خپرې شوې دي. په فنونو کې د نابللیو مېلمنو شور او زور دی او د خلکو خېټو ته د ناپوهۍ واښه ښه نه ور لګي او د هضم وړ نه دي. (نا اهله پر علومو مسلط دي او جهالت په عام ډول په زور کې دی.) خو د حق برلاسي داسې نه ده چې مقابله یې څوک وکړای شي او د باطل شیطان د لوېدونکي ستوري (شهاب ثاقب) په یو سرسري نظر وژل کېږي.

نقل کوونکي یوازې نقل کوي، که رښتیا وي او که دروغ، خو د بصیرت خاوندان غوټې خوري او د اصلي او جعلي توپیر کوي او په «بصیرت» او «پوهه» د زړه پاڼې سپینې، پاکې او رڼې ساتي.

## رښتیني مؤرخین د ګوتو په شمار دي

که څه هم تاریخ لیکونکي ډېر زیات دي او د تاریخ کتابونه هم بې‌شمېره دي. مؤرخینو د قومونو پر لوړتیا او ځوړتیا ډېر څه لیکلي دي، خو کومو چې په ثقه توب کې شهرت او فضیلت ګټلی دی او کومو چې د پخوانیو له اثارو څخه ځانګړي ځانګړي خپلو کتابونو ته را نښتیځلي دي هغوی لږ دي او د لاس په ګوتو شمېرل کېدای شي. لکه ابن اسحق، ابن جریر طبري، ابن کلبي، محمد بن عمر واقدي او سیف بن عمر اسدي او نور دوی مشهور مؤرخین او په څېړونکیو کې سرلاري دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د مسعودي او واقدي په اړه نظر

که څه هم د څېړونکيو او د احاديثو د ربښتينو حافظانو په اند د مسعودي او واقدي په کتابونو کې نيمګړتياوې او عيبونه موندل کېږي او د ستاينې او تنقيد وړ دي، خو ټولو ښاغليو بيا د هغوی خبرونه منلي دي او په کتاب ليکلو کې يې د دوی لاره غوره کړې ده. ټول د هغوی په لاره تللي دي، خو د تنقيدي نظر او بصيرت خاوندان د خپل عقل او پوهې په رڼا کې د دوی په نقل کړيو روايتونو کې توپير کوي چې کوم روايتونه غلط دي او کوم سم؟ ځکه چې تاريخونه له جوړوونکيو طبعو او حالاتو سره ژور تړاو لري او پر همدې اثار او روايات ارزول کېږي.

## په تاريخونو کې د تاريخ ليکونکيو انداز

د هغو زياترو ښاغليو په زياترو تاريخي اثارو کې د عامو خلکو چلن او ليکدود دی، ځکه چې د اسلام په پيل کې چې د امويانو او عباسيانو په واکمنيو کې په نړۍ کې کومه وضعه راغله او کومې پېښې وشوې، په دې تاريخونو کې هغه ټولې شاملې شوې دي او هغه موخې هم چې له پيله تر پايه ترې ترلاسه شوې پکې شاملې دي. په دې مؤرخينو کې ځينې داسې هم دي چې له اسلام څخه پخوا يې د قومونو او حکومتونو عامې پېښې پکې خوندي کړې دي. لکه مسعودي او د مسعودي د سبک پيروان مؤرخين. ور پسې هغوی راغلل چې د عامو پراخو پېښو نه پرته د تنقيد تنکو جونګړو ته ننوتل، هغوی د عامې وضعې د تشريح لپاره پراخ ګامونه واخيستل بلکې د خپل وخت هغه پېښې يې خوندي کړې چې له مازغو څخه د ورکېدو په حال کې وې، د خپلو هېوادونو پېښې يې په تفصيل وليکلې او د خپلو ښارونو او حکومتونو پر پېښو يې تکيه وکړه. لکه ابوحيان چې د اندلس او په اندلس کې د امويانو د حکومت تاريخ ليکونکی دی او ابن رفيق چې د افريقا او د قيروان د حکومت تاريخپوه دی. تر هغوی وروسته هر تاريخ ليکونکی تقليد کوونکی شو چې عقل او فطرت يې نيمګړی و او يا نيمګړی جوړ شوی و، دوی د پخوانيو مؤرخينو د پوهې پر غولي نوي تنابونه وغوړول او د هغوی په غوره کړې لاره يې ګامونه واخيستل. دوی د وخت د وضعې له بدلون څخه بې خبره پاتې شول، پر دې هم و نه پوهېدل چې د ولسونو په عادتونو او اخلاقو کې څومره لوی انقلابونه راغلي دي. دغه ډول مؤرخين د حکومتونو وضعه او د پخوانيو وختونو پېښې داسې رانقلوي چې له محتوا څخه تشې وي. لکه له پوښ څخه چې توره لرې شوې وي. (مانا دا چې د دوی خبرې او ويناوې د پام وړ نه وي.) د دوی له لوري را ټول شوي اوسني او پخواني معلومات د منلو وړ نه وي. هغوی يوازې پېښې ليکلې دي خو د هغو د اصولو د پوهېدو هڅه يې نه ده کړې، داسې شيان يې ليکلي چې د حقيقت له پېژندلو يې ناخبره دي او د هغو د فصلونو توپير يې و نه کړای شو. دوی بيا بيا پېښې له بېلابېلو موضوعاتو سره تکرار کړې او د تېرو مؤرخينو تقليد يې کړی دی. د خلکو د وضعې بدلون ته يې پام نه دی کړی چې وخت د نويو اړتياوو له مخې څه ډول بدلونونه او انقلابونه راوستلي دي. دا ځکه چې دوی ته پر دغه نويو بدلونونو پوهېدل ګران دي. پر دې سربېره کله چې دغه کسان د کوم حکومت وضعه بيانوي نو که رښتيا وي او که دروغ، کټ مټ روايات رانقلوي نه يې په پيل غرض لري

(c) ketabton.com: The Digital Library


لوستونکي چې د دوی اثار لولي د حکومتونو د پیل او نه د زوال. لوستونکي د امتیاز لامل یادوي او نه د زوال. لوستونکي د داسې لاملونو په مرتبو په لټه او د پېښو او لانجو د سببونو په موندلو کې سرګردانه او حیران وي. زه به ان شا الله په دې مقدمه کې دغه ټولې خبرې بیان کړم. موندلو کې ستومانه پاتې وي چې د یوه حکومت د پیاوړتیا او دوام سبب وي.

## د لنډکي تاریخ لیکونکي

په هغوی پسې د هغو مؤرخینو مهال راځي چې ډېر لنډکي او مختصر لیکي او یوازې د پاچاهانو پر نومونو اکتفا کوي. د هغوی به نبیره او نوره وضعه غرض نه لري، یوازې د دوی د حکومت د ورځو پېښې ډېرې سرسرې یادوي لکه ابن رشیق چې په ((میزان العمل)) کې یې دا کار کړی او هغو وزګارو ښاغلیو هم چې همدغه لاره یې غوره کړې ده.

د دوی کتابونه بې اعتباره او بې اسنادو دي او له هغو څخه هېڅ خبره هم د رانقلولو وړ نه ده. څکه چې هېڅ ګټه نه لري او دوی د مؤرخینو له دود او لارو څخه بلکل بېل دي.

## پر تاریخ د یوه کتاب لیکلو اراده

کله چې ما د دغو مؤرخینو کتابونه ولوستل او د پرون او نن ترمنځ مې د توپیر اټکل وکړ نو فطري سترګې مې له خوب او غفلت څخه را ویښې کړې. اراده مې وکړه چې زه به پخپله د تاریخ یو کتاب ولیکم. په داسې حال چې زه تش لاس یم خو د ګټې وټې خبرې کوم. بلاخره مې پر تاریخ یو کتاب ولیکه چې په هغو کې مې د خلکو د پیدایښت له حالاتو پرده پورته کړې ده او په بېل بېل باب کې مې تاریخونه په تفصیل بیان کړل او د حکومتونو او تمدنونو د پیل په سببونو او لاملونو مې رڼا واچوله. ما د دې تاریخ ودانې د هغو قومونو پر تاریخونو ودروله چې په اوسمهال کې په مغرب (المغرب، اوسنی تونس) کې ژوند کوي او د مغرب هر کونج او ګوټ نه خپاره شوي دي. ما د هغوی اوږد مهال او یا لنډ حکومتونه هم بیان کړل او هغه پاچاهان او د هغوی مرستندویان هم چې تر دوی پخوا تېر شوي وو. یانې د عربو او بربرو. څکه چې همدغه دوې قبیلې دي چې د تم کېدو ځای یې پر مغرب ورځي او په مغرب کې په پېړیو پېړیو اوسېدلي دي. تر دې چې په مغرب کې د بل قام د اوسېدو تصور هم نشي کېدای. د مغرب اوسېدونکي د انساني نسلونو څخه له دې دوو پرته پېژندل کېدای هم نشي.

## د تاریخ د ترتیب ځانګړتیاوې او څرنګوالی

ما د دې تاریخ موخې په غوره ډول ترتیب کړې دي او هڅه مې کړې چې د عامو او خاصو د ذهنیت او پوهې له کچې سره برابر وي. د دې د ترتیب او شواهدو لپاره مې عجیبه طریقه غوره کړې ده. د مذهبونو په اړه مې یوه خاصه د بیان ژبه ایجاد کړې ده. د آبادۍ او تمدن بهیر مې په تفصیل راوړی دی. په انساني ټولنه کې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ذاتي عوارضو پېښې په تفصيل بيان کړې چې له هغو څخه لوستونکي د کايناتو د پېښو پر لاملونو او سببونو پوهېدای شي او دا ترې معلومېږي چې واکمن د حکومتونو پر دروازو څه ډول ورننوزي. تر څو لوستونکي له تقليد څخه بېغمه شي او د پخوانيو او وروستيو له پېښو او د نړۍ د قومونو د ورځو او شپو له پېښو په سم ډول خبر شي. ما دغه تاريخ په يوه مقدمه او درې کتابونو کې ترتيب کړی. په مقدمه کې مې د تاريخ د علم پر ارزښت او د مذهبونو پر تاريخ څېړنه بيان کړې ده همدارنګه د مؤرخينو غلطيو ته هم اشارې شوې دي. په لومړي کتاب کې مې د نفوسو او آباديو او د هغو ذاتي ستونزو يادونه کړې چې په يوه هېواد کې د پاچا، کسب او کار، د ژوند د اړتياو او علومو او د هغو په سببونو او لاملونو بحث کېږي.

په دوهم کتاب کې د عربو يادونه ده، د عربو پيدايښت، د دوی نسلونه له پيله تر نن زمانې پورې د عربو ټول حکومتونه بيان شوي دي.

په دې کې د ځينو هغو قومونو او حکومتونو يادونه هم شته چې له عربو سره هم مهاله دي لکه نبطيان، سريانيان، فارسيان، بني اسراييل، قبطي، يونانيان، روميان، ترکان او پيرنګيان.

په دريم کتاب کې د بربريانو او د دوی د آزاد کړای شويو غلامانو «زناته» تفصيل دی.

د هغوی د لومړيو وختونو او د هغوی د قبايلو پېښې دي. په تېره د هغو حکومتونو چې په لويديز (اروپا) کې اوسېدل. بيا يې د ختيځو رڼاګانو د وړانګو د ټولولو لپاره د ختيځو قومونو له کتابونو نه د ختيځو قومونو له پېښو د خبرېدو لپاره ختيځ لور ته مخه کړه. ما د عجم پاچاهانو پېښې هم ور زياتې کړې دي تر څو په تاريخونو کې پاتې کمی هم بشپړ شي او د ترکانو د حکومتونو تفصيل هم چې په شاوخوا کې يې جوړ کړي وو. د دې تر څنګ مې د هغو قبايلو سره د هغوی د هم مهاله کليو او پاچاهانو يادونه هم کړې ده خو ډېره په لنډون په اسانه ټکيو د دوی عامو اسبابو له يادونې سره بيان شوې دي. د تاريخ اسباب په ځانګړې توګه ياد شوي، اوس دې تاريخ له ټولې نړۍ څخه خبرونه راټول کړي دي او حکمتونه پکې راټول شوي د حکومتونو او پېښو لاملونه او سببونه يې هم په خپله غېږ کې خوندي کړي ځکه خو دغه تاريخ د پوهې او حکمت خوندي خزانه او د تاريخي معلوماتو ډېره غوره شتمني ده.

## د کتاب العبر و ديوان المبتدا و الخبر د نومونې سبب

څرنګه چې په دې کتاب کې د عربو او بربريانو د کليو او ښارونو پېښې او د هغو د هم مهاله لويو لويو حکومتونو په لور اشارې دي. د پېښو او خبرونو د پيل او پای، د نصيحتونو او عبرتونو ډېر روښانه درسونه دي. ځکه خو يې ما نوم « د کتاب العبر و ديوان المبتدا و الخبر من ايام العرب و العجم و البربر و من عاصر هم من ذوی السلطان الاکبر » اېښی دی.

ما د قومونو او پاچاهيو د لومړنيو پېښو په لړ کې، د قومونو د هم مهاله پېښو په باره کې او په تېرو پېړيو کې د مذهبونو د انقلابونو او بدلونونو د لاملونو او دلايلو په بيانولو کې او په ټولنه کې په کوم حکومت، ولس، ښار او يا کلي کې چې کوم څه پېښ شوي د عزت او ذلت، پرېمانۍ او يا کمبود، د صنعت علم او يا بوختيا او وزګارتيا،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښاريانو او يا کليوالو هغه عام وضعيت چې رامنځته شوی او يا يې د رامنځته کېدو هيله کېږي، د هغو دلايل او شواهد مې هم راوړي دي. ځکه خو دغه کتاب بېساری دی.

پخپله په دې کې عجيب او غريب علوم هم دي او د حکمتونو فهم ته نږدې زېرمه هم. خو له دې ټولو سره، زه د نړۍ په وړاندې پر خپله بېوسۍ اعتراف کوم، پر خپلو کمزوريو مې باوري يم او دا اعتراف کوم چې د تاريخ حق مې ادا نکړای شو. د بصيرت له خاوندانو او په علومو او پوهنه کې د پراخ نظر له خاوندانو مې هيله ده چې دوی زما دغه اثر په تنقيدي نظر ولولي، په نېک نظر نه. په دې کې چې کومې غلطۍ مومي هغه دې اصلاح کړي او سترګې دې پرې پټې نه کړي. د علماؤ په منځ کې زما شته کوټه دې کره نه دي، قصور مې له ملامتۍ د ژغورنې لار ده او له ورونړو نه د يوه ورور هيله ده. الله ج ته دعا کوم چې موږ د خپل لوړ ذات په لوربينه مخلصان کړي. آمين هغه جل جلاله موږ ته کافي او تر ټولو غوره چاره ساز دی.

## سلطان عبدالعزير ته د تاريخ د يوه ټوک ډالۍ

کله چې ما دغه کتاب بشپړ کړ او د بصيرت لټون کوونکيو ته مې يې په بې ساري ډول وځلاوه او ډېوه مې يې بله کړه او په علومو کې مې يوه عامه لاره روښانه کړه او د پوهنې په ډګر کې مې لاره ورته پرانيستله او د دې ګلبڼ ځلورو لوريو ته مې دېوال را وګرځاوه، نو يو ټوک مې يې مولانا سلطان، امام، مجاهد، فاتح، اميرالمؤمنين ابو فارس عبدالعزيز بن مولانا سلطان معظم ابوسالم ابراهيم شهيد بن مولانا سلطان مقدس اميرالمؤمنين ابوالحسن مريني کتابتون ته د ډالۍ په توګه واستولو.

## د سلطان ستاينې او ځانګړتياوې

ياد سلطان عزتمن له وړکتوبه او د ځوانۍ له زمانې د تقوا او پرهېزګارۍ په ګاڼه سنبال دی او د سپېڅلو صفتونو، لوړو اخلاقو او عادتونو ښکلی ځادر يې اغوستی چې د ښکليو تر امېل ډېر ښکلی دی. دی د پخې او مرستندويې ارادې خاوند او د لوړ بخت څښتن دی. د عزت لوړې درجې يې ګټلې او د پياوړيو بنسټونو خاوند هېواد ته د حسن او ښکلا سبب دی. د ده درجې او مرتبې لوړې دي او په بېلابېلو علومو کې برلاسی دی. د تيت پرک پوهې او مشکلو پوښتنو پر حل برلاسی دی... د بېلاريو د اصلاح لپاره هر اړخيز او د نړۍ د غلطيو د سمون هوډمن، د پخوانيو خطرونو له منځه وړونکی او زمانې ته د نوې ځوانۍ د خوښيو او تازګيو جامه ور اغوندي. دوی د الله ج داسې دليل دی چې د انکار کوونکيو له انکار او د مخالفينو له بدګومانيو څخه زيان نه ويني.

## د مرين کورنۍ تعريف

آل مرين هغه څوک دي چې دين يې نوی کړ او د حقانيت لټوونکيو ته يې د نويو لارو بنسټ کېښود. ياغيان، لنډه غر او فتنه ګر يې وځپل. الله ج دې پر محمدي امت د دوی سيوری تل لري او د اسلام په دعوت کې دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مقدمه

د تاریخ ارزښت، د مذهبونو د تاریخ څېړنې، د مؤرخینو غلطیو ته اشارې او د غلطیو پر لاملونو څغلنده نظر

### د تاریخ ارزښت

په یاد ولرئ چې د تاریخ علم یو عزتمن او د لوړې کچې، ډېر ګټور او د شریفانه موخې لرونکی فن دی. ځکه چې دا موږ ته د تېرو وختونو او قومونو پېښې او حالات بیانوي، د پیغمبرانو «ع» پر کړو وړو او عادتونو مو خبروي او په حکومتونو او سیاستونو کې د پاچاهانو د وضعې په باب معلومات راکوي چې که څوک په کومه دیني او یا دنیاوي برخه کې د هغوی پر پله درومي، نو بشپړه ګټه ترې واخلي.

## په تاریخ کې د غلطیو لاملونه او سببونه

په دې کې د بې شمېره سرچینو، د ډول ډول علومو او پوهنو، د حسن نظر او د تایید د رایې اړتیا ده، تر څو د ژور فکر او نظر خاوندانو لوستونکیو ته حق روښانه کړي او دوی د حق په رڼا کې له غلطیو او نیمګړتیاو خوندي شي. ځکه چې که په پېښو کې یوازې د هغو په رانقلولو اعتماد وشي او د عادت اصول، د سیاست قواعد، د مدنیت فطرت او د ټولنې حالاتو ته نظر ونشي او شته په نشتوالي او حاضر پر غایب قیاس نکړای شي، نو په هغو کې د ډېرو غلطیو او نیمګړتیاو سره له نښې لارې څخه د کږېدو امکان پر ځای پاتې وي. ځکه خو د مؤرخینو، مفسرینو او د روایت له استاذانو څخه په کیسو او نکلونو کې ډېرې غلطۍ له همدې لامله شوې چې دوی که سم دي او که غلط یوازې د روایاتو په نقلولو یې قناعت کړی دی. پېښې یې د هغو د اصولو له مخې نه دي ارزولې، پر شکونو او ګومانونو یې قیاس نه دی کړی او نه یې د حکمت او فلسفې پر کچ او مېچ ارزولې دي. نه یې د کایناتو پر فطرت ارزولې، نه یې پر هغو ژور او په خلاصو سترګو نظر اچولی دی. پایله دا چې دوی سمه لاره ورکه کړې او په اوهامو او غلطیو کې سرګردانه او ورک شوي دي. په تېره د مالونو او پوځ په شمېر کې یې ډېرې غلطۍ کړې دي. کله چې د دوی د داستانونو یادونه راغله، څرنګه چې په کیسو او داستانونو کې د دروغو احتمال زیات وي او د چټیاتو شتون پکې ډېر دی، ځکه خو داستانونه د اصولو او قواعدو له مخې باید وارزول شي.

## د تاریخي غلطیو څو مثالونه

### لومړی مثال

وګورئ مسعودي او زیاتو مؤرخینو د اسراییلي پوځ په اړه ویلي دي چې د تیه پر ډګر حضرت موسی علیه السلام له ۲۰ کلونو نه د لوړ عمر ځوانان وشمېرل نو شپږ لکه تنه بلکې تر دې هم زیات وو. خو د مصر او شام د سیمې له اټکل نه په دې خبره کې غلطي شوې چې دومره پوځ په هغو هېوادونو کې ځاییدای هم شي که نه؟ ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هر هېواد دومره پوځ ساتي چې سنبالولای او ځایولای یې شي او دوی یې لګښتونه ورکړای شي. تر اندازې زیات پوځ نه په یوه هېواد کې ځاییدای شي او نه یې لګښتونه پوره کولای شي.

له دغسې دعوې سره په هېواد کې د عام دود له مخې د هغوی ترمنځ د جګړې پېښېدل له عقل څخه لرې خبره ده. ځکه چې کله پوځونه مقابلې ته ودرېږي او د دوی ترمنځ د سترګو د ځار دوه یا درې چنده زیات واټن وي نو بیا دواړه پوځونه څه ډول جنګېدای شي؟ یا د یوه پر بل غلبه څه ډول شوني ده. په داسې حال کې چې د یوه لوري پوځ د بل لوري له پوځه هېڅ خبر نه دی، حال د ماضي ځرګونه راته ښيي او ماضي کټ مټ د اوسمهال په څېر ده. د فارس هېواد تر اسراییلو ډېر لوی و او د هغه حکومت پر اسراییلو بریالی شو نو هغه د دوی په هېواد کې ډېر مرګونو او ورانۍ وکړې. هر څېرته یې لوټ او تالان ګډ کړ. له هغوی نه یې حکومت ونیو او هېواد یې لاندې کړ. او بیت المقدس چې د دوی د مذهب او ځواک ستنه (پایه) وه او پلازمېنه یې و لوټه لوټه کړ. بخت نصر د فارس د حکومت تابع ؤ او ویل کېږي چې نوموړی د لوېدیځ سرحد مشر و او د ټولواکۍ په حدودو کې یې عراق، خراسان، ماورالنهر او ابواب شامل وو. د هغه د امپراتورۍ ساحه د اسراییلو د حکومت تر ساحې ډېره پراخه وه. بیا هم د فارس د لښکرو شمېر هېڅکله هم دومره نه و لکه د اسراییلي پوځ چې یاد شوی دی او نه د هغو د شمېر په شاوخوا کې و. د دوی تر ټولو زیات لښکر چې د قادسیې پر ډګر راټول شوی و د سیف بن عمرو په قول یو لک او شل زره تنه و. چې د دوی تر لاس لاندې تر دوه لکه زیات ځوانان وو، له حضرت عایشې صدیقې «رض» او زهري څخه روایت دی چې د رستم پوځ چې حضرت سعد «رض» د قادسیې پر ډګر ماته ورکړه یوازې شپېته زره تنه وو. پر دې سربېره که بني اسراییل دومره شمېر ته رسېدلي وای نو د دوی د واکمنۍ ساحه به هم پراخه شوې وه او هېواد به یې ډېر پراخ شوی و. ځکه چې د حکومتونو ساحه او هېواد د پوځونو او د وګړو د شمېر او نفوسو له شمېر سره تړلې وي. «موږ پر دې موضوع په لومړي کتاب کې د هېوادونو په څېرکې کې رڼا اچوو. ان شا الله؛ په داسې حال کې چې د یهودو قوم په شام کې د اردن او فلسطین له حدودو او په حجاز کې د یثرب او خیبر له حدودو نه دی پراخ شوی او دا مشهوره خبره ده.

پر دې سربېره د څېړونکیو په اند د حضرت موسی «ع» او حضرت یعقوب «ع» ترمنځ یوازې څلور پښته واټن دی. ځکه چې (۱) حضرت موسی «ع» بن عمران (۲) بن یصهر بن (۳) قاهت (۴) بن لاوي بن (۵) یعقوب «ع» دی. د حضرت یعقوب «ع» لقب اسراییل دی او په تورات کې یې همدغه نسب دی. او د مسعودي د روایاتو له مخې د دواړو ترمنځ دوه سوه او شل کاله واټن دی. مسعودي لیکي چې کله اسراییل له خپلو زامنو او لمسیانو سره مصر ته ننوتل هغه مهال اویا تنه وو او په مصر کې مېشت شول. بیا چې کله له حضرت موسی «ع» سره د تیه میدان ته راغلل نو په مصر کې دوه سوه او شل کاله اوسېدلي وو. په دې موده کې قبطي فرعونانو پر دوی حکومت کاوه، ځکه خو دا عقل نه مني چې په څلور پُښتونو کې د دوی شمېر دومره زیات شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یوه شک ځواب

که د هغوی دا گومان وي چې دغه شمېر د حضرت سليمان «ع» په زمانه کې او له هغه وروسته و، نو دا هم د عقل پر خلاف ده. ځکه چې د حضرت سليمان او حضرت يعقوب «ع» ترمنځ ۱۱ پښته دي. د هغو نسب په دې ډول دی:

حضرت سليمان ع د داود عليه السلام زوی، بن يشا بن عوفيذ (عوفذ) بن باعز (بوعز) بن سمعون بن عميوذب (حمينا ذاب) بن رم بن حصرون (حسرون) بن بارس (بيرس) بن يهودا بن يعقوب عليه السلام. په ۱۱ پښتونو کې اولاد دومره نه زياتېږي لکه چې هغوی ښودلی دی. تر سلگونو او زرگونو پورې رسېدای شي. خو له زرگونو وړاندې لکونو ته رسېدل يې ناشوني دي. که تاسو د اوسنۍ زمانې پر عيني واقعيتونو او په نژدې مشهورو واقعيتونو قياس وکړئ، نو د دوی د غلط اټکل او د روايتونو دروغ به ډېر ښه درته څرگند شي. له اسراييلياتو نه ثابتېږي چې د حضرت سليمان عليه السلام پوځ له ۱۲ زه تنو ځوانانو څخه جوړ و، د دوی خاص کسان زر تنه او څلور سوه اسونه يې درلودل. چې د دوی په دروازو کې به تړلي وو، دغه روايت عقل مني او د عامو خلکو بېځايه خبرې د پام وړ نه دي. د حضرت سليمان عليه السلام د حکومت مهال د اسراييلو د حکومت د عروج دوران ؤ او هغه ښه پراخ و ځکه خو دغه ټکی په ياد وساتئ.

## معمولاً خلک د څه شي شمېر ډېر ښيي

موږ د خپلې زمانې زياتره خلک گورو چې کله د خپل وخت او يا نږدې ماضي د حکومت د لښکرو شمېر يادوي يا د مسلمانانو او عيسويانو د پوځونو د شمېر يادونه کوي يا د ماليې او خراج مال شمېرې يا د شتمنيو د لگښتونو او د دوی د وسايلو او سامانونو يادونه کوي نو په شمېر کې له مبالغې زيات کار اخلي او د دوديزو عادتونو له حدودو پښه اړوي، د خاصو خبرو د وړاندې کولو لپاره د گومانونو او اټکلونو پيروي کوي.

کله چې بيا د پوځونو په باب راجسترونه وپلټل شي او د شتمنيو د سامان او وسايلو او د دوی د لگښتونو په باب څېړنه وشي او د رييسانو او نوابانو د لگښتونو حساب کتاب وشي، نو د هغه ښودل شويو شمېرو لسمه برخه هم ثابته نشي. د دغه مبالغې لامل دا دی چې خلک له عجايبو او غرايبو سره په زړه کې مينه لري، دوی د خبرې د پلټونکيو په کيسه کې نه وي او سمدستي داسې څه وايي چې پخپله يې هم په غلط او رښتيا فکر نه کوي. په خبرونو کې د روايت کوونکيو او د هغو د عدالت او رښتينولي خيال نه ساتي او هغه څېړنې او نقد ته نه اچوي. هغوی د ژبې واگې سست پرېږدي او د دروغو په ورشو کې ژبه څرولو ته پرېږدي. د الله ج پر ايتونو ملنډې وهي او خلک د الله ج له لارې نه د بېلارې کولو لپاره د ناروا لوبو خبرې رانيسي. تر دې لويه د زيان معامله به نو بله کومه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تبابعه په باب یو غلط خبر

د مؤرخینو له خیالي پېښو څخه یوه همدغه پېښه هم ده چې زیاترو مؤرخینو د تبابعه «د یمن او عرب پاچا» په باب رانقل کړې ده چې نوموړي له یمن «خپل وطن څخه» پر المغرب سیمو «افریقا او بربریانو» بریدونه کول او دا هم چې افریقش بن قین بن صیفي د یمن د لومړنیو پاچاهانو څخه یو ډېر لوی پاچا تېر شوی چې د حضرت موسی علیه السلام په زمانه کې او یا تر هغه لږ وړاندې وخت کې یې ژوند کړی دی. نوموړي پر افریقا یرغل وکړ او بربریان یې ووژل او پر هغوی «بربر» نوم هم ده ایښی دی. کله یې چې د دوی ګونګوسې واورېدلې نو وې ویل «ما هذه البربرة» دا بربر څه شی دی؟ له همدې څخه همدغه نوم را واخیستل شو او له همدې ورځې دغه قوم بربریان وبلل شول. دا هم چې کله هغه له مغرب څخه بېرته راستون شو نو په مغرب کې د حمیر ځینې قبیلې پاتې شوې او بیا همالته مېشت شول او له ځایي اوسېدونکو سره ګډ شول چې په هغو کې صنهاجه او کتامه حمیري قبیلې دي. ځکه خو طبري، جرماني، مسعودي، ابن کلبي او بیلي وایي چې صنهاجه او کتامه حمیري قبیلې دي، خو د بربریانو تېرپوهان دا نه مني او همدغه خبره رښتیا ده. مسعودي هم دا لیکلي دي چې ذوالا ذغار تر افریقایانو مخکې پاچاهان له یمن څخه دي او د سلیمان علیه السلام هم مهاله دي. هغوی پر مغرب یرغلونه وکړل او هغه یې فتح کړ. همدارنګه تر هغه وروسته د هغه د زوی یاسر په اړه یې لیکلي، دا چې هغه په مغرب کې د رمل تر سیمې مخکې لاړ خو په دښتو کې یې لاره و نه موندله له مجبورۍ بېرته را وګرځېد.

## د اسعد ابوکرب په باره کې یو غلط خبر

(اسعد ابوکرب) په باب چې د یستاسف هم‌مهاله و (یستاسف د فارس له کیاني پاچاهانو څخه دی) وایي چې هغه موصل او آذربایجان ونیول. له ترکانو سره وجنګېد او هغوی یې مات کړل او لوټماري یې وکړه. بیا یې همدغسې دوهم ځلي او درېیم ځلي بریدونه وکړل. د هغه درې زامنو د فارس پر سیمه د سعد په ښارونو کې چې د ترکانو له ښارونو څخه دي او د ماوراالنهر ښارونه کېږي او د روم پر ښارونو یرغلونه کول. یو زوی یې تر سمرقنده ځمکې ونیولې او ځنګلونه او دښتې یې لاندې کړې تر چین پورې لاړ چې هلته له خپل بل ورور سره یو ځای شو چې تر ده مخکې یې سمرقند تر پښو لاندې غوبل کړی و او چین ته رسېدلی و. دواړو وروڼو په چین کې لوټ او تالان ګډ کړ او دواړه د غنیمت له مال سره بېرته راستانه شول او د چین په سیمو کې یې د حمیر ځینې قبیلې پرېښودې چې تر ننه هلته ژوند کوي. درېیم ورور تر قسطنطنیې پورې ورسېد هغه یې ویجاړه کړه او د رومیانو ټوله سیمه یې فتح کړه. په فاتحانه شان بېرته راستون شو.

دغه ټولې پېښې رښتیا نه دي په دروغو او خیالونو کې ډوبې دي او زیاترې جوړې شوې افسانې دي. څرنګه چې د تبابعه حکومت د عربو په ټاپو کې و او پلازمېنه یې د یمن صنعا وه. د عربو ټاپو وزمې درې لوریو ته سمندر دی، جنوب ته د هند سمندر دی، ختیځ ته د عربو سمندرګی دی چې تر بصرې پورې غځېدلی او لویدیز لور ته د «سویز» سمندر دی. چې د «مصر تر سویز» پورې غځېدلی، لکه چې د جغرافیې له نقشې څخه ښکاري له یمن څخه د لویدیز لور ته له سویز نهر پرته بله لاره نشته او د سویز د نهر او د شامي بحر په منځ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه پړاوه او یا تر هغو لږ کم واټن دی. دغه خبره په عقل کې نه راځي چې کوم لوی پاچا به له خپل زړور پوځ سره په دې لاره تېر شي په داسې حال کې چې دغه سیمه به یې په واک کې هم نه وي. دغه خبره د عادت خلاف ده، هغه مهال پر دې سیمه (شام او مصر) د عمالقهؤ او کنعانیانو واک و. مصر د عمالقه ؤ په واک کې ؤ او بني اسراییل پر سوریه واکمن وو. هېڅکله هم له چا دا روایت نه دی شوی چې تباعه له دې قومونو څخه پر کوم یوه کوم وخت حمله کړې وي او نه کله د دې سیمو پر کومه برخه دوی تسلط موندلی. پر دې سربېره له یمن نه د سمندر پر لاره مغرب ته سفر ډېر اوږد دی، په دومره اوږده سفر کې د ډېر لښکر لپاره خوراک څښاک او د دوی اسونو او څارویو ته د خوراک ډېره زیاته اړتیا وي. کله چې دوی له پردیو هېوادونو تېرېږي نو ډېر فصلونه به ویجاړوي، څاروي به لوټوي او له کوم ځای نه چې تېرېږي نو ډېره لوټماري به کوي. بیا به هم د دوی او د دوی د څارویو د خوراک اړتیا نه پوره کېږي. او که ټول د اړتیا وړ سامان له خپل هېواده ورسره راوړي نو د دومره ډېر سامان د راوړو لپاره به یې ګاډي څه ډول چمتو کړې وي. له مجبورۍ به دا وایو چې دوی له کومو سیمو تېر شوي له هماغه ځایه به یې په لوټ او تالان ځانونو او خپلو څارویو ته خواړه لاسته راوړي وي او دغه سیمې به یې فتحه کړې وي چې دومره ستر پوځ چې له کومو سیمو تېر شوی له هغو به یې په سوله خواړه او اړتیا وړ توکي ترلاسه کړي وي او هغوی به یې بلکل ځورولي نه وي. دغه خبره بیا عقل نه مني او سخته ناشونې ده. بلاخره باید ووایو چې دغه ټولې خبرې ډېرې کمزورې او له ځانه جوړې شوې دي. په غرب کې چې د کومو دښتو یادونه شوې چې مسافر له سفره را ګرځېدو ته اړ کوي، د هغو یادونه په مغرب کې د کوم مسافر او لاروي څخه نه ده اورېدل شوې، په داسې حال چې د سفر کوونکیو او لاره ښوونکیو او یو او بل لور ته د سپرو د تګ را تګ او د مغرب په هر ګوټ کې د خلکو د اوسېدونکیو په هره دوره کې ښه ګڼه ګوڼه وه.

پاتې شوه پر ترکانو او د ختیځ پر سیمو د یمن د یرغل خبره. دا هم له عقله لرې خبره ده. که څه هم د ختیځ لاره د سویز د نهر تر لارې ډېره اوږده او پراخه ده خو سفر ډېر اوږد او لرې دی او فارس او روم د یمن او ترکانو په منځ کې پراته دي او هېڅکله هم کوم تاریخپوه نه دي لیکلي چې تبابعه یو وخت پر فارس او روم برلاسي موندلې وه. تبابعه د فارس له خلکو سره یوازې د عراق په سرحدونو کې شخړې کولې او په هغو سیمو کې هم چې په بحرین، حمیر او د جزیرې په منځ کې د فرات او دجلې ترمنځ سیمې دي. لکه چې د یمن د پاچا د ذوالاذعا د (تبع اکبر) او د ایران د پاچا تر منځ او دا هم ویل کېږي چې د کیکاوس اذر ابوکرب (تبع اصغر) او ګشتاسب د فارس پاچا ترمنځ جګړې شوې. بیا نو کیاني او ساسانیانو له پاچاهانو وروسته د تبابعه ؤ جګړې د نورو هېوادونو له پاچاهانو سره چې د فارس تر پاچاهۍ ټوپ واچوي پر تبت او ترکستان یرغل ور وړي د عادت له مخې ناشونې ده. څکه چې پردي قومونه یې په مخه کې پراته دي. سفر اوږد دی او د سفر او اذوقې وسایلو ته ډېره اړتیا ده. څکه خو دغه ډول پېښې هسې چټیات او له ځانه جوړې شوې کیسې دي. که دغه کیسې رانقل شوې په امانت هم وای بیا به هم لاندې خنډونه پکې وو او د هغو د صحت مانع به وو. اوس چې دغه روایتونه صحیح هم نه دي او اسناد او شواهد هم نه لري نو د هغو په دروغو کې شک له کومه شي. د یثرب د اوس او خزرج په تړاو ابن اسحق رانقلوي چې تر ټولو مخکې تبابعه پر ختیځ یرغل راوړ. په غالب اټکل د هغه موخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فارس او عراق ښارونه دي، د تبت او ترک پر سیمو د تبابعه د یرغلونو روایتونه صحیح نه دي لکه چې پاس مو یې یادونه وکړه. ځکه خو که دغسې خبرې واورې باور مه پرې کوه او له فکر او ارزونې وروسته پرې قضاوت کوه. چې د الله ج حکم هم دا دی چې خبرې اورې نو ښه فکر پرې کوه او بیا پرې رایه ورکوه.

## د ارم پلټنه

تر دې هم زیات د عقل خلاف او له باوره لرې هغه روایت دی چې مفسرینو د (بعاد ارم ذات العماد) په تفسیر کې نقل کړی دی او د ارم لفظ یې د یوه ښار نوم بللی دی. د هغو صفت یې داسې بیان کړی چې پر ستنو ولاړ و. وایي چې د عاد بن عوص بن ارم دوه زامن وو شدید او شداد. چې له عاد نه وروسته پاچاهان شول. بیا شدید مړ او ټول هېواد شداد ته ور پاته شو او نور پاچاهان د هغه تابع شول. یو ځل یې د جنت ستاینې واورېدې. وې ویل چې زه به د جنت په څېر جنت جوړ کړم. بیا یې په عدن دښته کې په درې سوه کلونو کې ارم ښار جوړ کړ. شداد نهه سوه کاله عمر درلود. ارم یو ډېر لوی ښار و چې مانۍ پکې له سرو زرو او ستنې له زبرجدو او یاقوتو جوړې وې. په دې ښار کې هر ډول ونې موندل کېدې او هر لوري ته ویالې پکې بهېدلې. چې کله د شداد جنت بشپړ شو نو دی د حکومت له جگپوړیو چارواکیو او علماو سره د هغو د لیدو لپاره ور روان شو. چې د ۲۴ ساعتونو مزل پاتې شو نو الله ج پر هغه د اسمان له لوري یوه چیغه نازله کړه او ټول مړه شول. په مفسرینو کې دغه پېښه طبري، ثعالبي او زمخشري او نورو لیکلې، دې ښاغلیو له عبدالله بن قلابه صحابي څخه روایت نقل کړی چې هغه د خپل اوښ په موندلو پسې را وتلی و او ناڅاپي پر دې ښار ور برابر شو او له هغه ځایه یې چې څومره توان درلود سره زر او جواهر یووړل. بیا حضرت معاویه «رض» خبر شو او هغه یې ور وغوښت. حضرت عبدالله «رض» ټوله کیسه ورته وکړه. حضرت معاویه کعب احبار را وغوښت او له هغو څخه یې د دې ښار په اړه د څېړنې غوښتنه وکړه. وې فرمایل دا هماغه ښار دی چې په فجر سوره کې یې د «اِرَمَ ذَاتِ العِمادِ» یادونه شوې. دې ته به یو مسلمان ننوځي چې د هغه رنګ به سور وي، قد به یې وړوکی وي او په وروځو کې به یې یو خال وي، بل خال به یې پر غاړه وي او هغه به د خپل اوښ په لټون پسې را وتلی وي او دلته به راشي. چې حضرت معاویه «رض» فکر وکړ په ابن قلابه کې دغه ټولې نښې وې او بې اختیاره یې وویل: په الله ج سوګند! هغه سړی همدی دی. وګورئ د ځمکې پر مخ د دې ښار د نښو او ځای په باب هېڅ هم هېڅ ونه ویل، د عدن دښته چې ویل کېږي چې په هغو کې دغه ښار ودان شوی و د یمن په منځ کې ده چې یو پر بل پسې هلته خلکو ژوند کړی او اوسېدلي دي. او لاره ښوونکیو هر لوري ته لارې ایستلې او پرې تلل راتلل. خو هېڅ هم تر اوسه د دې ښار په باب کوم روایت نه دی نقل کړی. نه یې کوم مؤرخ یادونه کړې نه کوم قام د داسې یوه ښار یادونه کړې ده. که دغه خلک وایي چې د دې ښار ټول اثار او نښې له منځه وړل شوې بیا هم دا عقل منلی شوای، خو د دوی له خبرې خو داسې ښکاري چې دغه ښار اوس هم شته دی. د ځینو په اند دا دمشق ښار دی چې عادیانو هغه لاندې کړی و. بلکې د ځینو اوتې بوتې تر دې پورې رسېدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دغه ښار يې پټ کړی دی او د رياضت او جادو خاوندانو ته معلومېږي. غرض دا دی چې دا ټول فاسد او بې بنسټه خيالونه دي.

## د ارم په اړه د مفسرينو د تېروتنې سبب

مفسرين عربو دې اوتو بوتو ته هڅولي دي، ځکه چې په ترکيب کې د ذات العماد لفظ د ارم صفت دی او عماد د ستنو په مانا دی له همدې ځايه ارم د ودانۍ په مانا راغی. د ابن زبير په قرائت کې عاد د ارم سره اضافت دی. له دې نه د ده خيال هم تائيدېږي. وروسته مفسرينو ځينې نکلونه وموندل چې د دروغو افسانو حيثيت لري. دا د هغو دروغو روايتونو څخه دي چې په مسخره کيسو کې شمېرل کېږي. اصلاً لعماد د خېمو او کېږديو ډانګونو ته وايي او که له عماد څخه مطلب ستنې وي بيا هم د ارم قوم د دې صفتونو خاوند بلل چې هغوی ودانۍ او ستنې درلودې دا کومه خاصه خبره نه ده. ځکه چې هغوی په خپل ځواک او دبدبه مشهور وو. خو دا له کومه معلومه شوه چې ارم يو ځانګړې شاهي ماڼۍ ده چې په يوه خاص ښار کې ده. که دغه لفظ د ابن زبير په قرائت کې له اضافت سره راغلی هم دی نو دا داسې اضافت لکه د کورنۍ اضافت چې د قبيلې په لور وي لکه کنانه قريش. الياس مضر، او نزار ربيعه چې ويل کېږي. نو دغه له احتماله لرې خيالي افسانې او دلايل آخر د کومې اړتيا له مخې دي. له دغسې نکلونو نه د الله ج سپېڅلی کتاب پاک دی. ځکه چې دا له رښتياو څخه ډېر لرې دي.

## پر برمکيانو د رشيد د غوسې غلط لامل

د مؤرخينو له جوړو شويو نکلونو څخه يو هغه هم دی چې پر برمکيانو د هارون الرشيد د غوسې د لامل په باب راوړل شوی دی. دا د هارون الرشيد د خور عباسې او د هارون الرشيد د آزاد کړای شوي غلام جعفر بن يحی بن خالد د مينې داستان دی. چې هارون الرشيد له زړه څخه غوښتل چې عباسه له جعفر سره د ده د شرابو په محفل کې حاضره وي، ده دواړو ته د نکاح اجازه ورکړه خو د دواړو د يوازيتوب مخه يې نيوله. خو عباسه د جعفر په مينه کې ډوبه وه، ځکه يې د يوازې ديدن لپاره پر يوه تدبير فکر وکړ او جعفر له عباسې سره (د هغه په ګومان نېشې په حالت کې) وخت تېر کړ. عباسه حامله شوه او پر دې هارون الرشيد هم خبر شو چې هغه سخت پرې غوسه شو او برمکيان يې ټول له دندو برطرف کړل. ډېر د افسوس ځای دی، يوه لور ته د عباسې ديني مقام او د هغې درناوی او د هغې د مور او پلار مذهبي مرتبه بل لوري ته داسې ناوړه کار؟ عقل دا نه مني. معلومه ده چې عباسه څوک ده؟ عباسه د حضرت عبدالله ابن عباس لمسۍ ده. د عباسې او حضرت عبدالله ابن عباس ترمنځ يوازې څلور پُښته دي او څلور واړه له حضرت عبدالله وروسته د دين او ملت ستنې، شريفان او مشران دي. عباسه د محمد مهدي لور، د عبدالله ابوجعفر منصور بن محمد سجاد لمسۍ د علي کړوسۍ او د عبدالله يانې د قرآن د ترجمان ابن عباس کودی ده. د خليفه لور ده او د خليفه خور ده او حکومت له عزتمندو، د نبوي خلافت څخه د رسول په مينه کې را ايساره، د مذهب درناوی، د وحی رڼا، د پرښتو را نازلېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library


څلورو لوریو ته مسلط چاپېریال مالامال دی. د دوی مهال د عربو کلیوالي او دیني سادگی ته ډېر نږدې او د عیاشیو او له شرمه ډکو گناهونو نه ډېر لرې دی. که د هغې په پاک لمنی او پاکی داغ ولگیږي نو هېڅ پاک لمني، پاکي او حیا به پاتې شي. چې له دې کورنی نه پاکي او ابرو ووځي نو پاکي او ابرو به چېرته ترلاسه شي. بلاخره د هغو نبیره له جعفر بن یحی سره چېرته وصل کېدای شي. دا کله خپل عربي شرافت له یوه عجمي غلام سره چې نیکه یې د فارس ؤ داغدار کولای شي؟ او د خپل نیکه د غلام له لاسه کله خپله پاک لمني ناولې کولای شي. د دې نیکه هم هغه څوک چې د رسول الله «ص» د کاکا سعادت یې په برخه دې او د قریشو له شریفانو څخه دی. د جعفر د عزت اوج دا دی چې عباسي حکومت هغه او د هغه د پلار عزت څو چنده کړی و. هغه یې له غلامی نه وژغوره او د شریفانو مقام ته یې ورساوه او د لوړتیا بام ته یې وخېژاوه.
نو بیا هارون الرشید له جعفر سره خپښی ته څه ډول راضي کېدو چې یو عجمي غلام و. په داسې حال کې چې رشید د لوړ همت خاوند، د لوړ زغم څښتن او له خلفاو څخه و او د هغوی له مشرانو څخه یو دی. که څوک د فکر او غور خاوند د انصاف له نظره وگوري او عباسه د خپل وخت د کوم لوی پاچا له شهزادگی سره پرتله کړي، نو له دغسې پېښې څخه به پخپله هم وشرمېږي. او هغه به دا و نه زغمي چې د داسې یو لوړې مرتبې خاونده شهزادگی نکاح دې حکومت د یوه داسې آزاد کړای شوي غلام سره وکړي چې د حکومت عادي رعیت گڼل کېږي. بلکې دغه کیسه به په هره ممکنه لاره دروغ وبولي او له هرې زاویې به یې دروغ ثابته کړي. چېرته عباسه او د هارون الرشید لوړ مقام او چېرته یو عادي غلام.

## د برمکیانو د زوال اصلي لامل

د برمکیانو د زوال سبب همدغه دی چې هغوی په خپلواک ډول پر حکومت منگولې ټینگې کړې او خزانه یې په خپلو لاسو کې واخیسته. خبره تر دې ورسېده چې که به هارون الرشید د خپلې اړتیا لپاره یو څه غوښتل هغه به هم نه ورکول کېدل. برمکیان د ده پر حکومت برلاسي شوي وو او له ده سره په واک کې شریک شوي وو. او هارون الرشید ته له دوی سره د حکومت په چارو کې واک هم پاتې نه شو. هغوی سترې کرسی د خپلې کورنی سردارانو ته سپارلې وې او ولایتونه یې خپلو پالل شویو کسانو ته وېشلي وو. نو وړ کسان یې له وزارتونو، ماموریتونو، میرزاتوب، مشری، کوتوالی او د تورې او قلم له مقامونو بې برخې کړي وو. ویل کېږي چې د رشید په کور کې د یحیٰ د کورنی ۲۵ تنه مشران وو چې ټول د تورې او قلم خاوندان وو او د حکومت د ارکانو تر څنگ اوسېدل او هغوی یې سوکه سوکه لرې کول، ځکه چې رشید، یحیٰ تر پالنه لاندې ستر شوی و. یحیٰ د ولي عهدی پر مهال هم د هغه کفیل و او د خلافت پر مهال هم. تر دې چې د هغه تر پالنې لاندې ځوان شو او د هغه په کور کې د خلافت پر تخت کېناست او یحیٰ پر خلافت راخپور او مسلط شو. رشید هغه ته پلار جان ویل. بیا چې کله د رشید پام د برمکیانو په لور ور واوښت او ده ډېر اخلاص ورسره وښود نو په خلکو کې د هغوی عزت او لویوالی تر لرې لرې پورې خپور شو. د خلکو نظر برمکیانو ته ور واوښت او د هغوی په وړاندې یې سرونه ټیټ شول. د خلکو اړتیاوې پر همدوی پورې غوټه شوې او همدوی ته له لرې لرې پاچاهانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوغاتونه او ډالۍ را رواني شوې، اميرانو سوغاتونه ورکړل آن تر دې چې په چالاکۍ او دوکه له شاهي خزانې نه مالونه د دوی خزانو ته ورتلل. دوی له شاهي خزانو نه خپلې هميانۍ ډکې کړې او پر خپلو خپلوانو يې د سوغاتونو بارانونه واورول. د هغوی غاړو ته يې د خپلو احسانونو غړوندي ور واچول. د شريفو کورنيو کسان يې له دندو لرې کړل او بې وزلو ته يې مقامونه ورکړل. بنديان يې خوشي کړل. شاعرانو به د دوی په ستاينه کې داسې قصيدې ويلې چې د خليفه په شان کې هم نه وې ويل شوې. هغوی هغه چا ته چې څه به يې ترې غوښتل په خلاص لاس، سره او سپين ور ښښل. دوی د ښارونو پر شاوخوا او د هېواد د ټولو ښارونو په حدودو کې جايدادونه ترلاسه کړل آن تر دې چې د برمکيانو رازداران هم پر دې خپه وو او دوی پخپلو کې هم يو پر بل رخه کوله. علماو او د رايې او نظر خاوندانو چې دغه حالت ليدو له زړونو يې وينې څڅېدې. په هر صورت د دوی پر خلاف په عامو او خاصو کې د دښمنۍ او کينې اور په لمبو شو.

خلك له هغوی سره مخالف شول شکايتونه يې وکړل تر دې چې د قحطبه کورنۍ، د جعفر ماما د شکايت کوونکيو سردار و او د هغه هېڅ رحم پرې رانغی څکه چې د هغوی په زړونو کې کومې کينې ځای ونيو د رحم احساسات يې لاندې کړل بيا نه خپلوۍ دوی له شکايت را وګرځول او نه کوم بل څه.

بل لور ته د برمکيانو خپل پالنې او خپلواکو اقداماتو د هارون الرشيد په زړه کې د غيرت او شرم احساسات نور هم را وپارول. لنډه دا چې د هغوی پر خلاف کينه او رخه له وړوکو وړوکو خبرو را پيدا شوه، کله چې دوی پر خپل حالت ټينګار وکړ نو کينې په لويو مخالفتونو بدلې شوې. د ساري په توګه د يحیٰ بن عبداله بن حسن بن علي بن ابي طالب کيسه چې د مهدي ورور دی او نفس ذکيه لقب ورکړای شوی و. هغه چې د منصور پر خلاف بغاوت کړی و دا هماغه يحیٰ و چې فضل بن يحیٰ يې د هارون الرشيد امن ليك ور وښودو ديلم سيمې ته يې ور وباله. د طبري په قول په هغه يې لس لکه درهم ولګول. رشيد هغه جعفر ته سپارلی و. او د جعفر په کور کې د هغه تر څارنه لاندې نظر بند شو. جعفر تر يوې مودې پورې هغه نظر بند وساته بيا جعفر د رشيد له حکم پرته خوشی کړ. تر څو د ده په اند د اهل بيتو د وينې درناوی پر ځای شي. هغه دې ته هم پام کاوه چې سلطان تل د ده ناز وړي څکه خو به په دې کار خپه نه شي. کله چې رشيد د يحیٰ له خوشې کېدو خبر شو له جعفر نه يې پوښتنه وکړه. هغه ورته وويل چې ما خوشې کړ. رشيد د هغه په مخکې هغه مهال خوښ شو وې ويل چې ښه کار دې کړی دی، خو په زړه کې له جعفر نه خپه شو. په دې ډول جعفر د ځان او خپل قوم په لاره کې ازغي وکرل. بيا وضعه تر دې پورې ورسېده چې د برمکيانو د عزت چت را ولوېد، د سترګو په رپ کې اسمان پرې را پرېوت او ځمکې دوی او د دوی کورونه ونغړل. او د دوی حالت د راتلونکيو لپاره د عبرت بېلګه شول. که څوك د دوی وضعه مطالعه کړي او د حکومتونو عادتونه او د برمکيانو عادتو په دقت و ارزوي نو دا به ورته معلومه شي چې د دوی د کړو وړو طبيعي پايله همدا وه. او د برمکيانو د زوال لاملونه همدغه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د برمکیانو د زوال لوی لامل شاهي غیرت دی

وګورئ هارون الرشید د خپل بابا له تره داود بن علي سره د برمکیانو د زوال په اړه کې لیکونه استولي، هغه ابن عبدالله په العقد کې رانقل کړي دي. اصمعي چې له رشید او فضل بن یحیٰ سره په دې لړ کې کومې خبرې او روغبړ کړی دی چې په العقد کې په باب الشعر کې ابن عبدویه رانقل کړې دي پر دې به هم تاسو پخپله وپوهېږئ چې د برمکیانو د زوال تر ټول ستر لامل شاهي غیرت او دښمني ده او د اهل حل و عقد غیرت هم دی. دا پر رشید غالب شو چې د خپلې خبرې په مخ کې یې د هغه حکم ته اعتنا نه کوله. همدغسې د هغوی په زوال کې هغه لاملونه او توطیې هم شاملې وې چې د دوی خپلو دوستانو د دوی پر خلاف جوړولې. داسې چې خلیفه ته یې د اورولو لپاره او د دې لپاره چې هغه د خپل غیرت د ساتنې لپاره په جوش راولي په پټه یې سندرغاړو ته دغه شعر ور وښود:

لیت هندا انجز تنا ما تعد و شَفَّتْ اَنْفُسَنَا مِمَّا نَجِدُ

هندې چې له موږ سره کومه ژمنه کړې درېغه پوره یې کړي او موږ یې له هغه ستونزو ژغورلي وای چې پرې اخته یو.

و استبدت مرة واحدة

انما العاجز من لا یستبد

یو ځل هغه استقلال څرګند کړ. بې وسې هغه ده چې پر استقلال برلاسې نه وي.

کله چې رشید دغه شعرونه واورېدل بې اختیاره یې وویل هوکې په الله تعالی سوګند! دا زه یم. لنډه دا چې خلکو دغه ډول توطیې جوړې کړې تر څو د خلیفه پټ غیرت په جوش راشي، هغوی د برمکیانو پر خلاف خلیفه کسات ته را وپاراوه. د خلکو له غلبې او بدې وضعې نه د الله تعالی پناه غواړم.

## پر هارون الرشید یو دروند تور

دا کومه افسانه چې جوړه کړای شوې چې رشید د شرابو ډېر شوقي او د محفل له یارانو سره به تل د شرابو په خمار کې ډوب و. ماشا الله موږ په هغه کې بدي نه ده لیدلې د رشید له داسې بې حیایۍ سره څه کار و. هغه خو د خلافت دنده په ډېره دینداري او عدالت سر ته رسوله. هغه له علماو او اولیاو سره ناسته پاسته درلوده. که به چې شرابو او بېلاری ته مخه کولای هغوی یې په مخه کې درېدل. پر دې سربېره رشید له فضیل بن عیاض، ابن سماك او عمري سره مجلسونه کول، له سفیان ثوري سره یې د لیکونو اړیکې درلودې، د هغه نیك وعظونه به یې چې اورېدل وسره ژړل به یې، د طواف پر مهال به یې دعاګانې کولې، په عبادت کې به بوخت و. پنځه وخته لمونځونه یې کول او د سهار لمانځه ته به په اول وخت کې حاضر و.

طبري او نور لیکي چې هارون الرشید د ورځې سل رکعته نفل لمونځ کاوه. هغه به یو کال په جهاد کې بوخت و او یو کال به یې حج کاوه. یو ځل یې ابن ابې مریم چې ده ته به یې ټوکې کولې رټلی هم و. کیسه داسې وه: هارون الرشید په لمانځه کې «و مالی لا اعبد الذي فطرني» آیت لوستی و نو دې ټوکې وویل (والله ما ادری

(c) ketabton.com: The Digital Library



لم؟) (په خدای چې نه پوهېږم ولې!) وویل. رشید چې دا واورېدل خندا یې را قابو نکړای شوه وې خندل. بیا یې سلام وگرځاوه، پر ټوکي په غوسه شو ورته وې ویل: ابن ابي مریم! باخبر په لمانځه کې ټوکې مه کوه. بیا په لمانځه او د قرآن په تلاوت کې دا کار ونه کړې. په نورو وختونو کې اختیار لرې چې هر څه کوې.

## رشید عالم او سادگي خوښوونکی و

پر دې سربېره رشید عالم او د ساده مزاج خاوند و. څرنگه چې د ده زمانه سلف ته نږدې ده او د سلفو د دین په مزاج او سادگۍ کې لوړ مقام دی هغه ټولو ته معلوم دی. د ده او د ده د نیکه ابوجعفر په منځ کې زیات توپیر نه و.

## په دیني علم کې د منصور مقام

له منصور نه رشید وړوکی پاتې شو او هغه وفات شو. منصور چې په دیني علم کې تر خلافت مخکې او له خلافت وروسته مقام لري، منصور امام مالك ته د موطا د لیکلو مشوره ورکړې وه او ورته ویلي یې وو ای ابو عبدالله! نن د ځمکې پر سر تاسو او ما نه لوی عالم نشته. زه خو د خلافت په چارو کې بوخت وم نو ځکه ته د خلکو لپاره یو کتاب ولیکه چې خلك گټه ترې واخلي په دې کې د ابن عباس له رخصتونو «آسانیو» او د ابن عمر له «توندۍ» څخه ډډه وکړه. خلکو ته پر احادیثو د کتابونو لاره پرانیزه. امام مالك (رح) فرمایي پر الله تعالی سوگند! په همغه ورځ منصور زما پام د کتاب لیکلو ته ور واړاوه.

## د منصور تقوا

د رشید پلار مهدي به لیدل چې منصور خپلو بچیانو او مېرمنې ته له بیت المال څخه له نویو جامو له جوړولو ډډه کوله. یو ځل مهدي، منصور ته ورغی وې لیدل چې هغه له خیاط سره ولاړ دی او د خپلو بچیانو پر زړو جامو پیوندونه لگوي. مهدي چې دا ولیدل وشرمېد او وې ویل ای امیرالمؤمنین! سږ کال به زه پخپلو پیسو خپلو بچیانو ته نوي کالي وگنډم. وې فرمایل ته اختیار لرې. منصور، مهدي له دې ارادې منع نه کړ خو د مسلمانانو له مال نه یې د ماشومانو پر جامو د لگښت جرئت هم ونه کړ. نو چې رشید له دغه خلیفه سره دومره په نږدې زمانه کې اوسېده او خلیفه یې نیکه هم و او د دوی په کورنۍ کې په دغسې تقوا روزنه ورکول کېده او دغه ډول اخلاق یې په زړونو کې ریښې کړې وې نو دوی څه ډول د شرابو محفلونو مینه وال کېدای شي او څه ډول یې برالا ښنبلای شي؟

## د جاهلیت په زمانه کې له شرابو نه د عربو د شریفانو ډډه کول

په داسې حال چې د جاهلیت په زمانه کې د عربو شریفانو له شرابو پرهېز کاوه، بله دا چې انگور د دوی په سیمو کې نه پیدا کېدل او شراب ښنبل په ډېرو عربو کې عیب بلل کېدل. رشید او د هغو مشرانو له دیني او دنیاوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدیو نه په پرهېز کې لوړ مقام درلود او په دوی کې د عربو ښېګڼې او ښه خویونه او د مشرتابه صفات ډېر زیات وو.

## له شرابو نه د رشید پرهېز

طبري او مسعودي د جبریل بن بختیشوع طبیب یوه پېښه لیکي چې یو ځل د رشید دسترخوان ته کبان راغلل، طبیب رشید د کبانو له خوراکه منع کړ او پخوونکي ته یې حکم وکړ چې دغه کبان د دوی کور ته یوسي، رشید وپوهېد پر ده د طبیب شك پیدا شوی و. پټ یې خدمتګار ته وویل چې لاړ شه وګوره چې طبیب پخپله کبان خوري که نه. خدمتګار ولیدل چې طبیب کبان خوړل. طبیب د خپل سپیناوي لپاره د کبانو درې ټوټې په درې پیالو کې واچولې، په یوه کې یې مسئله داره غوښه، سابه او ترکاري او مربا ورګډه کړې وه، په دوهمه پیاله کې یې یخې اوبه ور واچولې او په درېیمه کې یې خالص شراب ور واچول. پخوونکي ته یې وویل چې په هغو دوو پیالو کې د امیرالمؤمنین خواړه دي، خو له کبانو سره دې څه شی نه وي. په وروستۍ کې د امیرالمؤمنین د طبیب خواړه دي. بلاخره کله چې امیرالمؤمنین را ویښ شو او را جګ شو د رڼلو په نیت یې طبیب را وغوښت. طبیب پخوونکي ته غږ وکړ او درې واړه پیالې یې را وغوښتې. د شرابو په پیاله کې کبان خاشه خاشه شوي او حل شوي وو. په دوو نورو پیالو کې خوسا شوي وو او بد بوی ترې اوچتېده. رشید چې دغه مناسب عذر ولید او په سترګو یې هر څه ولیدل نو چوپ پاتې شو. له دې نه ښکاري چې رشید له شرابو سخت پرهېز کاوه له شرابو څخه د هغه کرکه د ده نږدې کسانو، خدمتګارانو او پخوونکي ته معلومه وه. هغه د ابو نواس شاعر په باب چې خبر شو چې تل شراب څښي دا ژمنه کړې وه چې زندان ته به یې اچوي، تر دې چې هغه له شرابو توبه وکړه.

## رشید نبیذ څښل

رشید د کجورو نبیذ څښل، د عراق اوسېدونکي هغه روا بولي او په هغو کې دغه فتوا په خلکو کې عامه ده چې «نبیذ» هغه مهال حلال دي چې نښه پکې نه وي. چې کله ځوښ او ځګ پکې راپورته شي نو نښه پکې را پیدا کېږي بیا دا حرام دي ځکه چې هر نشه لرونکی حرام وي. پر رشید د سوچه شرابو څښلو یوازې تور پورې دی. یوازې پر آوازو باور او د خلکو په منځ کې د اورېدلو خبرو منل د عقل د خاوندانو په اند ښه کار نه دی. رشید داسې څوك نه ؤ چې د ملت په اند دې تر ټولو لویه ګناه وکړي. دغه کورنۍ بشپړه د خوراك څښاك، جامو او ګاڼو او سینګار په برخه کې له عیاشیو ډېره کوله، ځکه چې دوی شډل کلیوال او پر دیني سادګۍ ولاړ وو چې اوس له خپل پخواني عادت څخه نه شوای ګرځېدای. دوی نو بیا د روا پر ځای ناروا او د حلالو پر ځای د حرامو لور ته چېرته ګام اوچتولای شوای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اموي او عباسي خليفه ګانو د تقوا يو ساری

مؤرخينو طبري او مسعودي او نور پر دې متفق دي چې د بني اميه ټولو پخوانيو خلفاؤ او بني عباس خليفه ګانو د خپلو سپرليو خورجينې، زينونه او خپلې تورې معمولي او يوازې د سپينو زرو کارولې، تر ټولو وړاندې يې چې د سرو زرو شيان وکارول هغه معتز بن متوکل و چې له رشيد وروسته اتم خليفه و.

په جامو کې هم د هغو همدغه حال و. دا خو پرېږده چې په خوراك څښاك کې دې دوی له حد څخه پښه واړوي. په دې دعوه کې زموږ د دغو څرګندونو څخه هم زيات پخپله د حکومت د پيل د وختونو وضعه دا ښه روښانوي چې په دې زمانه کې پر حکومت د سارايي ژوند د کم لګښت روحيه غالبه وه. داسې چې د لومړي کتاب په مسايلو کې به رڼا پرې واچوو ان شاالله. الله تعالی هدايت کوونکی او ښه لارښود دی.

## پر مامون او يحیٰ ابن اکثم تور

دې ته ورته چرنديات او يا دې ته نږدې هغه داستان دی چې ټولو مؤرخينو د مامون د قاضي يحیٰ بن اکثم او مامون په باب رانقل کړی دی. دا چې دغه قاضي شرابي و او شراب يې ډېر څښل. يوه شپه يې ډېر شراب وڅښل چې نشه يې نه تله تر دې چې په ريحان کې يې ښخ کړ. تر څو چې په هوښ نه و راغلی خلکو دغه اشعار ويل:

يا سيدی و اميرالناس کلهم

قد جارنی حکم و من کان يسقينی

ای زما او ای د خلکو اميره! پر ما چې هغو شراب څښلي په خپله پرېکړه کې يې ظلم کړی دی.

انی غفلت عن الساقی فصيرنی

کما ترانی سليب العقل و الدين

ما له ساقي نه غفلت وکړ

او چې ګورې يې هغه عقل او دين را نه يووړ

## د مامون او ابن اکثم دينداري

په داسې حال چې د مامون او ابن اکثم حالت هم رشيد ته ورته دی، د هغه شراب نبيذ وو او نبيذ د دوی په اند حرام نه وو. په نښه کې مستبدل د دوی د شان خلاف ده. اکثم له مامون سره چې تړاو درلود هغه يوازې د ديني دوستي و. دغه خبره ثابته ده چې ابن اکثم له مامون سره په يوه کور کې ويده کېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مامون فضلیت

د مامون د فضلیت او د ښه چال چلن په لړ کې دغه پېښه رانقل شوې چې یوه شپه تږی شو، را ویښ شو جګ شو چې چېرته د اوبو کوزه په کراره پیدا کړي. وېره یې له دې وه چې ابن کثم را ویښ نشي. دا هم ثابته ده چې د سهار لمونځ به دواړو یو ځای ادا کاوه. نو چېرته دومره دینداري او چېرته د شرابو پیالې!

## یحیٰ بن اکثم د لوړې کچې محدث و

پر دې سربېره یحیٰ بن اکثم د لوړې کچې محدث و او امام احمد او قاضي اسماعیل غوندې لویانو یې ستاینه کړې ده. ترمذي په خپل اثر ترمذي کې له هغه نه روایت راوړی. حافظ مزني فرمایلي دي چې بخاري له بخاري پرته یوازې له هغه نه روایت کوي، ځکه خو پر هغو بد ویل پر دغو ټولو لویانو بد ویل دي.

## پر نوموړي قاضي یو دروند تور

بې‌شرمه کسان پر هغو دا تور هم پورې کوي چې نوموړي له هلکانو سره لېوالتیا درلوده. پر دې شرمناك تور پر الله تعالی هم بهتان راځي او پر علماؤ هم. مؤرخینو دغه پېښې له کیسه ویونکو واعظانو روایت کړې چې له سند پرته رښتیا او دروغ کیسې بیانوي. غالباً به پر یحیٰ دغه تور د ده دښمنانو لګولی وي، ځکه چې له هغه سره د ده د ذاتي کمال او له پاچا سره د دوستۍ په سبب کینه کېدله. په داسې حال کې چې د نوموړي علمي مقام او دیني مرتبه له دغه ډول تورونو څخه پاکه ده. یو ځل د امام احمد په مخکې هم د دغه تور یادونه وشوه. نوموړي وفرمایل: سبحان الله! دغه تور چا پورې کړی، هغه دغه تور ډېر په کلکه رد کړ، یو ځل یې قاضي اسماعیل ډېره ستاینه وکړه، یو چا د هغه د عیب خبره هم وکړه چې تور پرې لګول شوی و. له الله تعالی څخه پناه غواړو چې ستاسو په خبر دښمنانو او کینه ګرو په بد ویلو به عدالت له منځه لاړ شي. دا یې هم وفرمایل چې یحیٰ بن اکثم د الله تعالی په مخکې له دې نه پاك دی چې څه ورپسې ویل کېږي او د هلکانو په لور د لېوالتیا کوم تور چې پرې لګېږي هغه بلکل بې بنسته دی. زه د هغو په باطني وضعه ښه پوهېږم. ما هغه له خدایه وېرېدونکی انسان لیدلی دی.

### د دې تور لامل

نوموړي مجلسي او ټوکي طبیعت درلود. له همدې لامله پرې دغه تور پورې شو. ابن حیان هم هغه ثقه منلی او فرمایلي یې دي چې هغو تورونو ته چې پرې لګول شوي پام مه کوئ، ځکه چې په هغو کې زیاتره دروغ دي.

## د زنبیل حدیث

له دغه ډول غلطو داستانونو څخه هغه هم دی چې ابن عبدویه د عقد الفرید لیکوال بیان کړی دی، دغه داستان د زنبیل د حدیث په نامه یادېږي او د حسن بن سهل له لور پوران سره د مامون د اړیکې او واده سبب ښودل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي دی. وايي چې يوه شپه مامون د بغداد په کوڅو کې ګرځېده، هغه يوه ټوکرۍ وليده چې چا له يوه بام نه را ځړولې وه. ټوکرۍ د وريښمو په مضبوطو تنابونو ټينګه وه. مامون پر تنابونو بروسه وکړه او کلك يې ونيول. تنابونه چا پورته کش کړل او هغه يې يوه محفل ته بوتلو، د محفل پوښتنه مه کوه د ودانۍ ښکلي انځورونه او سينګار، ښکلي فرش غوړېدلي چې زړونه وړي. په دې کې له پردې نه يوه ډېره ښکلې او ګلالۍ نجلۍ راووته چې په ښکلا کې بېسارې وه. مامون ته يې په ډېر ادب او درناوي سلام وکړ او ترې وې غوښتل چې که ته نن شپه زموږ سره د شرابو په محفل کې شريك شې نو دا به مو ستره نېکمرغي وي.

مامون له هغې سره درومي او کرۍ شپه د شرابو پيالې ګرځي. مامون په دې ښځه زر زړه بايلي. سهار خپلو ملګرو ته ورځي، ځکه چې هغوی په هماغه ځای کې د مامون په انتظار وو. دې مينې مامون مجبور کړ چې حسن ته له دې نجلۍ سره د واده پيغام واستوي. اوس نو چېرته دغه ډول بې حيايي او خرمستي او چېرته د مامون تقوا او ښکاره دينداري، علم او د خپلې کورنۍ د رواياتو درناوی، دغه بشپړې کورنۍ د راشده خلفا کړه وړه او خويونه غوره کړي وو چې د اسلام پخې ستنې وې.

پر دې سربېره مامون له علماؤ نه د مسايلو څېړل هم غوښتل او په لمانځه او شرعي احکامو کې د الله تعالی د حدودو له ساتونکيو څخه و. دوی ته د فاسقانو او سپين سترګيو له لوري داسې کړه وړه چېرته منسوبېدای شي چې هغه به د شپې په کوڅو کې ګرځېده او کورونو ته به ورننوت، د شرابو محفلونو او د نکلونو اورولو په بنډارونو کې به ناست و. بيا د حسن بن سهل د لور د مقام او شرف نه هم او د ښکلا او پاکۍ او پرهېزګارۍ نه هم دغه کيسه دروغ ښکاري. په هر صورت دغه ډول مثالونه ډېر دي او د تاريخ کتابونه پرې ډك دي.

## د دروغو داستانونو جوړولو يو لامل

په حقيقت کې د دغسې کيسو د جوړولو يو لامل حرامې عياشۍ او د پرده دارو با پته ښځو د بې عزته کولو بوختياوې دي. خلك د لذتونو او خپلو هيلو د پوره کولو لپاره چې کوم څه کوي پر هغو د پردې اچولو لپاره د نورو په باب دغه ډول داستانونه جوړوي. د همدې لپاره به لوستونکي وګورې چې دغه ډول داستانونه بيانوي او په کتابونو کې هم په همدغسې داستانونو پسې ګرځي. دربغه دوی نورې خبرې او د کمال او ښېګڼو بېلګې وړاندې کولای چې د دوی د مشرانو د لويي او شان سره ښايي. دا به څومره ښه وای. که دوی عقل او هوښياري لري نو همدغه يې په خير ده.

## يوه شهزاده ته نصيحت

ما يوه ورځ يوه شهزاده ته نصيحت وکړ چې د موسيقي علم د زده کړې او له تارونو سره د سندرو ډېر شوقي و. ما ورته وويل چې دغه شيان ستا له شان سره نه ښايي او ستا له مرتبې سره وړ نه دي. هغه ويل ته ابراهيم بن مهدوي نه وينې چې هغه په خپله زمانه کې د دې هنر سرلاری او د سندرغاړو مشر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما وویل افسوس! تا ولې د هغه د ورونو او پلار پیروي و نه کړه؟ آیا پر دې دې فکر کړی چې ابراهیم د هغوی مقام ته نشي رسېدای؟

دا یې چې واورېدل شهزاده حیران شو او څه ځواب یې رانکړای شو او مخ یې را نه واړاوه. الله تعالی چې چا ته وغواړي هدایت یې په نصیب شي.

## آیا د عبیدیانو خلیفه گان له اهل بیت څخه وتلي

د هغو بې بنسټه خبرو څخه یوه دا هم ده چې زیاتره مؤرخین د قیروان او قاهرې شیعه خلیفه گان عبیدین له اهل بیتو څخه وتلي بولي او وایي چې د امام اسماعیل بن جعفر صادق له اولادې څخه نه دي. دوی پر هغو خبرو استدلال کوي چې د کمزوریو عباسي خلیفه گانو د دوستۍ او د هغوی د خوښۍ ترلاسه کولو په منظور جوړې کړای شوې دي. تر څو دوی د خپلو دښمنانو عیبونه واوري او خوښ شي. او د دې عیبونو ویونکي د خلیفه گانو په زړونو کې ځای نیسي. موږ به دغه ډول یو څو خبرې د هغه وضعې د بیان لپاره راوړو. دغه دروغ جوړوونکی د پېښو پر هغو شواهدو او دلایلو سترگې پټوي چې په ښکاره د دوی کیسې دروغ ثابتوي او دوی ردوي. څرنگه چې د شیعهؤ د حکومت د پیل په اړه د مؤرخینو پر دې اتفاق دی چې کوم وخت په کتامه کې ابوعبدالله محتسب یې د امام رضي له اولاده وباله او دا مشهوره شوه او د عبدالله مهدي او د هغه د زوی ابوالقاسم پر خلاف د دوی له فعالیتونو خبر شول نو دوی دواړه ووېرېدل او له ختیځ نه چې د دوی د خلافت محل و وتښتېدل. دواړه له مصر نه تېر شول او له اسکندریې د سوداگرو په جامه کې لاړل. د دوی خبر د مصر او اسکندریې حاکم عیسی نوشري ته ورغی. هغه په دوی پسې څو تنه سپاره واستول. هغو سپرو دوی را لاندې کړل خو په بدله جامه کې یې و نه پېژندل، ځکه خو دوی د مغرب لور ته لاړل. معتضد په قیروان کې د افریقا د اغالبه امیرانو او د بني قدرار سجلماسه امیرانو ته اشاره وکړه چې د هېواد گوټ گوټ پسې چاڼ کړي او هغوی لاس ترلي ور واستوي. بلاخره له بني مدراوو څخه د سجلماسه حاکم الیشع ته هغه ځای چې دوی پکې پټ وو معلوم شو. هغه د خلیفه د خوشاله کولو لپاره هغوی دواړه ونیول. په داسې حال کې چې د شیعه تحریک په قیروان کې د اغالبه تر غوږو نه و رسېدلی. تر دې وروسته یې په مغرب او افریقا کې تحریک زور ونیو. بیا یې په یمن کې، وروسته اسکندریې او بیا مصر، شام او حجاز ته دغه تحریک خپور شو او هلته چې څه پېښې شول ټولو ته معلومه ده، هغوی د عباسي خلافت نیمایي هېوادونه ونیول، داسې ښکاریده چې دغه شیعه گان به د هغوی په کورونو ورننوځي، اړ دوړ به جوړ کړي او حکومت به ختم کړي.

په بغداد او عراق کې د دوی د تحریک پیلوونکی امیر بساسیري و چې نوموړی د دیلم آزاد کړای شوی غلام و. بني دیلم پر عباسي خلیفه گانو مسلط وو او د هغوی او د عجمو امیرانو ترمنځ خپگان راغلی و. له همدې لامله هغوی [redacted]

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابرېدل د نسب دروغ دعوه دار ته څه ډول برابرېدای شي؟

## د دروغجنو راز زر افشا کېږي

د قرمطي حالت پرتله کړئ څرنګه چې هغه په دروغو د نسب دعوه کړې، ځکه يې تحريك زر ختم شو. پيروان يې تيت او پرك شول او خلك په لږ موده کې د دوی په خباثتونو خبر شول. بيا يې پای ډېر خراب و او د خپلو ناوړو کړنو وبال يې تر غاړې شو. که د عبيديين معامله همدغسې وای نو پايله به يې هم هماغسې وه که څه هم اوږده موده وروسته به پېژندل شوي وو.

و مهما يکن عند امری من خليقه

و ان خالها تخفی علی الناس تعلم

"(او چې په انسان کې کوم څه وي، دی ګومان کوي چې له خلکو به پټ وي خو هغوی پرې خبرېږي.)"

يانې هېڅ خبره پټه نه پاتې کېږي. يو وخت افشا کېږي. دا چې د دوی حکومت نږدې ۲۷۰ کاله دوام درلود او هغوی پر مکه معظمه او مدينه منوره هم واك درلود. غرض دا چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم وطن، د هغه صلی الله عليه وسلم د خاورو ته سپارل کېدو ځای، د حاجيانو د اوسېدو ځای (عرفات) او د پرېښتو د راکوزېدو ځای د دوی تر واك لاندې وو. بيا يې پر حکومت زوال راغی په دې ټوله موده کې شيعه ګانو د دوی اطاعت کاوه. بلکې د دوی د حکومت له ختمېدو وروسته چې د دوی نښې او اثار هم له منځه لاړل هغوی څو ځله د خپل تحريك د غوړېدا لپاره د هغوی د زامنو په نوم بغاوتونه وکړل. ځکه چې دوی پوهېدل چې د خلافت حقداران همغوی (عباسيان) دي. د خپلو لومړنيو امامانو له وصيت سره سم يې هغوی د خلافت لپاره نومول. که دوی د هغوی په نسب کې د يوې ذرې شك درلودای نو د هغوی سره به يې په مرسته ځانونه په خطر کې نه وو غورځولي. ځکه چې د نوي تحريك پيلوونکي خپل تحريك شکمن نه پرېږدي او نه دوی پخپله په خپل تحريك شك کوي او چې څوك کومه نوې لاره غوره کړي دوی هغه غلطه ګڼي.

## قاضي ابوبکر باقلاني عبيديان سيدان نه مني

قاضي ابوبکر باقلاني چې له متکلمينو سره د مناظرې امام او سردار دی د حيرانۍ خبره ده چې د هغه دغه جرحه شوي او ضعيف روايت ته څنګه پام شو او ولې يې منلی. که د دې لامل دا وبلل شي چې هغه بې دينه او سرتمبه رافضي و نو دغه خبره د تحريك په پيل کې د هغه نسب باطل کوونکی نه دی. که دی د سم نسب خاوند وي او په کفر کې مړ شي نو نسب به يې په کار را نشي. الله تعالی نوح عليه السلام ته د هغه د زوی په اړه وفرمايل: «ان ليس من اهلك...» هغه ستا له کورنۍ نه، نه دی ځکه چې کړه وړه يې ناوړه دي. ځکه خو د داسې څه غوښتنه مه کوه چې علم يې درسره نشته. حضرت رحمة للعلمين، حضرت فاطمې بي بي ته نصيحت وفرمايه: فاطمې! نېك عمل وکړه ځکه چې زه د الله تعالی له عذاب څخه ستا په کار نشم درتلای. که څوك په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه خبره پوه وي او پر هغو يې باور وي نو دا پرې لازمه ده هغه ووايي. الله تعالی حق خبرې فرمايي او هغه تعالی سمه لاره ښيي.

## د شيعه ګانو د پټېدو سبب

شيعه (آل فاطمه) هغه مهال په ډېرو ستونزو کې راښکېل وو، ځکه چې خلافتونو له دوی نه کرکه کوله او دوی د ياغيانو او لنډغرو په لاس کې وو، ځکه چې د بني عباس پلويان ډېر وو او د هېواد هر ګوټ ته تيت شوي وو. تر څو په هېواد کې د دوی تحريک پياوړی شي. له همدې لامله يې بيا بيا بغاوتونه کول. په دغسې وضعه کې که شيعه ګان پټ شوي نه وای نو وژل شوي به وو. بلاخره هغوی ځانونه پټ کړل او داسې ترې تم شول چې د درك لګول يې ګران وو.

فلو تسال الايام ما اسمی ما درت

و اين مکانی ما عرفن مکانيا

«که ته له زمانې وپوښتې چې زما نوم څه دی نو د هغو هم زما نوم نه دی زده او که دا ترې وپوښتې چې چېرته اوسېږم هغه زما پر ځای خبره نه ده.»

تر دې چې د عبيد الله مهدي د نيکه امام محمد بن اسماعيل لقب مکتوم (پټ شوی) شو، هغه ته يې پيروانو دغه لقب ورکړ ځکه چې ټول د هغه پر پټېدو متفق وو. دا ځکه چې د حکومتونو له لوري هغه ته خطر و. له همدې لامله د بني عباس پلويانو د دوی د واکمنۍ پر مهال د هغوی پټېدل د د دوی د نسب د پېغور او کنځلو لپاره پلمه کړه. پر دې يې کمزوريو خليفه ګانو ته ځانونه نژدې کړل. پر دې د دوی هغه دوستان او د حکومت اميران هم ډېر خوښ شول چې له دښمنانو سره په جګړه کې ښکېل وو. څرنګه چې پر دوی په شام، حجاز او مصر کې برلاسي شوي وو او د عبيدين پلويان او د هغوی د تحريك فعال غړي وو. په کسات او دفاع کې د ناکامۍ د داغ د لرې کولو لپاره يې آن د بغداد له قاضيانو څخه د هغوی د نسب د انکار فتوا واخيسته او د عزتمندو شريفانو يوې ډلې چې په هغو کې شريف رضي، د هغه ورو مرتضیٰ او ابن بطحاوي، له علماو څخه ابوحامد اسفزاييني، قدوري، ضميري، ابن اکفائي، ابيوردي او ابو عبدالله نعمان د شيعه و فقهي شامل دي. په عامه ګڼه ګوڼه کې يې د هغوی پر دروغجنۍ شاهدي ورکړه. دغه پېښه پر ۴۶۰ هجري کال وه چې د قادر بالله د حکومت زمانه وه، د دغو ښاغلو شهادت د اورېدو پر بنسټ و. ځکه چې د بغداد په خلکو کې دغه عامه آوازه وه چې د هغوی نسب له اهل بيت سره ثابت نه دی. د بغداد زياتره خلك د بني عباس پلويان وو او د هغوی نسب يې نه مانه. مؤرخينو هم چې خبره څنګه واورېده هماغسې يې وليکله او د خپلو يادښتونو سره سمه يې روايت کړه، که نه حقيقت د دې پر خلاف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عبیدالله د رښتیني نسب په اړه شاهدي

معتضد چې د عبیدالله په باره کې په قیروان کې ابن اغلب او سجلماسه کې ابن اقدار ته کوم لیکونه لیکلي هغه د ده د نسب په رښتینولی ډېر رښتیا شاهد او د لمر په څېر روښانه دلیل دی.

## د حکومت له لوري د اهل بیتو سره د نسب نښلول منعه وو

معتضد هر سړی له دې نه منعه کړی و چې خپل نسب له اهل بیتو (د پیغمبر له کورنۍ) سره ونښلوي. حاکم او پاچا نړۍ ته د بازار مثال لري، چې هلته علوم او صنعتونه له هر لوري راټولیږي. دلته پټ حکمتونه لټول کېږي او همدلته د روایتونو او خبرونو اسونه ځغلي.

که په پاچاهانو کې دغه شیان وچلیږي نو په عامو خلکو کې هم چلیږي. که حکومت له کوږوالي، ملاتړ، ناپوهۍ او ناراستۍ څخه پاک وي او په سیده لاره روان وي او یوې او بلې خوا ته نه کږیږي نو د هغو په بازارونو کې سوچه زر چلیږي. د دې پر خلاف که غرضي وي او د حسد جذبه پکې زیاته وي او په هغو کې یاغي او خپلسري سوداګر ورننوتلي وي نو کوټه سکې به هم پکې چلیږي، خو د هوښیارانو نظر ښه محک دی او د عدالت او نیاو ترازو ده چې سم له ناسمو څخه بېلوي او پېژني یې.

## د ادریس د نسب پېغور

دې ته ورته بلکې تر دې هم ډېر د عقل خلاف ادریس بن ادریس بن عبدالله بن حسن بن حسن بن علي بن ابي طالب (چې له خپل پلار وروسته د مغرب اقصی امام شو) په نسب کې د مؤرخینو پېغور دی، هغه هم داسې پېغور چې له حدودو وتلی دی. ځکه چې د دوی په اند د کشر ادریس نطفه د مشر ادریس څخه نه ده، بلکې د مشر ادریس د غلام راشد څخه ده .

الله ج دې دوی برباد کړي جهالت هم حد لري، آیا دوی پر دې خبر نه دي چې ادریس اکبر له بربریانو څخه واده کړئ و او کله چې هغه مغرب ته ننوت تر مرګه بیا پر سارایي او اطرافي ژوند ټینګ ؤ، او په دغسې پېښو کې چې د کلیوالو کوم حالت وي هغه له چا نه پټ نه دی، د هغه ژوند ټولو ته معلوم ؤ چې په هغو کې د یوې ذرې هومره د شک ځای نشته.

د هغه د مېرمنو حالت د ده ګاونډیانو ته ښه معلوم ؤ او هغوی ښه ترې خبر وو. ځکه چې دېوالونه یې ور سره ګډوو او کورونه یې څنګ تر څنګ وو چې همدغه یو دېوال یې تر منځ ؤ، راشد د خپل بادار تر مرګ وروسته د هغه د مېرمنو پر خدمت ګومارلی ؤ. او د پیغمبر د کورنۍ د پلویانو او خواخوږو په مخ کې ؤ او دا خدمتونه یې ټول د هغوی تر حکم لاندې تر سره کول. بیا د ادریس اکبر نه وروسته ټولو بربریانو له ادریس اصغر (د هغه زوی) سره پر بیعت اتفاق درلود، ټولو په خوښۍ او لېوالتیا له هغه سره معامله وکړه، که د دوی په زړونو کې دغسې څه شک وای او یا یې دغسې کومه خبره غوږو ته رسېدلې وای که دوی دا د خپلو د سر د دښمنانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library


بدگومانه منافقینو له خوا اورېدلې وای هم نو (ادریس اصغر) ته به نژدې هم نه وو ورغلي، که ټولو دا کار نه وای کړی نو یوې ډلې به خامخا کاوه.

## د ادریس په نسب کې د پېغور سبب

د الله ج پر ذات سوګند چې دغه خبرې دښمنانو خپرې کړې دي، چې د عباسیانو څخه دي او په افریقا کې د هغوی ټاکل شویو اغلبیانو او حکومتي ارکانو لخوا خپرې شوې. ځکه چې کله ادریس اکبر د بلخ له پېښې څخه وروسته مغرب ته راوتښتېد نو هادي اغلبیانو ته اشاره وکړه چې ادریس ته په کمین کې اوسي او د هغو نیولو لپاره ځرې ورپسې وګوماري. خو اغلبیان پر دې بریالي نه شول چې هغه ونیسي، نوموړی روغ رمټ مغرب ته ورسېد، غورځنګ یې زور ونیو او د واک په ترلاسه کولو یې بری وموند. تر دې وروسته رشید خبر شو چې د ده غلام واضح چې د اسکندریې حاکم دی د علویانو پټ ملاتړ کوي او د همده په تدبیرونو ادریس روغ رمټ المغرب ته ورسېد، ځکه خو هغه خپل غلام وواژه او د پلار له غلامانو څخه یې یو تن شماخ په پټه واستاوه چې په څه پلمه ادریس ووژني او بېرته راشي. شماخ ادریس ته ورغی او له خپلو بادارانو (عباسیانو) څخه یې کرکه او بېزاري وښودله او وې غوښتل چې د ادریس په پیروانو کې شامل شي. ادریس هغه په خپله ډله کې شاملوي او له هغه سره راشه درشه زیاتوي. چې شماخ کله فرصت وموند ادریس ته یې زهر ورکړل او ویې واژه، کله چې د ادریس د وژل کېدو خبر عباسیانو ته رسېږي نو هغه ډېر خوشاله کېږي، ځکه چې دوی ګومان کاوه چې نور به په مغرب کې د علویانو غورځنګ ختم شي، ریښې به یې وچې او زړې به یې وسوځي. خو چې بیا د ادریس د نطفې له پرېښودو خبر شول نو دا آوازې یې واچولې چې دا د ادریس نطفه نشي کېدای بلکې د ده د پلار د غلام راشد نطفه ده، تر څو دوی په دې ډول د غورځنګ د راپورته کېدو خطر له منځه یوسي. کله چې غورځنګ زور واخیست او په مغرب کې شیعه ګان را پورته شول او د دوی حکومت د ادریس بن ادریس په سبب را ژوندی شو نو د عباسیانو زړونه پر دې سخت تپي او سوري شول. دغه مهال د عباسیانو په حکومت کې دومره کمزوري او ناتواني مسلطه شوې وه چې پر مغرب یې د برید توان نه درلود.

## د مشر ادریس وژل او د غورځنګ د له منځه وړو هڅې

څرنګه چې لوی ادریس په مغرب کې واک لاسته راوړی ؤ او بربریانو د هغه په ملاتړ خپل ټټرونه سپر ګرځولي وو، نو د رشید څواک همدومره ؤ چې په کومه طریقه ادریس ووژني، تر دې چې هغه ته یې زهر ورکړل او له منځه یې یووړ، بیا چې دغه غورځنګ په مغرب کې د اصغر ادریس په نوم بیا زور ونیو نو هغو یې ووېرول او په مغرب کې یې خپلو اغلبیانو دوستانو ته ولیکل چې د دې درز د بندولو لپاره چې څومره کولای شي هڅه وکړي. او دغه ناروغي چې د ده حکومت ترې په خطر کې دی وداغي له منځه یې یوسي. او پخوا تر دې چې ریښې ونیسي له بیخه یې وباسي او ایسته یې وغورځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پر خلافت د عجمیانو برلاسي او د خلیفه بې وسي

مامون او پر هغه پسې عباسي خلیفه ګانو اغلبیان دې ته پاړول، خو د مغرب اقصی اغلبیان پخپله د بربریانو په مخکې بې وسه او نا چاره وو او د خپلو پاچاهانو په پرتله هغوی ته ډېر اړوو.

څرنګه چې پر خلافت عجمیان مسلط شوي وو او د دوی پر ورمېږو ورسپاره شوي وو، نور همغوی د خلافت د سرو او سپینو مالکان او واکداران وو، چې څه یې زړه غوښتل تصرف یې کاوه او د حکومت ټولې اداري د دوی تر حکم لاندې وې، د خزانې مالکان، همدوی د حل او عقد د پرېکړو واکمن وو او همدوی نور چارواکي ګومارل لکه چې یوه شاعر ویلي دي:

«خلیفه د وصیف او بغا په منځ کې په پنجره کې ایسار دی او د طوطي په څېر هغه څه وایي چې دغه دوه یې وایي»

په همدې دلیل د اغلبیانو امیرانو په غیر ارادي ډول د چغلګرو له خولې څخه خطر احساس کړ او عذرونه او بې وسي یې وښودله. کله به یې ویل چې دغه مغربیان دي زموږ نظر هېڅ ارزښت ورته نه لري، کله به یې له یاغي ادریس او د هغه له ځایناستو څخه هغوی وېرول او ویل به یې چې دغه خلک د خپل هېواد له حدودو څخه هم وړاندې تېر شوي دي او ډېر ځواک یې پیدا کړی دی. او په خپلو سوغاتونو او ډالیو کې یې د خپل خراج له مالونو څخه د ادریس سکې هم ور استولې تر څو هغوی خبر کړي چې ادریس ډېر زورور شوی او ځواک یې تر خطرناک حده رسېدلی دی. او موږ د شاهي آدابو پوره رعایت کوو شاهي غوښتنې بشپړې پوره کوو او پر خپل ټاکلي وخت خراج او مالیه بشپړه درته استوو. خو که موږ مجبور شو نو د ادریس له تحریک سره به ملګري شو.

کله به یې بیا د ادریس د شان او دبدبې د وړوکي کولو لپاره د هغو په نسب کې خو را ایستله او دغه ډول به یې دروغ نخرې کولې چې پاس یې یادونه وشوه، د دروغو او رښتیا په کیسه کې نه وو ځکه چې پوهېدل چې عباسیان دومره لرې واټن نشي وهلی او دلته نشي راتلای او په هغو هلکانو کې چې د عباسیانو د تخت ځایناستي وو د دې رښتیا او دروغو د توپیر عقل او هوښیاري نه وه. هغوی خو د هر چا خبره منې او هرې غوغا ته یې غوږ نیولی وي. په هر صورت همدغه حالت دوام درلود تر دې چې د اغلبیانو زوال راغی او د خلکو غوږونو ته له شرمه ډکې خبرې رسېدلې. بیا تر هغوی وروسته ځینې پېغور ورکوونکیو د جګړې پر مهال د خپلې بریا لپاره د هغو شرمناکو خبرو آوازې خپرې کړې او خبرې یې کولې.

الله دې هغوی هلاک کړي پر دوی څه وشول د شریعت له موخې څخه واوښتل د باوري او دروغ خبرو تر منځ یې توپیر نه کاوه، ادریس د خپل پلار په کور کې وزېږېد او د شریعت له مخې اولاد همدې ته وایي چې د چا په کور کې وزېږېږي .

پر دې سربېره د مسلمانانو دا عقیده ده چې د پیغمبر کورنۍ له داسې خبرو نه مبرا او پاکه ده، ځکه چې الله ج له دوی څخه پلیدي لرې کړې ده، دوی یې سپېڅلي، پاک او د عفت خاوندان ګرځولي دي. ځکه خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library


ادریس مېرمن د قرآن په حکم له پلیدۍ او ناوړه چټلیو څخه پاکه ده، که څوک د دې پر خلاف عقیده ولري نو ګناهکارېږي او د کفر له دروازې به کفر ته ننوزي.

## د دروغو آوازو د خپرولو سبب

ما د دې ډول آوازو په تردید تفصیلي رڼا واچوله، یوازې د دې لپاره چې د شک او بدګومانۍ دروازې وتړل شي، او د رخه کوونکیو پر تېر سوکونه ور حواله شي. ځکه چې ما پخپله له یوه ظالم رخه کوونکي څخه داسې خبرې اورېدلې دي چې په دروغو تورونو یې د هغه په نسب کې عیبونه لټول، هغو له یوه مغربي تاریخ لیکونکي څخه چې د پیغمبر د کورنۍ مخالف ؤ او هغه د هغوی د مشرانو په ایمان شک درلود رانقل کاوه. سره له دې چې دغه ځای د داسې خبرو نه بلکل پاک او بې عیبه دی، او دغه ډول معصوم ځای چې هلته نیمګړتیا ګرانه وي د عیب او نیمګړتیا نفیې هم عیب دی، خو ما په نړۍ کې په دې تمه د پیغمبر د اولادې له لوري دغه تردید وکړ او جګړه مې وکړه چې هغوی به د قیامت په ورځ زما له لوري لانجې او مقابله وکړي، په دې دلیل مې هم دا کار وکړ چې لوستونکي وپوهېږي چې دغه پېغور ورکوونکي زیاتره هغه څوک دي چې د رخې او کینې په اور کې سوځېږي. دوی د هغه ادریس له اولادې سره رخه کوي چې دوی پخپله هم د پیغمبر له کورنۍ سره تړاو لري، یا هغه څوک چې د پیغمبر په کورنۍ کې ورننوتلي دي، ځکه چې دغه شرافت او عزت لرونکي نسب دعوه د نړۍ په قومونو او مذاهبو کې د یوه ستر شرافت او نېکمرغۍ ضمانت ګڼل کېږي، ځکه خو پر دوی ډېر بد رد ویل کېږي او زیاتره تورونه ورپورې کېږي.

## د ادریسیانو د نسب شهرت

د هغو ادریسیانو نسب د دوی په وطن فاس او د مغرب په ټولو هېوادونو کې دومره شهرت موندلی چې بل کوم نسب او قوم نه دی لیدلی، نه بل کوم نسب دومره ستر شهرت ته د رسېدو هیله کولای شي. ځکه چې ټوله ډله او بشپړ نسب له بلې ډلې او نسل څخه نقل کوي او همدغسې هر څه له یو نسل څخه بل ته را لېږدېدلي دي، چې له څو پښتونو څخه همدغه لړۍ را روانه وه، کور یې په یوه محله کې ؤ، جومات یې د محلې تر څنګ ؤ، د نوموړي توره د محلې پر یوه لویه مناره لوځه راځړېدلې وه پر دې سربېره د دوی نور اثار او نښې هم وې چې نسل په نسل خلکو ته رسېدلې او په تواتر کې تر مشاهدې پورې رسېدلې.

کله چې نورو دغه د شرافت خاوندان ولیدل چې الله ج دوی ته د نبوي کورنۍ پر شرافت سربېره په مغرب کې دومره شاهي دبدبه هم ورښلې ده، ځانونه یې له هغو فضایلو څخه محروم ولیدل او دا یې هم ولیدل چې ګواکي زموږ یو څوک د هغوی نیمایي عزت ته هم ونه رسېدل، دغه عزت او شان د دوی د کینې او رخې احساس ډېر راوپاراوه، ځکه یې په زړونو کې دغه ارادې را پورته شوې چې د دې کورنۍ پر خلاف د تورونو او بهتان خبرې راپورته کړي، تر دې چې پاس یاد شوي شرمناک تورونه یې ولګول او دروغ خبرې یې جوړې کړې، د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library


موخه دا وه چې پر دې به يې زړونه يو څه تسلي شي. خو نه يې دې تورونو ځای ونيو نه دوی د مقام او مرتبې خاوندان شول او نه يې د ادريسيانو مقام او عزت ته زيان ورسولی شو.
موږ ته دا معلومه شوه چې په مغرب کې د دغه کورنۍ د نسب او عزت په باب د يوې ذرې هومره شک نشته. دغه صفا نسب چې د حسن له اولادې څخه دی، اوس مهال يې مشران د عمران د کورنۍ څه دي چې له فاس څخه دی او د يحی حوطي بن يحی العوام بن قاسم بن ادريس بن ادريس له اولادې څخه دي. چې په فاس کې د پيغمبر د کورنۍ سردار او مشر دی، او د خپل نيکه ادريس په وطن کې استوګنه لري، هغوی د ټول مغرب سرداران دي چې موږ به د ادريسيانو په برخه کې رڼا پرې واچوو. ان شاالله

## پر امام مهدي بد ويل

لږ د امام مهدي شخصيت ته ځير شئ چې د هغه شان د علماؤ له شان سره مختلف ؤ، او د نوموړي حالت د هغوی له عقيدې څخه بالکل ممتاز ؤ، هغه د يوه ځواکمن حکومت مقابله وکړه، او نوموړي په بېساري اجتهاد له علماؤ سره مقابله وکړه نوموړي پر قوم د آزادۍ لپاره غږ وکړ چې په جهاد کې ورسره ودرېږي. او بيا يې د يوه پياوړي حکومت سره چې وسلې يې درلودې کلکه مقابله وکړه او د هغو ريښې يې له بيخه را وايستلې او تس نس يې کړ.
په دې جهاد کې چې د نوموړي څومره پيروان شهيدان شول شمېر يې الله ج ته معلوم دی، دې پيروانو يې له ده سره په مرګ بيعت کړی ؤ او د نوموړي د ساتنې او دفاع په لار کې يې خپل سرونه قربان کړل، او د توحيد د بلنې د خپرېدو او پرمختګ لپاره يې يوازې د لوی الله ج د رضا په لار کې ځانونه قربان کړل، د هغې کليمې په پلوی يې سرونه نذرانه کړل چې راپورته شي او پر ټولو کليمو اوچته شي، او د نړۍ تر دواړو څنډو پورې همدغه کليمه واکمنه او اوچته شي. بلاخره همداسې وشول
الله ج دوی ته بری ورکړ، نوموړي ساده ګي خوښوله، له مصيبتونو سره په صبر او زغم عادت ؤ، له دنيا نه يې ګوښه ژوند غوره کړی ؤ او له دنياوي خوندونو څخه يې ځان لرې ساتلی ؤ، تر دې چې الله ج خپل لوري ته وروباله.
په هر صورت هغه له کوم دنياوي راحت، خوند او آرام څخه ګټه وانه خيسته او د تقوا او سادګۍ ژوند يې وکړ، تر دې چې له خپل زوی څخه هم بېل اوسېده چې هر سړی يې په طبعي توګه د يو ځای ژوند هيله لري، او اولادو لپاره د الله ج په لار کې د شاندارو کارنامو په ترسره کولو کې زړه نا زړه وي. که له دې بېلتون نه د نوموړي موخه د الله ج رضا نه وي نو څه به وي؟ د مطالعې خاوندان دې پخپله قضاوت وکړي. نوموړي له دنياوي نعمتونو څخه لږ ګټه هم وانه خيسته، نو که فرض کړو چې که د نوموړي نيت ښه نه ؤ او دنياوي تمې ورسره وای نو غورځنګ به يې نه ؤ بريالی شوی او حکومت به يې ډېر زر له منځه تللی وای. ځکه چې په خلکو کې د الله ج همدغه طريقه روانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام مهدي د نسب له اړخه سپیناوی

پاتې شوه دا چې ځینې د نوموړي له نسبه انکار کوي چې د پیغمبر له کورنۍ څخه نه دی، په دې کې له هغوی سره هېڅ دلیل نشته، دا چې د هغه نسب له پیغمبري کورنۍ سره غلط ثابت کړي داسې دلیل شته؟
ټول خلک د پیغمبر د کورنۍ سره د هغه پر نسبي تړاو لري.

## د یوه شک ځواب

پر یوه قوم د بل قوم کوم څوک حکومت نشي کولای، لکه چې دغه اصول موږ هم صحیح بللي دي او د دې کتاب په لومړي فصل کې مو پر دې وضاحت کړی دی چې درانه لوستونکي به یې ان شاالله ولولي، او نوموړی د ټولو قبیلو مشر او سردار دی، د نوموړي د قبیلې او ډلې اطاعت همدغه قبیلې هم کاوه تر دې چې د دوی غورځنګ پیاوړی شو او پرمختګ یې وکړ.
د دې اصلي لامل دا دی چې د نوموړي بلنه یوازې تر فاطمي نسب پورې محدوده نه وه او نه یوازې د دې نسب خلکو د هغه اطاعت کاوه، بلکې د هرغه او مصمودیه قبیلو د پلوي توب په سبب خلکو د دوی اطاعت وکړ، پر هغو خلکو د نوموړي ډېر اغېز پروت ؤ او له دوی سره یې کورنۍ اړیکې درلودې فاطمي نسب هېر شوی ؤ او د خلکو په زړو کې د هغو خیال هم نه ؤ، داسې ډېر مثالونه شته چې خلکو ته د چا د لومړي نسب معلومات نه وي او هغه ترې پټ وي، د بجیله ریاست په باره کې د عرفجه او جریر پر ښېښو غور کړئ، عرفجه قبیله د ازد وه او هغو د بجیله پرده پر ځان راغوړولې وه تر دې چې د حضرت عمر «رض» په مخکې یې له جریر سره د ریاست په باب شخړه هم راغله له دې نه به تاسو د رښتیا خبرې په پوهاوي کې مرسته وشي، او الله د سمې خبرې لوري ته لارښوونکی دی.

## د بد ګومانیو وضاحت اړین ؤ

په غالب ګومان پر دغو بدګومانیو له مفصلې رڼا اچولو سره موږ د کتاب له اصلي موضوع څخه ووتو. خو دلته وضاحت اړین ؤ ځکه چې په دې ځای کې ډېر د باور وړ علما مؤرخین او حافظان تېرېدلي دي. داسې خبرې یې په ذهنونو کې ناستې دي او کمزوري نظرونه او اټکلونه یې لیکلي دي، په داسې حال کې چې دوی ته هم له پلټنې او تحقیق پرته دغه نظریات رسېدلي دي او د دوی د معلوماتو په زېرمه کې راټول شوي دي، تر دې چې د تاریخ فن یو پخوانی فن او هنر وګرځېد او هر څه پکې ګډوډ شول چې لوستونکی په شکونو او بدګومانیو کې پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تاریخ د خواصو فن دی د عامو خلکو نه دی

د دې خبرې مفهوم دا راوزي چې تاريخ د عامو خلکو فن ګڼل شوی دی، په داسې حال کې چې يو مؤرخ د سیاست پر قواعدو او د معبوداتو پر طبیعت خبروي، په عادتونو او اخلاقو کې، په قولونو او مذهبونو، خصلتونو او سیرتونو کې، د بېلابېلو قومونو بېلابېلو مقامونو او بېلابېلو زمانو خیال وساتي او دا ډېر اړين دي.

دا هم اړينه ده چې خپل معلومات له پخوانيو سره پرتله کړي او د هغو ورته والی وپلټي، چې آيا په دواړو کې يووالی دی او که اختلاف. او د همدې اختلاف او يووالي لاملونه او نسبې هم معلومې کړي.

د هېوادونو او مذهبونو اصول او د هغو د ظهور او حدوث مبداوې او لاملونه، د هغو د شتون حرکتونه او د هغو د پيروانو او منونکيو حالت او وضعه هم بايد ورته معلومه وي، تر څو مؤرخ د هرې پېښې او خبر په لاملونو او سببونو برلاسی شي، تر څو نقل شوی روايت د خپلو اصولو او قواعدو له مخې وړاندې کړي، وګوري چې که د هغو اصولو او قواعدو سره برابر وي نو صحيح دی او که نه غلط، بيا دې د هغو په ښکاره ترديد وکړي او د دې پروا دې نه لري چې پخوانيو په دې ډول تاريخ مهم بللی دی، تر دې چې طبري او بخاري او تر هغه مخکې ابن اسحاق او نورو تاريخ خپل فن بللی دی، له دې حکمت څخه ډېر خلک نا خبره دي آن چې تاريخ ته د فن او هنر نسبت جهالت او ناپوهي بولي. او عام خلک او هغه کسان چې ژوره مطالعه نه لري د تاريخ علم معمولي او بې ارزښته بولي او فکر کوي چې زده کول يې کومه ډېره ګټه نه لري او په دې کې وخت لګول هسې د وخت ضايع کول دي. پايله دا چې په دې کې رښتيا، دروغ، ښه او بد او کره نا کره هر څه سره ګډ دي. د ټولو چارو پای د الله ج په واک کې دی.

## يوه لا شعوري غلطي

يوه غير شعوري غلطي چې په تاريخ کې کېږي دا ده چې د وخت او زمانې له بدلون سره د خلکو او ولسونو د وضعيت بدلون ته پام نه کېږي. دا وژونکې پټه ناروغي ده چې لږ خلک يې پېژني. دا چې دغه ناروغي ډېره موده وروسته راپيدا کېږي ځکه خو يوازې د ګوتو په شمار د عقل خاوندان پرې پوهېږي.

## په هره زمانه کې د قومونو وضعه بدله وي

دا په ياد ولرئ له زمانې سره د نړۍ د قومونو وضعيت هم بدلېږي او د هغوی اخلاق، عادتونه، د ژوند ژواک بڼه او کلتور او تمدن په يوه حالت او يوه لاره نه پاتې کېږي بلکې له وخت سره بدلون پکې راځي. په کوم ډول چې دغه بدلونونه په خلکو کې، په بېلابېلو وختونو او ښارونو کې راڅرګندېږي. همدغسې د نړۍ په هر ګوټ، هره دوره او هره واکمنۍ کې هم راڅرګندېږي. دا د الله ج يوه طريقه ده چې د هغه په بندګانو کې همدغسې را روانه ده او دوام کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


تاسو وګورئ په پخوا زمانو کې پارسيان، سريانيان، نبطيان، يمنيان، اسرائيليان او قبطي قومونه ابادوو او په حکومت، هېواد، سياست، صنعت او کسب، ژبه اصطلاحاتو او نړيوالو شريکو مسايلو کې دوی خپل ځانګړی مقام درلود، په نړۍ کې د دوی پر ټولنيز حالت د دوی اثار شاهدي وايي.

بيا په هغوی پسې پارسيان، روميان او عرب راځي، خامخا په لومړيو حالاتو کې بدلون راځي او له دې سره په عادتونو او اخلاقو کې هم بدلون راځي. چې بيا له پخوا سره ورته يو شان عادتونه زېږي يا بلکل بېل عادتونه هغوی راښکېل کوي.

بيا چې اسلام او د مضر قبيلې حکومت راځي او وضعه يو مخ په بل لوري لټ خوري او نور حکومت له ځان سره نور رنګ او بڼه راوړي، نن چې موږ کومه وضعه ګورو دا له اسلامي انقلاب سره راغلې ده چې اولادونو له خپلو پلرونو او نيکونو څخه په پيروۍ تر ننه را رسولې ده. وروسته بيا اسلامي حکومت هم له زوال سره مخ کېږي او له منځه ځي او د هغو د پسرلي تاندوالی د مني د موسم ښکار کېږي او د مشرانو او نيکونو وخت تېرېږي چې په خپلو قربانيو او هڅو يې د اسلام عزت لوړ او پياوړی کړی ؤ، د حکومت او هېواد حدود يې پراخ کړي وو او واک او اقتدار يې اوج ته رسېدلی ؤ.

دغه مهال خلافت د عجميانو لاسونو ته ورغی، په ختيځ کې د ترکانو په لاس او په مغرب کې د بربريانو او په شمال کې د فرنګيانو په لاس کې لوېږي. په دې ډول د عربو له ختمېدو سره دغه قومونه هم له منځه ځي او د خلکو په عادتونو او وضعه کې هم بدلون راځي او لومړي عادتونه او وضعيت له خلکو هېرېږي او په مازغو کې يې د هغو هېڅ نښه هم نه پاتې کېږي.

## د وضعې او عادتونو د بدلون سببونه

د حالاتو او وضعې د بدلون عام سبب دا دی چې خلک د خپلو واکمنو او پاچاهانو په خوی او خصلت ژوند کوي. لکه دغه د حکمت نه ډکه مقوله مشهوره ده چې «اَلنَّاسُ عَلَی دِيْنِ مُلُوْکِهِمْ» يانې خلک د خپل پاچا په دين وي. د بل هېواد واکمن که کوم هېواد فتحه کړي نو د لومړنيو قومونو عادتونه خپلوي او زيات عادتونه له هغوی څخه را اخلي.

له دې سره دوی د خپل قوم عادتونه هم نه هېروي، ځکه خو د حکومت اوسنی کلتور د لومړني قوم له کلتور سره يو څه اختلاف لري بيا بل حکومت راځي او هغه هم يو څه اختلافونه ورسره راوړي خو له تر ټولو مخکې حکومت سره يې اختلافونه نور هم ډېر وي، په دې ډول د بېلابېلو بې شمېره حکومتونو له بدلېدو سره بلکل يو نوی کلتور رامنځته کېږي، څومره چې حکومتونه بدلېږي په وضعيت کې بدلونونه ورسره جوخت روان وي.

## په قياس او نقل کې د تېروتنې امکان

قياس او نقل انساني فطرت دی چې له غلطۍ څخه خوندي نه دی، انسان هېرول او غفلت له خپلو موخو څخه لرې کوي، او هغه له خپل اصلي هدف څخه کږوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاتره وختونه اورېدونکی د پخوا وختونو خبرونه اوري خو د وضعې د بدلون رابدلون په باب فکر نه کوي او سمدستي د معلوماتو او مشاهدې له مخې اټکلونه کوي، په داسې حال کې چې د اوس او هغه مهال تر منځ توپیر وي بلاخره د غلطۍ په ختو کې نښلي.

## د قیاس د تېروتنې یو ساری

په دې برخه کې مؤرخین د حجاج په تړاو یوه کیسه لري، چې د حجاج پلار استاذ ؤ. پر دې سربېره زموږ په اوسنی زمانه کې علم یو صنعتي مسلک گرځېدلی دی، دا یو کاروبار دی چې د یوه شریف خاندان د عزت او لوړوالي پر خلاف گڼل کېږي. بېچاره استاذ کمزوری او محتاج وي چې ریښتې یې غوڅې شوې وي او هېڅ قدر او عزت یې نه وي، زیاتره له ټیټې طبقې کمزوریو خلکو څخه د دې مقام د ترلاسه کولو لپاره په تمه وي، چې هغوی د دې حقدار نه وي خو ترلاسه کول یې ورته آسانه ښکاري، او همدغه تمه یې د دې لوري ته راولي، کله کله یې د تمې پړی له لاسونو څخه وزي هم او دوی د مرگ او تباهی په خطرناکه کنده کې ورلوېږي. خو دغه مقام ترلاسه کول د ځان لپاره سخت نه گڼي او نه پر دې پوهېږي چې دی کسبگر او مسلکي حیثیت لري.

## د اسلام په پیل کې د علم حیثیت

د اسلام په پیل کې او د امویانو او عباسیانو په دورو کې د علم حیثیت داسې نه ؤ، ځکه چې په عام ډول علم ته چا د صنعت او کسب په سترگه نه کتل، بلکې علم یوازې د شرعي روایتونو نقل کول وو او قرآن او حدیث له تبلیغي اړخه خلکو زده کول، ځکه خو شریفو او د عزت خاوندانو چې د دین او قوم خادمان وو له تبلیغي نظره د قرآن او سنتو تعلیم ورکاوه، د صنعت او کسب له نظره نه. دا چې قرآن د دوی کتاب ؤ چې د دوی پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم له آسمانونو رانازل شوی ؤ او په هغو کې د همدغه نور وړانگې خپرې وې او اسلام د دوی غوره کړی د خوښې دین ؤ چې د هغو د ساتنې لپاره یې خپل سرونه او ځانونه ترې ځارول او مخالفین یې وژل. مسلمانان د نړۍ په ولسونو کې د همدغه قرآن په سبب سر لوړي او د عزت خاوندان شول. ځکه خو د دوی په زړونو کې د قرآن د تبلیغ او پوهې جذبه ځپانده وه، له هغو څخه نه دنیاوي مقام دوی راگرځولای شوای او نه یې کوم شرم او عار له هغو مخه اړولای شوای.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لوري عربو ته د پلاویو په توگه د لویو صحابه کرامو استول چې هغوی ته دین وروښیي د دې ښکاره دلیل دی رسول الله صلی الله علیه وسلم لس تنه لوی اصحابان چې د جنت زیری پرې شوی ؤ واستول، له دوی سره یې نور اصحابان هم واستول.

بیا چې اسلام پیاوړی او ریښې یې ټینگې شوې، تر دې چې د مسلمانانو هممهاله د نړۍ نورو قومونو اسلام زده کړ او د یوې مودې له تېرېدو وروسته د دې قوم په حالت او وضعه کې بدلون راغی او د ډېرو زیاتو پېښو د پېښېدو په سبب له قرآن څخه د شرعي احکامو د راایستلو اړتیا پېښه شوه، نو د دې لپاره د داسې قانون د جوړېدو اړتیا شوه چې د نورو صنعتونو په څېر دا هم په یوه مسلک او صنعت بدل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بیان به یې د علم او تعلیم په فصل کې راشي.
اوس نو خانداني شریف او د عزت خاوندان د هېواد او حکومت د ادارې په چارو کې بوخت شول او علم یې نورو خلکو ته چې پکې بوخت وو پرېښود او دا بیا د کاروبار لپاره یو مسلک او کسب وگرځېد، چې شتمنو او واکمنو ته نور د هغو زده کړه شرم ښکارېدو، او د ټیټ پاړکي کمزوریو خلکو ته یې زده کړه پاتې شوه، د لویو کورنیو شریفو خلکو ته نور دا حقیر او سپک ښکارېدو، د حجاج پلار د بني ثقیف قبیلې له سردارانو او عزتمنو خلکو څخه ؤ او د عربي عصبیت او قریشي عزت له مخې یې چې کوم مقام درلود هغه تاسو ته معلوم دی څکه خو هغه مهال که هغه استاذ ؤ د تعلیم او زده کړې دومره سپکاوی نه ؤ چې اوس دی، بلکې علم زده کول او نورو ته ورښودل د عزت او شرافت نښه او سبب ؤ. اوس خو تعلیم یو مسلک او کسب دی.

## دوهم مثال

په همدې تړاو د تاریخي کتابونو لوستونکي یو بل گومان هم کوي چې دوی ته د قاضي مقام ورکړای شي، کله چې دوی د قاضیانو حقیقت مطالعه کوي او د دوی شان او دبدبه گوري چې په جگړو کې د لښکر قوماندانان وو او پوځونه به د دوی تر قوماندې لاندې وو نو د دوی په زړونو کې هم دغه هیلې راوټوکېږي چې دوی هم دومره لوړو مقامونو ته رسېدای شي او پرې پوهېږي چې نن د قضا د مقام کوم شان او شوکت دی، په هغه زمانه کې به هم همداسې و. خو چې کله دا واوري چې ابن ابي عامر چې د هشام ملگری او د ټولو واکونو خاوند وو او ابن د عباس پلار چې قاضي و د اشبیلیه قومونو له پاچاهانو څخه و، نو فکر کوي چې د اوس وخت په څېر قاضي به وي او پر دې نه پوهېږي چې د قضا په منصب کې څومره انقلاب راغلی دی او د هغو په وضعه کې ډېر بدلون راغلی چې موږ به یې په لومړي کتاب کې د قضا په څېرکي کې بیان کړو.
ابن عامر او ابن عباد له هغو عربي کورنیو څخه وو چې په اندلس کې یې د امویانو حکومت ټینگ کړی وو. د دغه حکومت چلوونکي د عصبیت خاوندان وو د دوی مرتبه او مقام په حکومت کې لوړ وو او ټولو ته معلومه وه چې په دې هېواد او حکومت کې چې دوی کوم لوړ مقام تر لاسه کړ هغه نن ورځ د قضا د مقام تر احسان لاندې نه دی. بلکې په پخوانیو وختونو کې د قضا مقام نږدې خپلوانو او غلامانو ته سپارل کېدو لکه نن چې په مغرب کې د وزارت دنده ده. فکر وکړئ قاضي به لوی لښکر په ډلو ډلو کې راویست او لویې دندې به یې پر اوږو وې، دغه دندې د داسې چا پر غاړه وراچول کېدې چې د پلویتوب له اړخه به یې د تر سره کولو وړتیا ورسره وه، د تاریخ لوستونکي چې دې ځای ته راشي لاره ورکه کړي او د پېښو په تړاو د واقعیتونو پر خلاف اټکل کوي.

## د اندلس د خلکو لنډ پاري

په هغه زمانه کې د اندلس اوسېدونکیو چې بصیرت یې کمزوری او تنگ نظري وو دغه غلطي کوي څکه چې د دوی په هېواد کې د ملي ملاتړ نوم او نښه نشته، کله چې په اندلس کې د عربو حکومت ختم شو او له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایه عربان له منځه یوړل شول او بربریان چې د عصبیت خاوندان وو له هېواده ووتل نو د هغوی عربي نصب خوندي پاتې شو او د عزت او برلاسی وسیله چې ملاتړ او مرسته وه له منځه لاړه. هغه عربان چې پرون پاچاهان وو نن د عامو خلکو په څېر ذلیل او بې وسه دي او پردیو واکمنو غلامان کړي دي او ذلت یې په غاړو کې ورلوېدلی دی. دوی په همدې گومان کې وي چې دوی یو وخت پاچاهان وو، څکه خو به یې نسب دوی بیا واکمنی او حکومت ته راولي، همدغه وضعه د کسبگرو او صنعت کارو هم ده او په دې لاره کې هغوی زیار هم گالي چې پخوانی کاروبار بېرته ترلاسه کړي. کوم کسان چې د قبایلو د ملاتړ او مرستې په سبب د هغوی له حکومتونو څخه خبر دي او پر دې هم پوهېږي چې قبیلې او قومونه څه ډول پر یوبل برلاسي مومي له هغوی څخه په دې خبرو کې غلطي نه کېږي او هغوی غلط اټکلونه نه کوي.

## درېیم مثال

د همدې لړۍ یوه کړۍ دا هم ده چې مؤرخ د حکومتونو او د هغو پاچاهانو د نظم او ترتیب د بیانولو پر مهال د دوی نومونه، د نسب شجره یې، د دوی د پلار او مور نومونه، د دوی د مېرمنو نومونه، القاب یې، د هغوی گوتې، د دوی قاضي، د دروازې پېره دار او د هغوی وزیران ټول یادوي، د بني امیه او بني عباس مؤرخین تقلید کوي، او د هغوی موخې او اهداف بې له دې چې فکر پرې وکړي ټول یادوي.
په داسې حال کې چې هغه مهال مؤرخینو تاریخونه، حکومت او د هغوی اولادونو ته یوازې د دې لپاره لیکل چې هغوی د خپلو نیکونو خویونه غوره کړي او د هغوی له حاجته خبر وي تر څو خپل ژوند هماغسې عیار کړي او د هغوی پر پله لاړ شي. آن که دوی په اولادونو کې کوم وړ څوک وي نو مقام ورکړي او د کوم لایت او یا ښار حاکم یې کړي چې د همدوی لاره غوره کړي او ورسره مرستندوی شي.

## په لومړیو وختونو کې قضا چا ته سپارل کېدله؟

په هغه مهال کې به قاضي هم د مملکت پلوي او له وزیرانو څخه په شمېرل کېدو، لکه چې مخکې مو یادونه وکړه، څکه خو مؤرخینو دغه ټولې خبرې بیان کړې دي.

## د اوسنیو مؤرخینو موخې او اهداف

اوس چې د حکومتونو بنې او وضعې بدلې شوې دي او په زمانه کې ډېر واټن راغلی دی، د مؤرخینو موخې یوازې پر دې راټولې شوې چې یوازې د پاچاهانو له وضعې څخه خبر وي، د حکومتونو برلاسي او اقتدار ورته معلوم وي او د قومونو له لوړتیا ځوړتیا څخه خبر وي. چې څه ډول جوړ شول او څه ډول وشړېدل. نو په دې زمانه کې یوه مؤرخ ته د پاچا د زامنو، د هغه مېرمنو د گوتیو نقشونو، لقبونو د قاضیانو، وزیرانو او ساتونکیو د یادونې اړتیا پاتې نه شوه څکه چې نن پخواني اصول، نسبونه او مقامونه پاتې نه شول، البته د نن مؤرخین د پخوانیو مؤرخینو د وچ تقلید او د هغوی له موخو او اهدافو څخه غفلت او بې پرې والي دې غلطیو ته چمتو

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوي البته د هغو وزیرانو پېښې چې د هغوی د اثارو عظمت تر دې بریده لوړ شو چې د پاچاهانو د ژوند حالات یې پر وړاندې ختم شول او خبرونه یې پیکه شول لکه حجاج، مهلب، بني نو بخت، کافور اخشیدي، ابن ابي عامر او نور د هغو د پلرونو او نیکونو د پېښو په بیان کې ستونزه نشته ځکه چې دوی په شاهانو کې شمېرل کېږي.

## یوه مهمه ګټه

اوس د یوې ګټې یادول اړین دي چې پر همدې به دغه فصل ختم کړو. هغه دا چې تاریخ د یوه وخت او یا قوم خاصو خبرونو ته ویل کېږي. خو د ټولو وختونو او د ټولو قومونو د عامې وضعې بیانولو ته هم اړتیا ده چې مؤرخین یې باید یاد کړي او دا د بنسټ حیثیت لري، چې پر دې د هغوی د موخو او اهدافو ودانۍ جوړېږي. او د دغو پېښو د بیان وضاحت هم زیات کېږي. خلکو پر دې ځانګړې کتابونه لیکلي دي. لکه مسعودي چې په مروج الذهب کې د خپلې زمانې (۲۳۰هجري) د ختیځ او لوېدیز او د نړۍ هر ګوټ بیان کړی دی، د هغوی د مذهب او اخلاقو په باب یې خبرې کړې دي، د ښارونو، غرونو، سمندرونو، هېوادونو او حکومتونو پر وضعه یې رڼا اچولې ده. د عربي او عجمي کورنیو تر منځ یې توپیرونه روښانه کړي دي، ځکه خو مسعودي د مؤرخینو پېشوا او امام بلل کېږي. ټولو مؤرخینو همدې لور ته مخه کړې ده او د زیاترو تاریخي مسئلو په څېړنه کې همدی د سند په توګه مني. تر مسعودي وروسته د تکبري مهال راځي، هغه هم په ملکونو او هېوادونو کې د مسعودي تګلاره غوره کړې ده. څرنګه چې د هغه پر مهال په قومونو او قبیلو کې ډېر بدلونونه نه دي راغلي ځکه هغه د هغو ورځو پېښې پرېښې دي.

## د اتمې پېړۍ په پای کې د مغرب په وضعه کې بدلون

د اتمې پېړۍ په پای کې د مغرب په وضعه په بل لټ واوښته چې موږ یې ګورو نو وضعه ټوله بدله شوې ده. د بربریانو پخوانی حالت پاتې نه شو ځکه چې دوی ته د عربانو د راتلو مهال له پنځمې پېړۍ څخه پیلېږي، عربانو د دوی شان او دبدبه له منځه یوړه او پرې برلاسي شوي وو، د دوی نه یې هېوادونه ونیول او کومه سیمه چې د دوی په لاس کې پاتې شوه په هغو کې هم عربان ورسره شریک وو.

## د اتمې پېړۍ په نیمایي کې وژونکې وبا

د اتمې پېړۍ په نیمایي کې په ختیځو او لوېدیځو ولسونو کې وژونکې وبا خپره شوه چې قومونه یې برباد کړل او ډېرې کورنۍ یې د مرګ کومي ته ورټېل وهلې. د ولسونو کلتور ښېګڼې او پرمختګونه یې تر پښو لاندې کړل او هغوی یې د ژوند له ډګره ورک او برباد کړل. پر حکومتونو دغه اسماني ټکه په بوډا توب کې راپرېوته. په داسې حال کې چې دوی د ژوند وروستیو شپو او ورځو ته رسېدلي وو، دې وبا یې سیوری ورټول کړ. د هغو ځواک یې له منځه یووړ او واک یې کمزوری کړ. د هغوی سره مال پاتې نه شو او بې وسي او کنګال شول، وبا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک ووژل، آبادي يې ورانې او ښارونه يې ړنګ کړل. کارخانې يې ويجاړې کړې، لارې او دلارو نښې له منځه لاړې، کورونه له خلکو تش شول او قبيلې او هېوادونه کمزوري شول او څوک چې پاتې شول هغه ډېر بدل شول. په ختيځ کې هم د لوېديز په څېر د آبادۍ په پرتله همدغه وبا خپره شوه. لکه چې «تقدير» د نړۍ د بربادۍ او تباهۍ «اعلان» وکړ سمدستي دنيا د دې اعلان په مخکې خپل سر ټيټ کړ. ځکه چې الله ج د ځمکې او د ځمکې د اوسېدونکيو وارث دی.

## د نړۍ په وضعه کې له انقلاب سره په خلکو کې بدلون راځي

چې کله د ټولې نړۍ وضعه بدلېږي ګواکې د نړۍ ټول خلک بدلېږي او ټول کاينات په يوه نوي رنګ او بڼه راڅرګندېږي. داسې لکه چې دا نوی مخلوق وي او دوی د ژوند بڼه بدله کړې وي او په يوه نوې نړۍ کې وي. ځکه خو د دې مهال لپاره داسې مؤرخينو ته اړتيا وي چې د نړۍ د ګوټ ګوټ، د نړۍ قومونو او بېلابېلو مذهبونو وضعه وليکي. چې په نويو نويو څېرو راڅرګند شوي دي. او کومه طريقه چې مسعودي په خپل مهال کې غوره کړې وه، هماغه غوره کړي، تر څو راتلونکي تاريخ ليکونکي د دوی پيروي وکړي او دوی هغو ته د اصل سرچينه شي.

## د کتاب موضوع

زه به خپل کتاب کې تر ممکن حده د مغربي قطر يادونه وکړم، که په وضاحت وي، او که د پېښو خبرونه او که په اشارو ځکه چې زما د کتاب ځانګړې موضوع مغرب دی او د مغرب کورنۍ او قومونه دي، د مغرب حکومتونو او هېوادونو د وضعې بيان زما ځانګړې موخه ده، د نورو قطرونو وضعه نه ده. ځکه چې ما ته د ختيځ وضعه او د هېوادونو حالات معلوم نه دي او يوازې په مطالعه چې زه له وضعې خبرېږم هغه زما د موخو رښتينولي بشپړولای نه شي.

## مسعودي يو سيلانی وو

مسعودي چې د ټولې نړۍ په وضعه کتاب ليکلی دی سبب يې دا دی چې هغه سيلانی و، هغه بېلابېل هېوادونه ليدلي وو، لکه چې پخپله يې په خپل کتاب کې ليکلي دي. پردې سربېره يې هم د مغرب په باب چې څه ليکلي دي، د بشپړې وضعې له بيان نه ناتوانه دی. پر ټولو د علم خاوندانو الله ج ډېر عالم دی، انسان عاجز او مجبور دی او الله ج پر هر څه عالم او خبر دی. انسان بې وسه او ناتوانه دی او ليکوالانو ته پر دې اعتراف لازم دی چې کمزوري او ناتوانه دي. خو الله ج چې د چا مرستندوی شي د هغه پر مخ د علم او پوهې دروازې پرانيزي او هڅې يې بلاخره ثمر ته رسېږي او برياوې يې پښې ښکلوي. زه هم په دې کتاب کې د خپلو موخو د بيانولو لپاره له الله ج څخه مرسته غواړم، الله ج د سمې لارې ښوونکی دی او پر هغه مو ايمان دی. تر ټولو مخکې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما فرض ده چې د توریو د بنې پر کیفیت چې په عربي ژبه نه دي یوه سریزه ولیکم. څکه چې په ضمني ډول زموږ په دې کتاب کې لیکل شوې ده.

## د عجمي ژبو د هجا توریو بیان

په یاد ولرئ هغه حروف چې په وینا کې کارېږي د هغو غږونو حالت دی چې له حنجرې راوځي. دغه حالتونه هغه مهال پیدا کېږي چې غږونه پر تالو یا غاښونو یا سپږمو، یا د ژبې له سرونو یا له شونډو سره لګېږي. بیا چې له دې لګېدو سره څه ډول بدلون راځي هماغسې د غږونو په حالت کې هم بدلون راځي، او بېلابېل توري د غږونو له پرو سره لګېږي او یو له بله په توپیر اوړېدل کېږي. له همدې توریو کلیمې جوړېږي چې د زړونو خیالونه روښانوي.

## د نړۍ ولسونه د توریو په ادا کولو کې یو شان نه دي

د نړۍ ټول قومونه د دې توریو په ادا کولو کې یو شان نه دي، څکه چې د ځینو قومونو په ژبو کې داسې توري هم دي چې د نورو قومونو په ژبو کې نشته، د عربي ژبې د هجا توري ۲۸ دي، په عبراني ژبه کې ځینې داسې توري دي چې زموږ په ژبه کې نشته او زموږ د ژبې ځینې توري په عبراني ژبه کې نشته، له دې نه د انګرېزي، ترکي، بربري او نورو ژبو اټکل وکړئ.

## په عربي کې ۲۸ توري دي

عربي کاتبانو د اورېدونکو توریو د دلالت لپاره د هر یوه توري لپاره یوه ځانګړې علامه جوړه کړې، چې ۲۸ علامې دي، هره علامه له بلې څخه بېله ده د ۲۸ عربي توریو علامې لوستونکو ته معلومې دي.

## د غیر عربي ژبو کلیمه څه ډول ولیکل شي؟

کله چې د لیکلو پر مهال داسې توري مخې ته راشي چې په عربي ژبه کې نه وي د هغو لپاره عربي لیکونکو ځانګړې بڼه نه ده ښودلې او هغه یې بې مانا پرېښې او په اړه یې څه نه دي ویلي، ځینې لیکونکو هغه توري د خپلې ژبې د هممخرج توري په بڼه لیکلي، خو د عجمي ژبې د توریو لپاره دغه طریقه کافي نه ده، بلکې توري باید د اصلي حالت نه واړول شي.

## ما عجمي توري څه ډول لیکلي؟

دا چې زموږ په دې کتاب کې د بربریانو او د یو لړ عجمیانو یادونې او خبرونه دي، د هغوی په نومونو او یا په ځینو کلیمو کې داسې توري راځي چې زموږ د ژبې په لیکلو کې دود نه دي، نه زموږ په ژبه کې د هغو کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه جوړه شوې ده، څکه ما ته د هغو په ليکلو کې ستونزې جوړې شوې، خو ما يوازې د هغو د مخرج په لفظ اکتفا ونه کړه. څکه زما په اند دا د دلالت لپاره کافي نه ده لکه چې يادونه مې يې وکړه، څکه خو ما د داسې توريو لپاره په دې کتاب کې داسې اصطلاح پيدا کړه چې زه داسې عربي توري د داسې دوو توريو تر منځ راولم چې د دواړو په منځ کې د هغه توري تلفظ وي، تر څو لوستونکي هغه د دغو دوو توريو په منځ کې ولولي چې مخرج يې ادا شي. دغه اصطلاح ما د قرآن کريم له ليکونکيو نه د اشمام له ليکدود نه را واخيسته، لکه د لومړيو قاريانو په تلاوت کې چې د صراط لفظ دی، څرنګه چې د صاد مخرج په عجمي لهجه کې د صاد او زا تر منځ دی، څکه خو د قرآن ليکونکيو صاد وليکه او دننه يې د زا علامه وليکله چې دا ترې څرګنده شوه چې دغه توري به د دواړو توريو تر منځ لوستل کېږي. په همدې ډول ما هر عجمي توری د خپلې ژبې د دواړو ژبو تر منځ وليکه تر څو د دواړو تر منځ تلفظ شي، د ساري په توګه په بربري ژبه کې کاف «ګاف» دی. موږ په خپله ژبه کې د کاف يا جيم او يا ق په منځ کې ليکلی لکه «بګين» يو نوم دی، ما دا داسې ليکلی دی بکين، تر څو معلومه شي چې دغه توری د کاف او جيم او يا کاف او قاف تر منځ لوستل کېږي. دغه توری په بربري ژبه کې ډېر کارول کېږي. پر دې سربېره چې کوم توري په دې ډول راغلي موږ په همدې طريقه ليکلي او تلفظ کول مو يې معلوم کړي دي، تر څو درنو لوستونکيو ته معلومه شي چې دا په منځ منځ کې لوستل کېږي. که موږ دا د هغو دوو توريو ترمنځ چې دغه توری دی په کوم يوه توري ليکلی نو دا به مو له خپل مخرج نه رااېستلو او د خپلې ژبې مخرج ته به مو راووړاو د عجمي ژبې دغه توری به مو بدلوه څکه خو دې ته پام کوئ. الله ج په خپل فضل او کرم سره د رښتينې لارې ښودونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لومړی کتاب

**د نړۍ د نفوسو طبیعت، پر هغو اغېزمن اثرات مثلاً کلیوالتوب او ښاریتوب، غلبه او برلاسي، کسب او کار، علوم او صنعتونه او د هغو لاملونه او اسباب**

## د تاریخ حقیقت

فکر وکړئ چې د تاریخ رښتینولي دا ده چې دوی له انساني ټولنې(د نړۍ له نفوسو) خبر درکوي او د هغو حالاتو چې پر دې وګړو په طبیعي ډول راځي، لکه پخپلو کې جګړې او ترینګلتیا، یو له بله راشه درشه، د حکومتونو مرتبې او درجې، د کورنیو غیرت او لور، ډول ډول خپلمنځي غوسې او برلاسی او له هغو نه را پیدا شوې اغېزې راته شرحه کوي. لکه د هېوادونو فتحه کول، د حکومتونو جوړېدل، د حکومتونو مرتبې او درجې او هغه تګلارې چې انسان یې په خپلو کړو وړو او هڅو کې غوره کوي، د ژوند ژواک کار، علم او فن، صنعت او کسب او هغه ټول حالات چې د نړۍ له انساني ټولنې سره تړاو لري.

## په تاریخ کې د دروغ، رښتیا او غلطیو احتمال

څرنګه چې په خبرونو کې د دروغو او رښتیا امکان شته ځکه خو په تاریخ کې هم د دروغو او رښتیا امکان دی.

## په تاریخ کې د غلطیو سببونه

۱. بېلابېلې نظریې او مذهبونه دي، ځکه کله چې ذهن په اعتدال کې وي او کومه خبره اوري نو د هغو ارزونه کوي او له غور او فکر څخه کار اخلي، تر دې چې دا ورته معلومه شي چې دغه خبره رښتیا ده او که دروغ. کله چې ذهن په کومه نظریه او یا مذهب کې ډوب شي نو سمدستي هغه خبره مني چې د ده، د رایې او مذهب سره موافقه وي، ځکه چې د ده په عقل د پلوي توب پټی تړلی وي چې دی له پلټنې او څېړنې څخه منع کوي. دی غلط خبر مني او د غلطۍ ښکار کېږي او همدغه دروغ خبر بیا له فکر او غور پرته نقلوي.

۲. پر نقل کوونکیو باور دی چې د ده په ګومان هغه رښتیني دي، او دروغ ویل د هغو له شان سره نه لګېږي، د جرح او تعدیل پر اصولو د هغو حالات نه ارزوي.

۳. له موخو سره بې پروایي او بې نیازي ده، چې روایت کوونکي د خپله لیدلي او اورېدلي خبرونو له موخو څخه ناخبره وي او خیالي روایتونه راوړي ځکه خو په غلطیو کې لوېږي.

۴. د رښتیاو وهم (ګومان) دی، دغه سبب ډېر عام او زیات دی او په ډېرو ډولونو پیدا کېږي، زیاتره داسې پیدا کېږي چې پر روایت کوونکیو باور کول، کله داسې پیدا کېږي چې خبرونه له د باندې وضعې سره نه پرتله کېږي چې له وضعې سره یې مطابقت راشي. ځکه خو د مطابقت د نه شتون په سبب جعلي او دروغ خبرې وده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي او د رښتیا او غلطو خبرو تر منځ توپیر ورکېږي. اورېدونکی یې کټ مټ داسې نقلوي، په داسې حال کې چې هغه جعلي وي او له حقایقو څخه په مایلونو واټن لري.

۵. د عزتمندو او لویو خلکو ستاینې کوي، غواړي هغه خوشاله کړي او موخه یې هغو ته نېږدې کېدل وي، زیاتره غوره مالان د لویو خلکو خبرو ته ښکلې بڼه ورکړي او هغو ته رشوت ورکوي، په دې ډول دروغ خبرې په نړۍ کې مشهورېږي، دا چې پر انسان باندې په فطري توگه خپله ستاینه بڼه لگېږي او خلک د نړۍ د نورو اسبابو لکه (شتمني او مقام) ډېره تمه لري او زیاتره یې فضیلتونه او د هغه خاوندان نه غواړي.

۶. تر پاسنیو ټولو موادو مهم د ټولنې له عامې وضعې څخه بې خبري ده ځکه چې د وخت د هرې پېښې لپاره که ذات دی یا فعل، ذات ته د ورپېښ حالت لپاره ځانگړی طبعیت دی که د خبر اورېدونکی د رامنځته شویو پېښو او وضعې د ځانگړي طبیعت او ځانگړیو غوښتنو نه خبر وي نو همدغه خبرتیا د هغو په ارزونه کې ورسره مرسته کوي.

## د خبرونو ارزولو یوه معیاري قاعده

د خبرونو د ارزولو لپاره دغه قاعده معیاري حیثیت لري چې د هغو له مخې یې کره او کوټه معلوم کړي. د خبرونو د څېړنې لپاره دغه قاعده تر بلې هرې یوې غوره او ښه کار ورکوي.

## ډېر ناممکن او سخت خبرونه منل کېږي

ځینې وختونه خلک سخت او ناشوني خبرونه مني او باور پرې کوي او له نورو یې روایت هم کوي او خلک بیا له دوی نه روایت کوي او همدغه خبرونه نقلوي.

## د اسکندریې په اړه یو ناممکن خبر

لکه چې مسعودي له سکندر نه روایت کوي چې کله هغه د اسکندریې ښار جوړولو هوډ وکړ او سمندر یې په لاره کې خنډ شو، نو هغه د لرگیو یو تابوت جوړ کړ د هغه په منځ کې یې د ښیښې یو صندوق کېښود په هغه کې کېناست او د سمندر تل ته لاړ، د هغو سمندري شیطاني ځناورو تصورونه یې وکېښل چې د سمندر په تل یې لیدلي وو، له اوسپنې څخه یې د هغو مجسمې جوړې کړې او د اسکندریې د تاداوونو په مخکې یې هغه پر ځمکه ښخې کړې. کله چې د شپې له لوري دغه ځاروي راووتل او هغه یې ولیدې ووېرېدل او وتښتېدل او د ښار جوړول بشپړ شول، دا اوږده کیسه ده چې له بېځایه اوتو بوتو ډکه ده او په څو دلایلو ناشونې ده. لومړی دا چې د ښیښې صندوق د سمندر له څپو سره لگېږي ټوټه ټوټه کېږي. دوهم دا چې پاچا ځان په دغه ډول خطرناک او وژونکي ځای ته نه ورغورځوي، که کوم پاچا داسې وکړي مانا دا چې سنډا (راشه ما مړ کړه) معامله به وي. او صفا دا اعلانوي چې زه له تاج او تخته لاس پر سر یم او خلک بل پاچا ځان ته غوره کوي ځکه چې په دې ډول به هغه حتمي وژل کېږي او خلک به یې د بېرته راستنېدو یوه شبهه هم انتظار ونه کړي. دوی پر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library


باوري وي چې له دې دوکې نه د هغه د ژغورنې امکان نه شته. دریم دا چې د پېریانو خاصې بڼې او څېرې نه وي، البته هغوی په هره بڼه ځانونه اړولای شي، دا چې خلک وايي چې پېریان څو سرونه لري مانا یې کټ مټ دا نه ده، بلکې په دې مانا چې هغوی وېرووونکې څېرې لري. په لاندې څلورو دلایلو دغه کیسه ناممکنه ثابتېږي.
او د هغو د ناممکن ثابتولو لپاره همدا کافي ده چې په اوبو کې د مړه کېدونکي لپاره که په صندوق کې وي هم ساه نه شي اخیستی او همدا یې د مرګ لپاره بس ده. ځکه چې د طبیعي ساه اخیستلو لپاره به هوا نه وي او د هغو نشتون به یې اروا توده کړي، چې سړه هوا ور و نه رسېږي چې زړه او سږي یې پرې تازه شي او اعتدال ته راشي نو په آسانه به په خپل ځای مړ شي.

## په حمام کې لمبېدونکیو او په ژورو کانونو کې د ننوتونکیو د مرګ سبب

په حمام کې د لمبېدونکیو د مرګ سبب دا دی چې دوی ته د سړې هوا کلکه مخه نیول کېږي او په څاګانو او ژورو غارونو او کانونو کې چې دننه خلک وي د بد بویۍ له سببه چې سړه او تازه هوا نه ور رسېږي نو څوک چې هلته ورننوځي سمدستي مړه کېږي. په همدې ډول کله چې کب له اوبو راوویستل شي مړ کېږي، ځکه چې هوا د کب د سږو د متعادل پاتې کېدو لپاره کافي نه وي، دا ځکه چې کب ډېر ګرم دی او اوبه یې په اعتدال کې ساتي سوړوالي او یخې هوا ته چې ووځي د دغه ګرم مزاجه حیوان پر اروا غلبه کوي او هغه د مرګ کندې ته غورځوي.

### د برېښنا په جټکه د مرګ سبب

د همدغه اصولو له مخې هغه څوک مري چې برېښنا پرې لوېږي.

### د مسعودي بل د عقل خلاف روایت

د مسعودي عقل خلاف د یو بل روایت بیان د مینا د یوه بت په تړاو دی، چې په رومه کې دی چې د کال په یوه ټاکلې ورځ ډېرې میناګانې په مښوکو کې زیتون اخلي او راټولېږي چې له هغو نه د رومه خلک غوړي وباسي. تاسو فکر وکړئ چې د زیتون غوړیو د تر لاسه کولو دغه طریقه له طبیعي طریقې سره څومره د عقل خلاف ده.

## د بکري یو د عقل خلاف روایت

دغسې بکري هم یو د عقل خلاف روایت بیان کړی دی چې د ذات الابواب ښار د جوړولو په باب دی چې د دغه ښار ساحه تر دېرش پړاوه هم زیاته پراخه وه او لس زره دروازې یې درلودې په داسې حال کې چې ښار د ځانونو د خوندي کولو او امن کولو لپاره جوړېږي. موږ به پر دې تفصیلي خبرې وکړو، کوم ښار چې دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پراخ وي د هغو ساتنه او خونديتوب ناشونى دى ځکه چې پر هغو د دېوال راګرځول ناشوني دي، ځکه خو د داسې ښار کلا او برجونه جوړول ډېر ګران دي.

## د مسعودي درېيم د عقل خلاف داستان

دغه ډول مسعودي بيانوي چې د سجلماسه په دښته کې د مدينه الخاص په نامه يو ښار آباد شوى و چې ټول کورونه له اوسپنو او مسو جوړ وو کله چې موسى بن نصير المغرب فتحه کړ نو دغه ښار يې هم ونيو، د ښار ټولې دروازې تړلې وې، که به څوک پر دېوال ور وختل او دننه به يې ور وکتل نو لاسونه به يې وپړکول، بې خوده او بې واکه به شول او دننه به يې ټوپ کړل چې تر قيامته به بيا نه راوتل، يانې مړ به شو. دغه کيسه کوونکي ښاغلي په خرافاتو بوخت دي د عادت په اعتبار دا محال دي، شهسوارانو او لار موندونکيو د سجلماسه دښته تر پښو چاڼ کړه خو د دې ښار نښه يې ونه موندله، بيا کومې خبرې چې هغو د دې ښار په باب بيان کړې هغه ټولې د معمول له لحاظه ناشونې او د فطري وضعې خلاف دي، ځکه چې د ښار ټول کورونه له اوسپنو نه جوړېږي، نه يې دېوالونه له اوسپنو جوړېږي، څومره فلزات چې په نړۍ کې شته هغه د کور د لوښو او وسايلو لپاره کافي نه دي، دا خو پرېږده چې د ښار دېوالونه او کورونه دې ترې جوړ شي، دغه خبره عقل نه مني، په تاريخ کې داسې ډېر مثالونه شته، د خبرونو ارزول د وګړو او ټولنې پر طبيعتونو پوهېدو پورې تړاو لري د ارزونې دغه طريقه ډېره غوره او د اعتبار وړ ده، چې له هغو د رښتياو او دروغو خبرونو تر منځ توپير کېږي، که څه هم د خبرونو رښتينولي د روايت کوونکيو له عدالت څخه هم معلومېږي خو عدالت دوهمه درجه لري. او د ټولنو د طبيعي حالاتو د څېړنې طريقه لومړۍ ده، د روايت کوونکيو د عدالت څېړنه هغه مهال کېږي چې د خبر د رښتيا والي امکان وي، خو چې ظاهراً خبر ناشونى او د عقل خلاف وي د جرح او تعديل ګټه څه ده؟

## د خبرونو د صحت کچه

د دې لپاره پوهو د عقل خاوندانو د خبر په لړ کې دا هم يو سبب ښودلى چې له الفاظو څخه د ناممکن مانا واخلي او يا يې له عقله لرې تاويل وکړای شي. هوکې په شرعي خبرونو او اثارو کې د روايت کوونکيو ارزونه او پلټنه اړينه ده چې لږ تر لږه د هغو پر رښتينولۍ د برلاسي خيال خو وي، ځکه چې احاديث د احکامو او عبادتونو په اړه دي چې خلک پرې مکلف دي او شرعې پر هغو عمل واجب ګرځولى دى. د خيال د رښتياتوب لاره د عدالت او ثبت په لحاظ د روايت کوونکيو ارزول دي، ځکه خو پر داسې خبرونو کې د هغو د پېښېدو پر امکان فکر کول اړين دي او د هغو د روايت کوونکيو عدالت مهم او لومړيتوب همدغه امکان دى. کله چې دغه خبره منل شوې نو د صحيح او غلط خبرونو تر منځ د توپير لپاره همدغه قاعده ټاکل شوې ده چې په ټولنه کې د هغو د پېښېدو او نه پېښېدو په باب فکر وشي. د ټولنې ذاتي او طبيعي حالات او د نه اټکل کېدونکيو تصادفي پېښو او غير طبيعي حالاتو تر منځ توپير وکړای شي. که موږ پېښې او خبرونه پر دې اصولو ارزوو نو په هغو کې د حق او باطل او رښتيا او غلطو تر منځ توپير کېږي. موږ به داسې قانون ومومو چې د دلايلو له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د خبرونو پر حقایقو رڼا اچوي او په هغو کې به شک پاتې نه شي. بیا چې موږ په ټولنه کې د واقعیت سره سم کومه پېښه اورو نو راته معلومه به شي چې کوم خبر د منلو وړ دی او کوم نه دی، یو سم معیار به مو لاسته راشي چې مؤرخ د هغو په واسطه صحیح او غلط پېژني.

## د لومړي کتاب موخه او هدف

زموږ د دغه لومړي کتاب موخه او مقصد همدغه دی چې بشپړه موضوع یې ټولنه او بشري اجماع ده او مستقل مسایل په کې راځي، یانې هغه پېښې او حالات چې یو پر بل پسې راځي، د هر علم که وضعي وي او که عقلي همدغه حال وي.

## د تاریخ د یوې نوې موخې او مقصد موندل

په یاد ولرئ چې د تاریخ په دې موخه خبرې بلکل نوې او د یوه ځانګړي فکر لرونکې دي. په دې کې ډېره ګټه هم ده او له ډېر فکر او غور وروسته یې درک موندل شوی دی. دغه بحث د خطابت په علم کې هم شامل نه دی ځکه چې د خطابت او وینا قولونه یوازې منعه کوونکي وي چې عامو خلکو پام د کوم نظر په لور وراړوي او یا یې د هغوی د ایسارولو لپاره ګټور وي. نه دا د ښار د سیاست او ادارې په علم کې شامل دی ځکه چې مدني سیاست د کورني او یا ښاري نظم جوړولو ته وایي چې د اخلاقو او حکمت له غوښتنو سره سم واجبېږي، تر څو د عامو خلکو لپاره داسې لاره پرانیزي چې د بشریت خوندیتوب او بقا پکې وي. ځکه د دې موضوع له هغو دوو نورو علمونو له موضوع نه بېله ده، البته کله کله دغه دواړه د دې په څېر کېږي. دغه علم بلکل نوی ایجاد شوی دی، پر الله ج سوګند ما ته په نړۍ کې داسې څوک معلوم نه دی چې پر دې علم یې ډېره رڼا اچولې وي.

## ما ته یوازې د یوه قوم علوم په لاس راغلي

معلومه نه ده چې له دوی نه بې پروایي شوې ده، د علماوو په شان کې خو داسې تصور هم نشي کېدای، کېدای شي علماوو پردې څه لیکلي وي بلکې بشپړ وضاحت به یې کړی وي خو ما ته به نه وي رسېدلي، ځکه علمونه ډېر دي او د انسانانو په پرګنو کې د حکمت خاوندان ډېر دي. او هغه علوم چې تر موږ نه وي رارسېدلي د هغو په پرتله چې رارسېدلي دي ډېر زیات دي، فارسي علوم چېرته دي چې د ایران تر فتحې وروسته، د حضرت عمر فاروق اعظم «رض» په حکم له منځه یوړل شول؟ او د کلدانیانو، سریانیانو او بابلیانو علوم چېرته دي؟ ټول د پېښو ښکار شول، موږ ته یوازې د یوه قام (یونانیانو) علوم رارسېدلي دي، ځکه چې له مامون سره د دغو علومو د ژباړې مینه وه او هغه زیات ژباړن پر دې کار وګومارل، په دې لار کې یې ډېر مال ولګاوه، موږ د نورو قومونو د یوه علم نه هم خبر نه یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هر حقیقت د مستقل علم حیثیت غوره کولای شي

کله چې په هر کار کې یو حقیقت دی او هغه له خاص طبیعت سره مینه لري، نو د هغو په ذاتي عوارضو رڼا اچول کېدای شي او هر مفهوم او حقیقت د یوه خپلواک، خاص او نوي علم په بڼه راتللای شي. کېدای شي حکیمانو دې ته پام اړولی وي او مفصله او ثابته رڼا یې پرې اچولې وي خو موږ یوازې د خبرونو د سمون د حیثیت له مخې په تفصیل راوړي. لکه چې درانه لوستونکي پوهېږي که څه هم د دې علم مسایل ذاتي او د ټېټې درجې دي، خو موخه یې د پېښو پلټنه او خبرونو معمولي شیان دي. ښایي علماوو هغه پرېښی وي او یا الله ج پوهېږي انسان ډېر لږ پوهه لري. بشپړ علم او بصیرت له الله ج سره دی.

## د دې علم له ځینو مسایلو څخه پوهان په علومو کې استدلال کوي

عالمان له دغه علم څخه چې پرې غږېږو د زیاترو علومو د مسئلو په دلایلو کې کار اخلي، چې د دې وړ دي چې د علم د موضوع او موخې له مسئلو سره یو شان وي. د ساري په توګه عالمان او حکیمان د نبوت د اړتیا پر اثبات لیکل کوي چې انسان د خپل ژوند او شتون د دوام لپاره د یو بل مرستې ته اړتیا لري ځکه خو دوی حاکم او له مناسبو کارونو څخه را ایساروونکي شارع ته سخته اړتیا لري. په دې ډول د فقهې اصولو لپاره د ژبې د اړتیا ثابتولو لپاره علما لیکي څرنګه چې انسانان یو بل ته اړتیا او په ټولنیز ژوندانه کې په طبیعي ډول اړ دی. د همدې لپاره د خپل زړه د خیالونو د څرګندولو لپاره جملو ته اړتیا لري او په جملو کې د خپل زړه د خیالونو بیانول او ترجماني ډېر اسانه دي، ځکه خو هغه ژبې ته اړتیا لري. په دې ډول د دې اثبات لپاره چې شرعي مسایل ځانګړې موخې لري، د فقهې پوهانو لیکلي چې له زنا څخه نسب ګډوډېږي او سوچه نه پاتې کېږي او دا د انسان نسل خرابوي. وژنې هم د انسان پرګنې بېلارې کوي، ظلم آباد ښارونه په کنډوالو بدلوي او په انسانانو کې بدګنې راپیدا کوي، غرض دا چې د شریعت ټول احکام پر خپل خپل ځای یوه ځانګړې موخه لري او د وګړو تکیه د وګړو په خوندیتوب ده، چې په ټولنه کې کوم ډول فساد او په کوم ګوټ کې کومه خرابي پیدا نشي، ګواکې په دې علومو کې د ټولنې پر عوارضو بحث کېږي لکه چې له وړاندې شویو مثالونو څخه معلومېږي.

## د دې علم د علماوو په بېلابېلو جملو کې یو څه مسئلې

دغه ډول موږ ته د دې علم ځینې مسئلې د حکیمانو په ځینو جملو کې هم تر نظره راځي، خو هغوی ټول په یوه ځای کې نه دي بیان کړي، لکه مسعودي چې د کونګ په نکل کې د موبدان بهرام بن بهرام خبره رانقلوي چې کونګ وایي چې ای پاچا! د هېواد عزت په شریعت د عمل او د الله ج به اطاعت او د اوامرو او نواهیو په حدودو کې اوسېدو سره ځلور چنده زیاتېږي او د هغه عزت او شان ورځ تر بلې زیاتېږي او له حکومت پرته شریعت د شتون جامه نشي اغوستلی. د حکومت عزت د ښو خلکو څخه وي او د خلکو ژوند له مال او شتمنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه تر لاسه کېږي، ابادي عدالت ته اړتيا لري، «عدل» يوه تله ده چې په دنيا کې خښنه شوې ده او دا الله ج خښنه کړې ده، د دې لپاره يې يو سمبالوونکی او څاروونکی غوره کړی دی چې «پاچا» ورته ويل کېږي.
په همدې مضمون د نوشېروان کتې متې خبره ده چې هېواد په پوځ ولاړ وي، پوځ پر مال او شتو، مال په خراج او ماليه، خراج په ولس ولاړ دی، ولس له عدالت سره تړلی عدل له سمو حاکمانو سره تړاو لري او سم حاکمان د وزيرانو له غوره چلند سره، د دې ټولو څوکه او سر پاچا دی چې د خپل ولس پالنه کوي او د دوی د روزلو او اصلاح ځواک ورسره دی تر څو دی د رعيت خاوند پاتې شي او رعيت د ده مالکان نشي، پاچا په دې طريقه پر ولس غالب پاتې کېږي که نه رعيت او ولس به پر هغه غلبه وکړي.

## د سياست په موضوع د ارسطو يو کتاب

د سياست پر موضوع د ارسطو يو کتاب يادېږي، هغه په لوړه کچه په عامو خلکو کې لوستل کېږي خو په دې کتاب کې د دې هغه ټول مسايل نه دي راغلي او نورې خبرې هم ورسره ګډې شوې دي، د دلايلو هم بشپړ حق نه دی ادا شوی، په دې کتاب کې هم هغه جملې چې له موبدان او نوشېروان نه رانقل شوې د پوهې او ادراک وړ اشارې شته، د پام وړ قول دا دی چې «نړۍ» يو «چمن» دی چې «کښت» يې «حکومت» دی، حکومت يو «ځواک» دی چې طريقه له هغو څخه ژوندۍ اوسېږي، «طريقه» په يوه بڼه «سياست» دی چې پاچا يې سمبالوي، پاچا يو «نظام» دی چې پوځ ځواک ورکوي، پوځ د مرستندويانو يوه ډله ده چې کفالت يې شتمني کوي، مال له روزۍ څخه دی چې وګړي يې راټولوي. رعيت هغه تر لاس لاندې خلک دي چې عدالت سيوری پرې غوړوي او عدل غوره او مينه ناک عادت دی چې له هغه څخه د نړۍ بقا تضمين ده. پر اتمه جمله دايره پای مومي، دا له حکومت او سياست څخه ډکې اته جملې دي چې يو له بل سره تړلې او يو ځای شوې دي. لومړۍ جمله د هرې وروستۍ جملې له لومړۍ برخې سره نښتې ده او دغه اته جملې د دايرې اته ټکي دي چې ګرده دايره ترې جوړه ده چې څنډه يې ټاکل شوې نه ده، ارسطو پر دې ذهني ايجاد وياړي او وايي چې د دې سترې ګټې دي.

## د ارسطو اته ټکي او د ابن مقفع سياسي مسايل زموږ په کتاب کې مدلل دي

که لوستونکي د حکومتونو او پاچا په فصل کې زموږ بيان ولولي او هغه په پوره پوهه او غور ولولي نو په دې کې به د دې جملې بشپړ تفسير او د هغو اجمالي تفصيل بشپړ له څرګندو دلايلو سره ومومي او په هر ګوټ به رڼا اچوي. الله ج د ارسطو له تعليم له موبدان او نورو له لارښوونو پرته دغه جملې زموږ په زړه کې ځای کړې دي. په دې ډول د ابن مقفع د وينا او د هغه له دلايلو پرته عامې سياسي رسالې په دې کتاب کې مو له دلايلو سره راوړې، چې هغه مو د بلاغت او انشا له اصولو سره په ښه بڼه راوړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پر سراج الملوک نیوکه

په دې ډول قاضي ابوبکر طرطوشي په خپل کتاب سراج الملوک کې پر دې راڅرخي د دې کتاب پر بابونو وېشل هم زموږ د کتاب په شاو خوا کې دي او مسایل يې هم، خو د هغه غشی پر نښه نه دی لګېدلی، نه يې سمه لاره غوره کړې ده نه يې مسایل بشپړ بیان کړي دي او نه يې د دلایلو وضاحت کړی دی. هغه یوازې د يوې مسئلې باب پرانیستی زیات حدیثونه او روایات يې رانقل کړي دي. د پارس حکیمانو لکه بزر جمهر، موبدان او نورو د هندي حکیمانو او د دانیال هرمس او نورو د نړۍ لویانو بېلابېلې سوچه خبرې او جملې يې راټولې کړې دي، د پلټنې او ارزونې په واسطه يې د هغو له څېرې پردې نه دي پورته کړې او په طبیعي ډول يې د هغوی له مخ نه پلو نه دی لرې کړی، هغه یوازې ساده روایت او ترکیب دی او تر ډېره وعظ او نصیحت ته ورته دي. هغه د موخې شا وخوا ته راګرځې خو له بیان يې عاجز دی او خپلې ارادې ته يې د عمل جامې اغوستلو توان نه لري او نه د ټولو مسایلو پر بیان برلاسی دی. زموږ په زړه کې الله ج دغه پوهه واچوله او موږ ته يې داسې علم راوښود چې هر څه مو واضح کړل. بیا مو چې ټول مسایل له لاملونو سره بیان کړل د هغو ډېر اړخونه مو د ټولو علمونو نه بېل کړل او حدود مو يې وټاکل، دا ټول د الله ج د توفیق او لارښوونې احسان دی که کومه مسئله پاتې وي يا له بلې مسئلې سره ګډه شوې وي نو درانه څېړونکي دې هغه اصلاح کړي. زما لپاره دا نېکمرغي ډېره ده چې ما دوی ته یوه لاره پرانیستله او هغه مې روښانه او څرګنده کړه، الله ج چې چا ته وغواړي رڼا ته يې راولي، اوس به موږ په دې کتاب کې د ټولنې هغه حالات بیان کړو چې انسانان د هېواد، کسب، علمونو، صنعتونو په لړ کې په خپل عام ژوند کې په عام ډول ورسره مخ کېږي، دا له دلایلو سره په داسې انداز بیان شي چې له هغو څخه د عام او خاصو معلوماتو ارزونه په روښانه توګه د درنو لوستونکيو مخې ته راشي او شکونه او وهمونه به لرې شي، راځئ ويې ګورئ:

## بشري خصلتونه چې انسان له حیوان نه اوچتوي

څرنګه چې انسان له نورو حیواناتو نه د څو ځانګړتیاو له لامله لوړ دی، چې په هغو کې علوم او صنعتونه هم دي چې د انساني فکرونو پایلې او حاصل دي، «فکر» د انسان داسې ځانګړتیا ده چې په همدې سبب هغه له حیواناتو څخه اوچت او په ټولو مخلوقاتو کې افضل دی.

د انسان یوه ځانګړتیا دا هم ده چې هغه یو «حاکم» ته اړتیا لري چې له بدیو او جرمونو څخه يې را ایسار کړي او ځواکمن پاچا ته يې هم اړتیا ده چې له دې دواړو پرته د انسان شتون محال دی، البته د نورو حیواناتو شتون ممکن دی خو د شاتو مچیو او مېږیانو په باب ویل کېږي چې له منظم نظام سره د پاچا اطاعت کوي او ژوند ته دوام وکوي، که څېرته دا خبره رښتیا وي نو د دوی دغه اړتیا يې د دوی په زړونو کې اچولې ده د فکر او نظر اړتیا نشته. یوه ځانګړتیا دا هم ده چې انسان د روزۍ په لټه کې زیار ګالي او له همدې لارو د هغو د لاسته راوړو او د هغو د وسایلو د لاسته راوړو لپاره بوخت وي. ځکه چې د ژوند د دوام لپاره دوی خوړو ته اړتیا لري او الله ج د روزۍ د لټولو لارې چارې ورپېژندو کړې دي او د ژوند ژواک وسیلې يې ورښودلې دي. فرمايي: (ژباړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ج هر شی پیدا کړي او بیا یې لاره ورښودلې) او د هغو یوه ځانګړتیا مینه او د اړتیاوو تر لاسه کولو په لړ کې یو له بل سره د شریکو هڅو او اوسېدو تلوسه هم ده، چې موږ ورته ټولنه وایو. که دغه ټولنه په ښار کې وي او که په کلي کې، دا چې انسان په طبیعي ډول یو د بل مرستې ته اړ دی چې وروسته به یې بیان کړو.

## د ټولنې ډولونه

ټولنې دوه ډوله دي. د کلي اوسېدونکي، دغه ټولنې د ښارونو شاوخوا ته په غرونو کې، د اوبو او څړ ځایونو شا و خواته په وړو وړو کلیو کې، چې د خاورینو میدانونو شا و خوا ته وي اوسېږي. دوهم یې ښاري اوسېدونکي دي چې په لویو او وړو ښارونو او ښارګوټیو او لویو کلیو کې په ګډه ژوند کوي، د دې ټولنې خلک په خامو او یا پخو کورونو کې ژوند کوي چې د هغو کلاو په دېوالونو کې دننه خوندي وي.

## په ټولنه کې انسان ته شپږ ستونزې پېښېږي

په هر صورت په هر ډول ټولنه کې په ټوله کې ځینې خبرې په ذاتي ډول مخې ته راځي ځکه خو په دې کتاب کې په شپږو فصلونو بحث پرې راټولوو. په لومړي فصل کې د عامو خلکو ژوند، د هغو ډولونه او د هغو د نفوسو د له منځه تلو بیان دی. په دوهم فصل کې د کلیو د خلکو ژوند د دوی د کلیو حدود او د نفوسو حدود دي، د قبیلو او ځنګلي قومونو بیان دی. په دریېم فصل کې پر حکومتونو، خلافتونو او امامتونو، هېوادونو او د پاچا پر مقام بحث دی. په څلورم فصل کې ښاري نفوس او د لویو او وړوکیو ښارونو په باب بحث دی. په پنځم فصل کې، صنعت، ژوند ژواک، کسبونه او د هغو وسایل تر بحث لاندې نیول شوي وي، شپږم فصل علم او نورو ته په زده کړو او د زده کړو په تر لاسه کولو ځانګړې شوی دی. د کلي آبادۍ ته د دې لپاره لومړی اشاره شوې چې اصلي آبادي همدغه ده چې وروسته به رڼا پرې واچوو. په ښارونو کې پاچا ته لومړیتوب ورکړل شوی. ژوند ژواک ته مو په علم ځکه لومړیتوب ورکړی چې دا طبیعي او اړین شی دی، او علم د کمالي او له لومړنیو اړتیاوو وروسته اړتیا ده ځکه چې له هغو څخه کمال او هنر پیدا کېږي او دا د ژوند لپاره لومړۍ اړتیا نه ده. ښکاره ده چې لومړنۍ اړتیا او ضرورت پر کمالي اړتیا مقدم بلل کېږي. ما د تولیدي کار لپاره یو ځای صنعت اېښی دی، ځکه چې صنعت د ځینو دلایلو له مخې او د ټولنې له لحاظه په کسب کې راځي. پر مسایلو سم پوهېدل د الله ج په توفیق او مرسته کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لومړي کتاب لومړی فصل

## په لنډ ډول د انساني نفوس یادونه، درې سریزې (لومړی سریزه) د ابادۍ او ټولنې اړتیا

### د انساني ژوند لپاره ټولنې ته اړتیا ده

انساني ټولنه اړین څه دي، حکیمان یې د اړتیا تعبیر په دې جمله کې کوي چې په انسان کې په فطري ډول ټولنیز خصلت دی یانې د انسان لپاره ټولنه ضروري ده، دې ته پوهان مدینه یا ښار وایي، زموږ په محاوره کې د (ولس او ټولنې څخه) همدغه موخه ده.

### د ټولنې په اړه نور وضاحت

که زیات تفصیل غواړې نو واوره! الله ج انسان پیدا کړ، هغه ته یې داسې بڼه ورکړه او ده ته یې ژوند تېرول او دوام له خوړو پرته ناشونی کړ، په طبیعي ډول یې د خوراک د لټون لارې چارې ور وښودلې، او داسې ځواک یې ور وباښه چې روزي پرې پیدا کړي، خو په یوازې توګه له ډوډۍ پیدا کولو ناتوانه دی او له نورو خلکو پرته یوازې ژوند نه شي تېرولی، د ساري په توګه د یوې ورځې خوراک لپاره فرض کړئ که انسان وغواړي چې ډوډۍ وخوري نو له ډېرو کارونو پرته یې نه شي خوړلی. لومړی به اوړه کوي بیا اوړه اغږي، بیا به ډوډۍ پخوي، وروسته به ډوډۍ لاسته ورځي. بیا دا درې واړه چارې مرستندویو او وسایلو ته اړتیا لري او ډېر خواري کښان لکه پښ، ترکاڼ، کلال نور کسبګر په کار دي. ښه فرض کوو چې انسان له زحمت پرته یوازې د غلې دانې نیني وخوري او خېټه ډکه کړي، خو هغه د غلې تر لاسه کولو لپاره ډېرو نورو کارونو ته اړتیا لري چې له یادو کارونو څخه ډېر زحمت غواړي لکه د تخم کرل، د هغو ربېل، غوبل کول، او بادول چې دانې یې له وښو جلا شي، غرض دا چې دا ټولې چارې ډېرې وسیلې او ماشینونه غواړي چې له لومړنیو کارونو څخه هم ډېر دي او دا ناشونې ده چې یوازې یو انسان دې دغه ټول او یا یوه برخه کارونه تر سره کړای شي. ځکه خو هغه د نورو انسانانو ډېرو ځواکونو ته اړتیا لري تر څو ده او نورو انسانانو ته ډوډۍ ورسېږي. ځکه خو له یو بل سره په مرسته ډوډۍ پیدا کېږي او د ډېرو انسانانو د خوراک اړتیا پوره کېږي. همدغسې هر انسان د ځان د خوندیتوب او عافیت لپاره نورو ته اړتیا لري، څرنګه چې الله ج حیواناتو ته ځانګړی طبعیت ور په برخه کړی او په هغوی کې یې ځواکونه وېشلي دي نو زیاتو حیواناتو ته یې تر انسان زیات ځواک ورکړی، د ساري په توګه اس تر انسان زیات ځواکمن دی، همدارنګه په خره کې، په غوایي کې، په فیل کې او په نورو ... کې تر انسان زیات ځواک دی په داسې حال کې چې د حیواناتو په فطرت کې دا فطري زیاتوالی دی، ځکه چې هر حیوان ته یې داسې یو غړی ورپه برخه کړی چې د نورو حیواناتو له بریدونو ځان پرې وساتلای شي، د دې ټولو په بدل کې یې انسان ته «فکري ځواک» وربښلی دی او لاسونه یې هم ورکړي دي، صنعتونه انسان ته هغه وسایل برابروي چې د ټولو حیواناتو د دفاعي غړو دنده تر سره کوي. د ساري په توګه؛ نیزې د ښکرو ځای نیسي تورې د خونړیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنجو کار ورکوي او له ډالونو د کلکو او پنډو پوستکو کار اخیستل کېږي، همدغسې نور وسایل هم در واخلئ. جالینوس د منافع الاعضا په نامه یو کتاب لیکلی دی، په هغو کې د هغو ټولو خبرو تفصیل راغلی ځکه خو یو سړی یوازې د خپل ځواک پر مټ له یوه ځناور سره هم مقابله نشي کولای، په ځانګړې توګه د ښکاریو ځناورو سره خو له وسلې پرته هېڅ هم نه شي کولای، دغسې هغه پر وسله جوړوونکي هم برلاسی نه دی تر څو د نورو مرسته ورسره نه وي او له مرستې پرته تیاره وسله هم نه شي کارولای، لنډه دا چې یو د بل له مرستې پرته نه روزي تر لاسه کولای شي او نه ژوند کولای شي ځکه چې د ژوند د دوام لپاره خوراک ضروري دی او د خوراک د پیدا کولو لپاره مرستې ته اړتیا ده همدغسې د ساتنې لپاره وسله اړینه ده او د وسلې د جوړولو لپاره مرستې ته اړتیا ده، که یو له بله مرسته او ملاتړ نه وي انسانان به ځناور وخیري او و به یې خوري او ټول انسانان به د مرګ کندې ته پرېوزي او ورک به شي.

## د مرستې ارزښت

د مرستې په برکت خواړه او اذوقه تر لاسه کېږي او د ساتنې لپاره وسله هم او د انسان د بقا لپاره د الله ج حکمت بشپړېږي. له دې وینا څخه دا پایله اخلو چې د ټولو انسانانو لپاره ټولنه او ګډ ژوند اړین دی که نه د انسانانو د ژوند دوام او د نفوسو خپرېدل او د انساني ژوندانه د دوام موخه نه بشپړېږي. د عمران او آبادۍ مانا همدغه ده چې موږ د دې علم موضوع غوره کړې ده. زموږ له دې وینا څخه یو ډول ثبوت هم راوځي که څه هم د فن خاوندانو ته د موضوع ثابتول اړین نه دي، ځکه چې دا د منطق منل شوې مسئله ده چې د پوهې خاوند ته د موضوع اثبات واجب نه ده، خو منع هم نه ده بلکې تر خوښې پورې اړونده ده او د موضوع بیانول ښه خبره ده.

## د ټولنې لپاره د پنځو شیانو کېدل اړین دي

کله چې انسانان سره راټولېږي او له دې څخه د نړۍ نفوس بشپړېږي نو دوی ته د یوه حاکم اړتیا هم ده تر څو دوی د ظالمانو له ظلم او زیاتي څخه وژغوري ځکه چې په حیواني خصلتونو کې ظلم او زور شته او کومې وسلې چې د ځیرونکیو ځناورو نه د ساتنې لپاره جوړې شوې دي هغه له ظلم او تېري څخه د انسانانو د را ایسارولو لپاره بس نه دي، ځکه چې وسلې له هر چا سره نه وي ځکه پر وسلې سربېره له ظلم څخه د انسانانو د را ایسارولو لپاره یو چا ته هم اړتیا ده او دغه څوک له انسانانو څخه باید وي له نورو څخه نه شي کېدای. ځکه چې حیوانات ټول له عقل او الهام څخه بې برخې دي. خامخا به داسې څوک له انسانانو څخه یو وي چې پر دوی برلاسې او واکمن وي او له هغه سره بشپړ ځواک وي تر څو یو څوک پر نورو ظلم او زیاتی ونه کړي. دې حاکم ته موږ پاچا یا سلطان وایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پاچاهي انساني ځانګړتیا ده

له دې څخه دا هم معلومېږي چې د انسان لپاره د پاچا درلودل د هغه په فطري خصلتونو کې شامل دی او له پاچا پرته هېڅ چاره نه لري.

### په ځینو حیواناتو کې هم پاچا وي

د پوهانو د قول له مخې په ځینو حیواناتو کې هم پاچا وي، لکه د شاتو په مچیو کې، په مېږیانو او ملخانو کې، له څېړنو څخه معلومه شوې چې په هغو کې کوم حیوان چې تر نورو لوی او اوږد وي هماغه یې پاچا او حاکم وي او نور ټول یې د حکم او امر اطاعت کوي. خو په انسانانو کې د پاچا کېدلو لپاره «فکر» او «سیاست» په کار دی، او د ځناورو بیا «عادت» او «طبیعت». الله ج هر څه پیدا کړي او هغوی ته یې لاره ښودلې ده.

### د نبوت یو عقلي دلیل

په دې دلیل فیلسوفان په عقلي دلیل د نبوت د ثابتولو لپاره زیاتوي چې د انسان لپاره واکمن ته اړتیا ده او دغه حاکم په یوه شریعت پورې تړاو لري چې خاص له الله ج څخه به یې راوړي او هغه یو انسان راوړي. او هغه انسان چې پیغمبر وي نو دا صفتونه باید پکې وي چې تر نورو لوړ وي، الله ج خپل خاص بنده ګان د لارښوونې لپاره غوره کوي او را استوي یې تر څو خلک د هغه خبرو ته سرونه ټیټ کړي او د هغه خبره ومني، تر څو له نه او نو پرته د الله ج حکم په دوی کې جاري شي او هغه پرې واکمن کړي.

### د پیغمبرۍ د عقلي دلیل رد

که فکر پرې وکړئ دا به درته معلومه شي چې د پوهانو دغه خبره بې دلیله ده ځکه چې انساني ژوند پر هغو اصولو او قواعدو هم جوړېږي چې حاکم یې پخپله جوړوي او د خپلو پلویانو په زور یې پر نورو خلکو عملي کوي او هغوی په خپلو جوړو شویو قوانینو لارې ته راولي. ځکه چې په نړۍ کې یهود او نصارا او د پیغمبرانو منونکي لږ دي، او مشرکان چې کتاب نه لري ډېر دي. له دې سره د هغو لویې امپراتورۍ هم دي او لوی لوی اثار یې د ژوند او شتون یادونه کوي. اوسمهال په شمال او سوېل کې د دوی حکومتونه شته دي، په داسې حال کې چې دوی له نبوت نه منکر او آزاد دي او کوم پیغمبر نه مني او هغوی ممتنع ګڼي، له دې نه ښه ښکاري چې د نبوت پر وجوب د علماوو دغه عقلي دلیل سم نه دی، ځکه چې د عقل له مخې دغه دلیل د نبوت غوښتونکی نه دی، ځکه خو د نبوت لپاره دلیل یوازې شرعي دی لکه چې د سلفو علماوو نظر دی.

## دوهمه مقدمه د نفوسو څېړنه او د ابادۍ د ځینو ونو، سیندونو او اقلیمونو لور ته اشاره

### ځمکه ګرده (کروي ده)

وګورئ د نړۍ پر وضعه د فکر او غور کوونکیو پوهانو په کتابونو کې دغه خبره روښانه ده چې ځمکه کروي (ګرده) ده، او د اوبو په عنصر کې راښکېل ده او لکه د انګور یوه دانه په اوبو کې لامبو وهي. کله چې الله ج وغوښتل پردې حیوان پیدا کړي او انسان یې چې پر ټولو حیواناتو د خلافت نېکمرغي ورپه برخه ده، پیدا کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو له ځينو ځنډو نه يې اوبه ور ټولې کړې. له دې نه دا شک پيدا کېږي چې اوبه د ځمکې لاندې دي چې دا سمه نه ده ځکه چې د ځمکې لاندې د هغو مرکز دی او د ځمکې اړخونه د مرکز د جاذبې د ثقل په سبب د مرکز په لور ور مايل دي او هغه اوبه چې ځمکه پکې را ايساره ده هغه د ځمکې پر مخ دي، البته په يوه حساب تر ځمکې لاندې هم دي.

## د ځمکې نيمايي برخه پرانيستې ده

د ځمکې هغه برخه چې په اوبو بېله شوې ده نيمايي ده او له څلورو خواوو په اوبو کې را ايساره ده، دې ته محيط سمندر وايو، عجميان لبلابه اوقيانوس ورته وايي، دې ته توره اوسره بحيره هم وايي.

## د ځمکې څومره برخه اباده ده

د ځمکې هغه نيمه کره چې اوبه ترې لرې شوې دي اباده هم ده او شاړه هم ده. شاړه يې تر ابادۍ زياته ده، جنوبي برخه يې تر شمالي هغې زياته شاړه او غير اباده ده. د ځمکې په کره کې اباده برخه په شمالي برخه کې ډېره ده چې د کروي سطحې په بڼه ده. سويل لوری د استوا پر کرښه ختمېږي او شمالي لوری په شمالي کرښه پای مومي. چې شا ته يې غر دی چې د هغو او اوقيانوس سمندر تر منځ ولاړ دی. د هغو په منځ کې ياجوج او ماجوج دېوال هم موندل کېږي. دغه غر د ختيځ لور ته غځېدلی دی او له ختيځ او لوېديځ دواړو لوريو راځي تر محيط سمندر پورې رسېږي، خلک د ځمکې د پرانيستې په اړه وايي چې د کرې نيمايي بلکې ترې کمه ده، او د دې پرانيستې برخې ۱/۴ برخه اباده ده.

### د څلورمې برخې اووه برخې يا اقليمونه

دغه څلورمه برخه د اوسېدو وړ چې اباده ده په اوو اقليمونو وېشل شوې ده.

## د استوا کرښه، د البروج سيمه او معدل النهار

د استوا کرښه ځمکه له ختيځه تر لوېديځه په دوو برخو وېشي، دې ته د ځمکې اوږدوالی وايي، د ځمکې پر مخ دا تر ټولو لويه فرضي کرښه ده، لکه په اسمان کې چې تر ټولو لويه کرښه د البروج سيمه يا معدل النهار دی. البروج سيمه په ۳۶۰ درجو وېشل شوې ده، يوه درجه يې د ځمکې پر مخ د مزله په کچه ۲۵ فرسخه ده، هر فرسخ ۱۲ زره گزه دی (يو ميل څلور زره گزه دی) په دې حساب يو فرسخ درې ميله او پنځه سوه گزه راځي، يو گز ۱۲۴ انگل او يو انگل له اوو وربشو سره مساوي دی چې په اوږدو يو له بل سره څوکه په څوکه کېښودل شي، له معدل النهار دايرې نه چې د ځمکې د استوا کرښې په مقابل کې ده او اسمان په دوو برخو وېشي او د دواړو قطبونو تر منځ ۹۰ درجې واټن دی، خو په شمال کې نفوس د استوا کرښې تر ۶۴ درجې پورې دی اونوره برخه يې شاړه ده ځکه چې هلته ډېره يخني ده او اوبه کنگل دي، لکه په جنوب کې چې د ډېرې تودوخې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبب بلکل استوګنه نه شته، موږ به انشاالله دغه ټولې خبرې په تفصیل يادې کړو. بيا به د دې اباديې برخې څلور خواوې، او په هغو کې چې څومره لوی او واړه ښارونه، غرونه، سيندونه، وياڵې، ځنګلونه او دښتې دي، (لکه بطليموس چې د جغرافيې په اثر کې او ورروسته د زخار کتاب ليکوال بيان کړي دي) هغه يې په اوو برخو وېشلې چې اووه اقليمه ورته وايي. دغه برخې د ختيځ او لوېديځ تر منځ په فرضي کرښو په نښه شوې دي چې په سور کې يو شان دي خو په اوږدوالي کې توپير لري. لومړۍ حصه له دوهمې لويه ده او دوهمه تر درېيمې. چې وروسته بيا وړې کېږي او اوومه برخه تر ټولو وړوکې ده، ځکه چې دا د دې دايرې غوښتنه ده چې د ځمکې له کرښې څخه د اوبو د لرې کېدو په سبب په ځمکه کې پيدا شوې ده.

## هره برخه لس ټوټې ده

د جغرافيې پوهانو په اند هره برخه له ختيځه تر لوېديزه پورې په لسو لسو ټوټو وېشل شوې ده، او د هرې ټوټې او په هغو کې د شته نفوسو په باب خبرې ليکل شوې دي.

## د روم سمندرګی يا بحيره

د جغرافيې پوهان وايي د محيط سمندر په څلورمه برخه کې لوېديز لورې ته د روم بحيره راوتلې ده، او د ۱۲ ميلو په شاو خوا کې د يوه تنګ خليج په بڼه د طنجه او طريف په منځ کې پيلېږي. دې ته زقاق هم وايي او بيا وړاندې درومي او پراخېږي تر دې چې شپږ سوه مايله سورروره شي او د څلورمې برخې د څلورمې ټوټې په پای کې له پيله ۱۱۶۰ فرسخه لاره وهي او ختمېږي. د دې پر څنډو شام، سوريه او عراق پراته دي، او جنوب لور ته يې لوېديځې څنډې دي، لومړۍ څنډه يې طنجه ده چې د زقاق خليج ته نږدې ده، بيا تر اسکندريې پورې د برقه ساحل دی، په همدې ډول يې شمالي لورې ته د قسطنطنيې څنډې دي چې تر خليج وړاندې دي، بيا بنادقه، بيا روما او وروسته فرنګستان. بيا د اندلس څنډه تر طريف پورې غځېدلې او له طنجې نه وړاندې زقاق ته نږدې شته ده، دې ته د روم سمندرګی او د شام بحيره هم وايي، په دې کې لوی لوی ټاپوګان لکه اقريطش (کرېټ، قبرص، سايپرس يا يونان) صقليه (سسلي) هيورقه او سردانيه اباد دي.

## د قسطنطنيې خليج

د جغرافيې پوهان وايي چې د محيط سمندر شمال لورې ته له دوو سمندرونو دوه نور خليجونه راوځي، يو د قسطنطنيې خليج د مديترانې په سمندرګي کې چې له يو فرلانګ تنګ سور څخه پيلېږي (چې غښې يې له يوې څنډې بلې څنډې ته رسېږي) او د درې سمندرونو تر څنګ تېرېږي او قسطنطنيې له خليج سره يو ځای کېږي، دغه مهال يې سور شپږ ميلو ته رسېږي او تر ٦٠ ميلو پورې بهېږي، دې ته د قسطنطنيې خليج وايي، بيا د دې له خولې څخه يو بل سمندر راووځي چې سور يې شپږ ميله دی دا په نيطش سمندر کې دوام کوي دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


سمندر دلته د ختیځ لور ته لاره بدلوي له هرقله سیمې نه تېرېږي او د خزریه (قزوین) تر ښارونو پورې رسېږي او ختمېږي، له پیله یې اوږدوالی ۱۳ سوه میله دی او پر څنډو یې رومي، ترکي، برجان او روس اباد دي.

**بنادقه خلیج**

د روم بحیرې له دوهم خلیج نه د ونیز (بنادقه) دوهم سمندر د روم شمال لوري ته وتلی او غرونو ته چې ورسېږي د لوېدیځ لوري ته د بنادقه ښارونو په لور راګرځي او له پیله یوولس ساعته مزل کوي، د انګلایه ښارونو ته له رسېدو سره پای مومي. د دې داوړو غاړو ته د بنادقه او رومي قومونه اوسېږي او د بنادقه (ونیز) خلیج ورته وایي.

## د چین سمندر، د هند سمندر او د حبشې سمندر

د جغرافیې پوهان وایي د محیط سمندر له ختیځ لوري نه د استوا کرښې شمال لور ته ۱۳ درجې وړاندې یو ډېر لوی او پراخ سمندر وځي او یو څه جنوب لوري ته چې لاړ شي لومړي اقلیم ته رسېږي، بیا له همدې ځایه د لوېدیز لوري ته ګرځي چې د همدې ساحې په پنځمه برخه کې د حبشیانو او زنګیانو د باب المندب په ښارونو کې د پیل له خولې څخه څلور زره فرسخه لاره وهي او پای مومي، دې ته د چین سمندر، د هند سمندر او د حبشې سمندر وایي او جنوب لور ته یې د بربریانو او زنګیانو ښارونه دي چې امرالقیس یې په خپلو شعرونو کې یادونه کړې، دغه بربریان هغه نه دي چې مغربي قبیلې ورته ویل کېږي. بیا موغادیشو ښار دی بیا سفاله ښار او د وقواق سیمه ده او نور قومونه هم شته، وروسته بیا ابادي نشته او پاتې سیمه شاړه او له اوسېدونکیو تشه ده. او بیا د دې سمندر شمال لوري ته له خولې څخه پاس د چین هېواد دی، بیا هند دی، بیا سند دی او ورپسې احقاف، زبیده او نور د یمن غاړې دي چې د هغو له پایته رسېدو وروسته د زنګیانو سیمه ده.

### د قلزم سمندر او د سویز کانال

وایي چې د حبشې سمندر نه دوه نور سمندرونه وتلي دي، یو یې په وروستي سر کې چې باب المندب ته نېږدې دی وتلی دی چې پیل یې له وړوکي خلیج نه شوی دی. وروسته کرار کرار په لوی سمندر بدلېږي، دا د شمال لوېدیز لور ته وځي تر دې چې له پیله تر ۱۴ سوه میله واټن وهلو وروسته د دوهمې برخې په پنځمه ټوټه کې قلزم ته نږدې پای مومي، دې ته د قلزم او سویز سمندر (کانال) وایي. د دې او مصر د فسطاط تر منځ درې پړاوه دي. د همدې ختیځ اړخ ته د یمن څنډې دي، بیا حجاز او جده دي او په وروستۍ برخه کې یې مدین، آمله او فاران دي، لوېدیځ لوري ته د صعید، عیذاب، سواکن او زیلع څنډې دي او له پیل سره یې د حبشیانو ښار دی، د دې د شا لوري غاړه قلزم ته نږدې د روم سمندر هغې برخې ته چې عریش ته نږدې ده مخامخ ده، د دواړو تر منځ نږدې شپږ پړاوه واټن دی د اسلام پاچاهانو او تر دوی وړاندې پاچاهانو د دغو دوو سمندرونو تر منځ و چې ځمکې د کیندلو او د دواړو د یو ځای کولو ارادې درلودې چې تر اوسه دغه خوب ریښتیا نه شو. (اوس د سویز کانال کیندل شوی دی او د نړۍ له مشهورو کانالونو او سوداګریزو لارو څخه دی. پښتو ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سور خلیج یا د فارس سمندر

له حبشې سمندر نه راوتلی بل سمندر چې اخضر خلیج ورته وايي د سند او د یمن د څنډو تر منځ لاره باسي او شمال لوري ته لږ لوېدیځ اړخ ته وځي ابله ته چې د بصرې له څنډو څخه ده د دوهمې برخې په شپږمه ټوټه کې د پیل له خولې څخه تر څلور سوه څلوېښت فرسخه واټن وهلو وروسته پای مومي دا د فارس سمندر په نامه یادوي. د دې ختیځ لوري سند، مکران، کرمان، فارس او ابله څنډې دي او لوېدیځ لوري ته یې په وروستی برخه بحرین، یمامه، عمان، شحر (حضرالموت) اباد دي په پیل کې یې یمني احقاف دي.

## د عربو ټاپو وزمه

د عربو ټاپو وزمه د قلزم سمندر او فارس سمندر تر منځ ده، چېرته چې سمندر د وچې لور ته ننوتلی دی د هغو په جنوب کې د هند سمندر، لوېدیز ته یې د قلزم سمندر او ختیځ ته یې د فارس سمندر دی.

## د عربو ټاپو وزمې پراخوالی

د عربو ټاپو وزمې پراخوالی د شام او بصرې له منځه تر عراقه ۱۵ سوه میله دی، په دې کې کوفه، قادسیه، بغداد، د کسرا ماڼۍ او حیره شته دي، پر دې سر بېره عجمي قومونه دي لکه ترکان، خزر او نور په عربو کې د حجاز سیمه لوېدیځ لوري ته ده او یمامه، بحرین او عمان ختیځ لوري ته ده او د یمن سیمه او څنډې یې سهیل لوري ته د حبشې سمندر ته دي.

## د جرجان او طبرستان سمندر

وایي چې په دې ډک جهان کې په شمالي کونج کې د دیلم په سیمه کې له ټولو سمندرونو څخه بیل یو بل سمندر هم شته چې د جرجان او طبرستان سمندر ورته وایي سور یې شپږ سوه میله او اږوده یې زر میله دي، د هغو لوېدیځ لوري ته اذربایجان، دیلم او ختیځ ته یې ترکیه او د خوارزم سیمه ده سهیل لوري ته یې طبرستان او شمال ته یې خزر دلان سیمه ده، دا هغه مشهور سمندرونه دي چې د جغرافیې پوهان یې یادونه کوي.

## د ابادې نړۍ سیندونه

وایي چې د ابادې نړۍ په برخه کې زیات سیندونه دي، نیل، فرات، دجله او جیحون یانې د بلخ سیندونه د استوا له کرښې ۱٦ درجې لرې د لومړۍ برخې د څلورمې ټوټې د قمر غره په نامه له یوه لوی غره نه سرچینه اخلي، په ټوله ځمکه کې تر دې جګ غر نشته، ډېر سیندونه ترې بهېږي په ځایي جهیلونو کې ور توییږي او ځینې له نورو سمندرونو سره یو ځای کېږي، چې بیا له هغو سمندرونو څخه ډېر سیندونه بهېږي او ټول د استوا کرښې سره له غره نه لس پړاوه شا ته په یوه سمندرګي کې ورتوییږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د نيل سيند

بيا له دې سمندر نه دوه سيندونه روانېږي يو د شمال لور ته بهېږي او بيا د مصر له ښارونو تېرېږي او په څو څانگو وېشل کېږي، هرې څانگې ته يې خليج وايي دا ټولې څانگې بيا د روم په سمندرگي کې د اسکندريې سره ورلوېږي دې ته نيل درياب وايي.

د دې ختيځ لوري ته صعيد او لوېديز لوري ته يې الواحات اباد دي، دوهم سيند د لوېديز په لور درومي او په همغه لور بهېږي او محيط سمندر ته ورلوېږي هغه ته د سوډان درياب وايي، ټول سوډاني قومونه د دې درياب دواړو غاړو ته مېشت دي.

## د فرات سيند

د فرات سيند د پنځم اقليم په شپږمه برخه کې د ارمنيا له ښارونو راوځي په سهيل کې د روم او ملطيه له سيمو څخه تر منهج پورې بهېږي، له صفين نه رقې ته، بيا له کوفې تېرېږي او د بصرې او واسط په منځ کې د بطحا په ډېرينه سيمه کې پای مومي او د حبشې له سيند سره يو ځای کېږي. په لاره کې زياتره مرستيال سيندونه ورسره يو ځای کېږي او له دې نه بيا واړه واړه سيندونه جلا کېږي چې دجلې ته ننوزي.

## د دجلي سيند

دجله اصلاً يو سيند دی چې د ارمنيا په سيمه کې دی، دا سهيل لوري ته له موصل، اذربايجان او بغداد نه تېرېږي او په څو څانگو وېشل کېږي، چې د بصرې له سمندرگي سره يو ځای کېږی او بيا د فارس خليج ته لوېږي.

د فارس سمندر (خليج) د ختيځ لور ته د فرات سيند ښي لور ته دی. په دې کې ډېر مرستندوی خوړونه له هر لوري راځي او ورسره يو ځای کېږي.

د دجلې او فرات په منځ کې موصل ښار دی، که هغو ته د فرات له دواړو غاړو ور وگورې نو مخامخ شام (سوريه) دی، که د دجلې له ساحله ورته وگورې نو مخامخ اذربايجان دی.

### جيحون سيند

جيحون سيند د درېيم اقليم په اتمه برخه کې په بلخ کې له ډېرو چينو څخه سرچينه اخلي، له دې سره لوی لوی مرستيال سيندونه ملگري کېږي. دغه سيند له سهيل لوري څخه د شمال لوري ته له خراسان نه وځي او د خوارزم پنځم اقليم اتمې برخې ته رسېږي او بيا د جرجانيه (اورال) په بحيره کې توېږي. د جرجانيې سمندرگی د جرجان ښار نه لاندې د يوې مياشتې مزله په واټن پروت دی.

په دې سيند کې د فرغاني سيند او د شاش سيند لوېږي چې له ترکستان نه راوځي د جيحون سيند لوېديز لوري ته د خراسان او خوارزم سيمه ده، ختيځ لوري ته يې بخارا، ترمذ او سمرقند دي، شا ته يې ترکستان او فرغانه او خزلجيه او نور عجمي قامونه مېشت دي. دغه ټوله جغرافيه بطليموس په خپل کتاب کې او شريف په زخار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب کې بیان کړې ده. هغوی په نقشه کې د اباديٍ نړی ټول غرونه، ښارونه او دښتې ښودلې دي چې له هره حیثه بشپړ دی چې د بحث د اوږدوالي له وېرې یې دلته د راوړلو اړتیا نه وینو. پر دې سربېره زموږ موضوع مغرب دی چې د بربریانو هېواد دی او په ختیځ کې یوازې د عربو ټاټوبی زموږ د بحث موضوع ده.

## د دوهمې مقدمې پایله

د ځمکې شمالي څلورمه برخه د سهیلي څلورمې برخې په پرتله ولې ډېره اباده ده؟ د دې د سببونو او لاملونو یادونه

## په لومړۍ او دوهمه برخه کې ابادي ډېره لږه ده

موږ ته له لیدو او پرله پسې خبرونو څخه معلومېږي چې په لومړۍ او دوهمه برخه کې د نورو په پرتله اوسېدونکي ډېر لږ دي. دوهم دا چې په هغو ځمکو کې ځنګلونه، دښتې او شګلنې سیمې هم ډېرې دي او د هغو دواړو ختیځ ته د هند سمندر هم پروت دی، د هغو دوو برخو قومونه او نفوس ډېر زیات نه دی او لوی او واړه ښارونه یې هم لږ دي، خو دریمه، څلورمه او وروسته نورې برخې د هغو په څېر نه دي، په هغو کې ښاړې او د ریګونو سیمې ډېرې لږې دي چې د نشت په حساب دي او په هغو کې ډېر ولسونه اباد دي، د وګړو شمېر یې ډېر دی، لوی او واړه ښارونه یې بې شمېره دي، له دریمې تر شپږمې برخې پورې پرلپسې ابادۍ دي.

## جنوبي برخه شاړه ده

سهیلي برخه بشپړه له ابادۍ تشه ده، ډېرو پوهانو د دې سبب د هغه ځای له زغمه وتلې تودوخه بللې ده. لمر تقریباً پر تندي ولاړ وي، چې لږ کوږ شي هم بس په اوږو کې د مالګې هومره. راځئ دا په یوه دلیل کې تشریح کړو. په دې دلیل کې به پر دې هم وپوهېږو چې د شمال تر دریمې برخې پورې د وګړو شمېر ولې زیات دی؟ وګورئ جنوبي او شمالي قطبونه چې پر خپل افق وي، نو په اسمان کې یې یوه تر ټولو لویه فرضي دایره (د نصف النهار دایره) منلې ده دغه دایره اسمان په دوو مساوي برخو وېشي. پر اسمان چې له ختیځه تر لوېدیځه څومره دایرې فرض کړای شوې، په هغو ټولو کې نصف النهار دایره ستره ده او نورې ټولې ترې وړې دي، د فزیک د علم زده کوونکي پوهېږي چې تر ټولو اوچت اسمان (مدار) په ۲۴ ساعتونو کې له ختیځه د لوېدیځ په لور خوځېږي او یو ځل دوره بشپړوي، له دې سره جوخت دننه نور اسمانونه هم ګرځي او دورې وهي، د اسمان د ۲۴ ساعتونو حرکت لیدل کېدای شي، همدارنګه د فزیک علم ثابتوي چې نورې سیارې هم په خپل خپل مدار (اسمان) کې حرکت کوي، خو د دوی حرکت د لومړني اسمان د حرکت پر خلاف دی، په دې مانا چې له لوېدیځ لورې څخه د ختیځ په لور دی. بیا د حرکت د ګړندیوالي او ورو والي په اعتبار د ستوریو په دورو کې توپیر دی. په خپل خپل اسمان کې د دې ستوریو د حرکت خپل مدارونه دي. چې د فلک البروج په دایره کې دي. دغه دایره په ۱۲ برخو وېشل شوې ده، او د نصف النهار دایره یې په دوو مخامخ نقطو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوځه کړې او ترې تېرېږي. دغه دوه ټکي د حمل او میزان په لومړیو کې دي. داسې وګڼئ چې نصف النهار دایره د فلک البروج دایره په دوو مساوي برخو وېشي، یوه برخه یې د نصف النهار شمال لوري ته ده او بله برخه یې له تلې (میزان) څخه د کب (حوت) تر پایه سهیلي لور ته ده، کله چې د ځمکې په ټولو ګوټونو کې دواړه قطبونه په اسمان کې وي نو د ځمکې پر مخ د نصف النهار دایرې په میدان کې یوه ګرده کرښه فرض کړئ، دغه کرښه له لوېدیز څخه د ختیځ په لور فرض کېږي، دې ته د استوا کرښه وایي، د جغرافیې پوهان وایي چې د رصدخانو له مخې دغه کرښه د لومړي اقلیم له پیل څخه پیلېږي. دغه ډول چې د کرښې شمال لوري ته په کوم لحاظ وګړي زیات دي په هماغه کچه شمالي قطب ته پورته کېږي تر دې چې تر ٦٤ درجو پورې پورته درومي، دا د اوومې برخې وروستۍ برخه ده. او دلته ابادي ختمېږي او کله چې لمر په ٩٠ درجو ودرېږي یانې پر نصف النهار ودرېږي، شپږ شمالي برجونه د ځمکې له مخ نه پاس وي او شپږ جنوبي یې د ځمکې له مخ نه لاندې وي.

## د ٦٤ او ٩٠ درجو تر منځ ابادي نشته

د ٦۴ او ٩٠ درجو تر منځ ژوند ناشونی دی ځکه چې د دغو درجو تر منځ د تودوخې او یخنۍ تر منځ یوه اوږده موده ده، ځکه چې لمر د حمل او تلې سرته ور داخل شي نو هغه د استوا پر کرښه او هلته د خلکو د تندیو پر سر وي، بیا له دې ځایه د چنګاښ او مرغومې تر سرونو پورې رسېږي د دې وروستۍ حد واټن د نصف النهار ۲۴ درجې ده، بیا چې څومره له شمالي قطب نه لمر لرې کېږي همدومره د نصف النهار دایره له تندي نه د جنوب په لور درومي، په همدې انډول د چنګاښ تر میاشتې پورې شمالي برج د سر لوري ته درومي او په همدې تناسب تر مرغومي پورې لاندې درومي ځکه چې دواړه ډوله میاشتې د استوا پر کرښه د سر لوري ته شته دي، د لمر د شمال لور ته تر چنګاښ میاشتې پورې تر وروستي حده د تندي سر ته راځي، په کومو ځایونو کې چې عرض البلد ۲۴ درجې دي لکه حجاز او نور دلته همداسې وي، او که د شمالي قطب تر ۲۴ درجو زیات اوچت شي نو لمر د تندي سر ته نه راځي بلکې جنوبي لوري ته ورختمېږي او تر ٦۴ درجو پورې هماغسې ټیټېږي، دلته نو د ډېرې یخنۍ په سبب او تر اوږدې مودې پورې د تودوخي نشتوالي په سبب د حیواناتو د شتون امکان نشته. بیا لمر چې نېغ د تندي سر ته راځي او وړانګې یې عمودي لوېږي او په نورو وختونو کې یې کږې په یوه زاویه وړانګې لوېږي چې منفرجه او یا حاده زاویه راځي کله چې د رڼا وړانګې سیده لوېږي رڼا زیاته وي او ښه خپرېږي او چې په کږه کرښه لوېږي، څومره چې دغه کرښه کږه وي همدومره د رڼا وړانګې کمېږي او لږ خپرېږي، ځکه خو کله چې لمر ښې اړخ ته وي نو تودوخه زیاتېږي او چې څومره له تندي لرې کېږي تودوخه ورو ورو کمېږي ځکه چې رڼا د تودوخې او یخنۍ سبب ده، په کال کې دوه ځله لمر د استوا پر کرښه درېږي چې دا د وري (حمل) او تلې (میزان) په میاشتو کې وي. او چې له تندي نه لرې کېږي نو ډېر نه لرې کېږي، خو چې کله د چنګاښ (سرطان) او مرغومي سر ته ورداخلېږي چې د مېلان وروستی حد یې دی، نو تودوخه لا متعدله نه وي چې بیا د تندي په لور ور پورته کېږي، ځکه خو پر افق وړانګې نېغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوېږي او دغه موده اوږده وي، ځکه خو په هغو سیمو کې تل ډېره تودوخه وي او هوا ډېره ګرمه وي چې د نصف النهار شمال لور ته تر ۲۴ درجو پورې سیمې دي، ځکه د دې سیمو وضعه د استوا د کرښې د سیمو په څېر ده، د دوی د تندي سر ته دوه ځله لمر راځي او د تودوخې له زیاتوالي سره هوا هم وچه او ډېره توده شي چې له امله یې د حیواناتو زېږېدل ودرېږي. دا چې په ډېره تودوخه کې اوبه وچېږي او نم ختم شي، ځکه چې د هغوی زېږون او راټوکېدل په اوبو پورې تړلي دي. وروسته چې لمر له چنګابښ نه د ۲۵ درجو عرض البلد لور ته لاړ شي نو لمر زر لوېږي او تودوخه معتدله یا اعتدال ته نږدې شي چې د ژوندیو د زېږون لپاره چاپېریال برابر شي. بیا چې څومره عرض البلد زیاتېږي یخني ورسره زیاتېږي ځکه چې وړانګې پر ځمکه کږې لوېږي او د ژوندیو په پیدا کېدو کې بیا خرابي راځي. په هر صورت د ډېرې تودوخې او ډېرې یخنۍ دواړو کې د زېږون لړۍ درېږي، خو ډېره تودوخه تر ډېرې یخنۍ په دې تړاو ډېره اغېزمنه ده، ځکه چې په تودوخه کې رطوبت او لنده بل ډېر ګړندی وچېږي. خو یخني بیا دومره په ګړندیتوب لنده بل کنګل کوي نه، په همدې دلیل په لومړۍ او دوهمه برخه کې ژوند ژواک ډېر نه دی، په درېیم، څلورم او پنځم اقلیم کې په منځنۍ کچه دی، ځکه چې د رڼا د کمۍ په سبب تودوخه معتدله ده په شپږمه او اوومه برخه کې ابادي زیاته ده ځکه چې په دې کې هسې په نوم تودوخه ده او یخني د تودوخې په څېر په پیل کې د زېږون او ژوند په لړ کې اغېز نه لري، چې د پیدا کېدو ماده کنګل کړي، خو هغه مهال بیا اغېزه لري چې د ژوندیو شیانو په پیدا کېدو کې خنډ کېږي. دغه حالت تر اوومې برخې پورته واقع کېږي. له همدې لامله په شمالي څلورمه برخه کې ابادي زیاته ده ځکه چې تودوخه په «تخلیق» کې ډېر ګړندی اغېز لري، ځکه خو علما وايي چې له استوا نه لرې په جنوبي لوریو کې ابادي نشته او هغه شاړې دي. په داسې حال کې چې دغه خبره شکمنه ده. ځکه چې د پرلپسې معلوماتو او مشاهدې نه داسې ښکاري چې دلته هم ابادي نشته بلکې د هغوی له دلیل نه ښکاري چې د ډېرې تودوخې له امله هلته د ژوند لړۍ له ستونزو او خرابیو سره مخ وي. ځکه خو عقل وايي چې هلته به ابادي بلکل نه وي او یا به وي خو ډېره لږه. عیني واقعیتونه هم دا وايي چې د استوا پر کرښه او هغو ته په نږدې سیمو کې ابادي شته خو ډېره لږه ده. د ابن رشد نظر دا دی چې د استوا سیمې معتدلې دي او د هغو جنوبي لوري ته د شمالي لوري په څېر ابادي نشته، د نسل د زیاتوالي د فساد له اړخه د ابن رشد قول ناشونی نه دی، خو د استوا کرښې په جنوبي لوري کې ځکه ابادي نشته چې هلته د ځمکې مخ اوبو نیولی دی او په شمالي برخه کې چې څومره ابادي ده د هغو معادل په جنوبي لوري کې ځمکه تر اوبو لاندې ده، بیا هغه معتدله برخه چې نه ډېره توده او نه سړه ده په اوبو کې د ډوبېدو په سبب د ژوند وړ نه ده. هغه سیمه چې معتدله نه ده هغه په لومړۍ درجه د ژوند وړ نه ده. دا ځکه چې آبادي او نفوس په کراره زیاتېږي، د حاصلاتو زیاتېدل منع نه دي، یانې ژوند له نشت نه پیلېږي چې لومړۍ هېڅ هم نه وي او بیا یو ځل نفوس زیات شي. د استوا پر کرښه د ژوند د نشتوالي نظر سم نه دی، ځکه چې له پرلپسې خبرونو څخه دغه خبره ردېږي. له دې خبرو وروسته راځئ د «زخار» کتاب د لیکوال د نظریاتو له مخې د جغرافیې نقشه درته وښیو، او بیا د دې نقشې پر هر ګوټ رڼا واچوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په یاده جغرافیه بشپړه تبصره

### لومړی اقلیم

وګورئ علماوو اباده نړۍ له شمال نه سهیل لوري ته په اوو برخو وېشلې ده چې هرې برخې ته يې اقليم وايي. د هر اقليم اوږدوالی له ختيځه تر لوېديځه دی. لومړی برخه له لوېديځه تر ختيځه د استوا له کرښې سره موازي په خپل حد کې سهيل لوري ته درومي او تر هغو ورهاخوا له شاړو ويرانو پرته هېڅ هم نشته، که فرضاً هلته ابادي هم وي نو له نشت سره برابره ده، بيا د لومړی برخې شمال لوري ته دوهمه، بيا دريمه ورپسې څلورمه، بيا پنځمه، بيا شپږمه او بيا اوومه برخه ده په اوومه برخه کې وروستۍ ابادي ده. له اوومې برخې وروسته تر محيط سمندر پورې غير اباد ځنګلونه دي، لکه له لوړې برخې وروسته چې ځنګلونه او دښتې دي، خو د جنوب په پرتله په شمال لوري کې شاړه سيمه لږه ده، بيا په دې برخو کې له نصف النهار نه د لمر د لرې کېدو په سبب او د شمالي قطب د اسمان د لوړوالي په سبب په شپه او ورځ کې توپير وي. څکه چې د شپې او ورځې په قوسونو کې کم والی او زياتوالی راځي؛ د لومړی برخې په وروستيو کې شپه ډېره اوږده وي. څکه خو کله چې لمر د مرغومي مياشتې ته داخل شي نو تر ټولو اوږده شپه ديارلس ساعته وي. او کله چې د چنګاښ مياشت را د بره شي نو تر ټولو اوږده ورځ ۱۳ ساعته شي.

### دوهم اقليم

همدغسې کله چې په دوهمه برخه کې لمر د سرطان مياشتې ته داخلېږي نو تر ټولو اوږده ورځ ديارلس نيم ساعته شي، دې ته د تودوخې موسم بدلېدل وايي. او کله چې لمر د مرغومي مياشتې ته داخلېږي نو تر ټولو اوږده شپه ديارلس نيم ساعته وي چې د يخنۍ د موسم د بدلېدو په مانا ده، کله چې ورځ ديارلس نيم ساعته وي نو شپه لس نيم ساعته شي. کله چې شپه ديارلس نيم ساعته شي نو ورځ بيا لس نيم ساعته کېږي، څکه چې د شپې او ورځې ټول ټال مزل ۲۴ ساعته دی. په کوم حساب چې ورځ لوييږي په هماغه کچه شپه لنډېږي او څومره چې شپه اوږدېږي په هماغه اندازه ورځ لنډېږي. دغه ۲۴ ساعته پر محور د بشپړې دورې مزل دی تر ټولو جګ اسمان په ۲۴ ساعتونو کې پر دنيا يو څل راڅرخي. مانا دا چې څمکه او نورې سيارې د لمر پر محور راڅرخي.

### دريم اقليم

همدغسې د دريمې برخې په وروستيو کې شپه او ورځ څوارلس ساعته کېږي، د څلورمې برخې په وروستيو کې شپه او ورځ هر يو څوارلس نيم ساعته او د پنځمې برخې په پای کې ۱۵، ۱۵ ساعته شپه او ورځ وي، د شپږمې برخې په وروستيو کې پنځلس نيم ساعته، شپه او ورځ وي او د اوومې برخې په پای کې بيا ۱۶ ساعته شپه او ورځ شي چې تر هغو وړاندې ابادي پای ته رسېږي او تر اوومې برخې وړاندې نه ده خپره شوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه خو د شپې او ورځې د مخکنۍ برخې له نښتې برخې سره نیم نیم ساعت کېږي. او د هرې برخې په مقامونو کې هم له استوا کرښې نه د لرې والي په سبب د دقیقو توپیر پاتې کېږي.

## د عرض البلد تعریف

په هر اقلیم کې د هغو د ښار له عرض البلد څخه موخه هغه واټن دی چې د دې ښار د نصف النهار او موقعیت تر منځ ده. د نصف النهار کرښه د استوا د کرښې د اوسېدونکیو سمت داسې موقعیت دی، د دې فاصلې مطابق د ښار له افق نه په جنوبي قطب کې پیدا کېږي او په شمالي قطب کې لوړوالی وي دغه درې واړه واټنونه یو له بل سره یوه اندازه وي او همدې ته عرض البلد وایي لکه چې پاس یې یادونه وشوه.
پوهانو هر اقلیم له لوېدیځه تر ختیځ پورې په لسو برخو وېشلی دی، هره برخه کې چې څو لوی او واړه ښارونه، غرونه او سیندونه دي هغه بیانوي او د هغوی تر منځ واټن ښایي موږ به یې په لنډون د هر اقلیم مشهور ښارونه، غرونه او سیندونه بیان او هغوی تر منځ واټن به هم بیان کړو، دا به په هماغه ډول منظم کړو چې په نزهت المشتاق کې لیکل شوي دي. دغه کتاب علامه علوي او لیسي حمودي د سیسلي پاچا زخار بن زخار ته لیکلی و، هغه مهال نومو‌ړی د سیسلي د پاچا مېلمه و او سیسلي د (مالټا) له حکومته وتلې وه. دغه کتاب د شپږمې پېړۍ په لومړیو کې لیکل شوی دی او پاچا هغه ته ډېر اثار لکه د مسعودي، ابن خردازویه، حوقلي قدري، منجم د ابن اسحاق او بطلیموس او نور ورته راټول کړي وو موږ دغه بیان له لومړۍ برخې پیلوو او درجه په درجه به په اووه واړو رڼا واچوو.

## د لومړي اقلیم تفصیل

د دې اقلیم لوېدیځ ته د خالدات ټاپوګان دي له همدې نه بطلیموس د ښارونو د اوږدوالي اخیستلو پیل کړی دی. دغه ټاپوګان د اقلیم په منځ کې نه دي، دا په محیط سمندر کې ډېر شمېر ټاپوګان دي چې تر ټولو مشهور یې درې دي چې اباد هم دي. څرګنده شوې چې د دې پېړۍ په منځ کې د انګرېزانو څو بېړۍ له دې ځایه تېرې شوې، انګرېزانو له دوی سره جګړې وکړې او د غنیمت مالونه یې ترې لوټ کړل، ځینې خلک یې بندیان هم ترې راوستل چې له هغوی څخه یې ځینې د اقصی مغربي څنډو ته واستول بیا یې دوی د پاچا په خدمت کې حاضر کړل. کله چې هغوی عربي زده کړه نو د خپلو ټاپوګانو په اړه یې ټول حالات ورته وویل دا یې هم ورته وویل چې هغوی پر ځمکې د کر لپاره له غویانو نه د ځمکې په اړولو کې کار اخلي. دا چې په هغو ټاپوګانو کې اوسپنه نه موندل کېږي او د دوی ژوند او ژواک په وربشو پورې تړلی دی، او د شیدو وزې او نور څاروي ساتي په ډبرو جګړه کوي او هغه د شا لوري ته غورځوي او د هغوی لمر ته عبادت او سجدې کوي، دوی کوم مذهب نه مني ځکه چې د کوم پیغمبر دعوت ورته نه دی راغلی. ناڅاپي انسانان هغو ټاپوګانو ته ورځي که په نیت او اراده وغواړي ورشي بیا د هغوی درک لګول ګران وي. ځکه چې په سمندر کې د کښتیو سمت او لوری د شمال څپې ټاکي او پر دې لوري هم چې که هوا موافقه وي نو کښتی به په کومو ښارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرېږي، او که شمال له مخالف لوري وي بيا د کښتۍ ماڼو ګان باد بانونه پرانيزي چې کښتۍ دغه باد بانونه په موافق لوري باندې بوځي، په دې لړ کې ماڼو ګان هم يو څه اصول لري چې په هغې کښتۍ چلوي چې ټول د ځنډو ښارونه په هغو کې ليکل شوي دي د شمال لورى هم د هغو د لوري بدلېدل هم په هغه نقشه کې ليکل شوي چې کمپاس ورته ويل کېږي. کښتۍ چلوونکی د کښتۍ په چلولو کې پر همدې باور کوي. په محيط سمندر کې پر ټولو خبرو عمل ډېر ګران دی، ځکه په هغو کې لويې ببړۍ نه چلېږي، که کومه ببړۍ له ځنډې لادرکه شي بيا يې ځنډې ته راتلل ډېر ګران دي. د محيط سمندر په هوا کې او د اوبو پر سر غبار او بړاس خپور وي چې کښتيو ته په تګ کې ستونزې جوړوي او د لمر وړانګې لاندې سطحې ته نه پرېږدي چې دغه بړاسونه له منځه يوسي ځکه خو د هغو ټاپوګانو لاره موندل ګران دي او د هغو له وضعې خبرېدل ډېر سخت دي.

## د لومړي اقليم لومړۍ برخه

په دې کې نيل له خپلې سرچينې څخه چې د استوا کرښې ته نږدې دی، بهېږي او شمال لوري ته د روم تر سمندر ګي پورې درومي، د نيل سرچينه قُمر غر دی، دغه غر د استوا له کرښې ۱۶ درجې پورته خواته را اوچت دی، دې ته قُمر د دې لپاره وايي چې د سپوږمۍ په څېر ډېر سپين او روښانه دی، خو د ياقوت په کتاب (المشترک) کې دغه لفظ د قاف په پېښ (قُمر) راغلی او (قُمر) يو هندي قوم دی، همدارنګه ابن سعيد ليکلي چې له دې غره نه چينې را وتلې او پنځه پنځه يې سره يو ځای شوې او سمندرونو ته ننوزي. چې شپږ ميله لرې دي او له هر سمندرګي نه د دې سيندونه راوتلي دي او يوه جهيل ته ورلوېږي، چې تر هغو لاندې يو پراخ غر دی چې په شمال کې دغه سيند په دوو برخو وېشي، لوېديځه څانګه يې د سوډان د ښارونو په لور لوېديځ لور ته بهېږي او محيط سمندر ته ورلوېږي، د ختيځ ښاخ يې د حبشې او نوبه د سيمو په لوري د هغو منځنيو سيمو ته بهېږي او د مصر پاسنۍ برخې ته رسېږي او بيا په څو څانګو وېشل کېږي، د هغو درې څانګې د اسکندريې، رشيد او د مياط سره د روم سمندرګي ته ور لوېږي. بل ښاخ يې د سور سمندرګي په لومړي اقليم په منځ کې بهېږي او تر سمندر پورې تر رسېدو مخکې لوېږي. د همدغه نيل پر ځنډو د نوبه او حبشې ښارونه دي. او تر اسوان پورې ځينې درې او ځمکې هم دي. د نوبه پلازمينه د ونقله ښار هم چې د دې نيل لوېديځ لور ته دی، تر دې وروسته علوه او براق دي، تر دې دواړو وروسته له بلاق نه شپږ پړاوه لرې په شمال کې جناول غر دی چې په مصر کې لوړ وي خو په نوبه کې ټيټ شوی دی، د نيل سيند چې دې غره ته ننوزي مخ ځوړې سيمې ته ور لوېږي او يوه وېروونکې ننداره جوړوي، په دې کې د لويو او وړو کښتيو چلېدل ګران دي، بلکې سوډانيان له کښتيو مال کوزوي او په ګاډيو کې يې باروي چې تر اسوانه يې ورسوي. اسوان د سعيد مرکزي برخه ده، بيا دغه سامان له سعيد نه تر جناول پورې رسول کېږي. د اسوان او جناول تر منځ ۱۲ پړاوه مزل دی، د نيل دره د درو لوېديځ لوري ته ده چې نن سبا شاړه ده خو د پخوانۍ آبادۍ نښې ځرګندېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لومړي اقليم پنځمه برخه

د دې اقليم په منځ کې پنځمه برخه ده، په دغه ميدان کې چې د استوا کرښې له شا نه د نوبه تر سيمو پورې رسيږي د حبشيانو ښارونه دي، دغه ميدان تر مصر پورې په لاندې سطحه کې تر بهېدونکي نيل پورې رسيږي، په دې کې ډېرو عالمانو غلطي کړې ده او دوی دا د قمر د نيل يوه څانګه بولي، بطليموس هم په خپل الجغرافيه نومي کتاب کې ترې يادونه کړې ده او وايي چې دا د قمر د نيل خليج نه دی، د دغه اقليم په منځ کې په پنځمه برخه کې د هند سمندر ختميږي چې په هغو کې د چين له لوري ور داخل شوی دی او د هغو زياته برخه پکې ډوبه شوې وي، ځکه خو له هغو ټاپو ګانو پرته چې د سمندر دننه دي آبادي نشته، دغه ټاپوګان ډېر زيات دي، نږدې تر زرو پورې رسيږي، يو څه ابادي د هغو شمال لوري ته پر غاړو ده، په لومړۍ برخه کې د لوېديځ لوري ته د چين او يمن لړه برخه هم ور داخله ده.

## د لومړي اقليم شپږمه برخه

د لومړي اقليم شپږمه برخه د قلزم بحر او فارس بحر تر منځ دوآبه ده، دغه دواړه دريابونه د هند له سمندر نه پيلېږي او د هغو شمال لوري ته بهيږي، د هغو تر منځ د عربو ټاپوزمه ده چې ختيځ لوري ته د يمن او شحر سيمې چې د هند سمندر څنډو سره شاملې دي، د حجاز او يمامه سيمې هم په دې کې شاملې دي، چې مونږ به يې په نورو اقليمونو کې بيان کړو، د هند سمندر پر لوېديځې غاړې د زالعه (زيلع) ښار دی چې د حبشې سيمو په څنډو کې شامل دی، د حبشې شمال لوري ته د لجبه ځنګلونه دي چې د صعيد په پاسنۍ برخه کې د علاقي غره او قلزم درياب تر منځ بهيږي چې د هند سمندر نه لاندې لوري ته دي، د دې سيمې شمال او د زيلع له سيمې نه لاندې باب المندب دی، دلته لاندې لوېدونکی سمندر د مندب له غره سره د لګېدو په سبب تنګيږي، د مندب غر د هند په سمندر کې دی چې درې ميله سور يې پاتې کيږي همدغه ځای ته باب المندب وايي، د يمن بېړۍ د سويز له لارې چې مصر ته ځي له باب المندب نه تيريږي. تر باب المندب لاندې د سواکن ټاپو لوري ته د يمن ميدانونه دي او پر څنډه يې د علي بن يعقوب ښار دی، جنوب ته يې په لوېديځو څنډو د بربريانو پر لپسې کلي دي، چې د سهيل لوري ته ګرځي او د شپږمې برخې تر وروستيو پورې غځېدلي دي، د دغو کليو ختيځ لوري ته له دوی سره د نبنتيو زنجبون سيمې دي، بيا جنوب لور ته د سفاله او وقواق ښارونه دي، چې د دې اقليم د لسمې برخې تر پايه پورې پرلپسې يو له بل سره يو ځای او تر هغو ځايه پورې دوام لري چې دغه سمندر په محيط کې ورګډيږي.

د محيط سمندر ډېر ټاپوګان دي، تر ټولو ستر ټاپو يې سرانديپ دی چې ګردی دی، دلته يو مشهور او جګ غر دی. ويل کيږي چې پر ځمکه تر دې جګ بل غر نشته، دغه غر اسفاله ته مخامخ دی بيا د قمر ټاپو دی چې د مستطيل په بڼه آباده ده، دا د سفاله له سيمې نه پيلېږي د ختيځ په لوري مار ډوله کوږ او کيڼ تر چين پاس ساحلونو پورې رسيږي. د دې ټاپو په سهيل کې د وقواق ټاپوګان او په ختيځ کې د سيلون او نور ډېر ټاپوګان دي چې په هغو کې بېلابېل خوږ بويه شيان او مسئلې موندل کيږي، د جغرافيې پوهان وايي چې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاپوګانو کې د سرو زرو او زمردو کانونه هم شته، د دې ځای اوسېدونکي د «اور» عبادت کوي او ډېر پاچاهان پرې حکومت کوي، د دې ټاپوګانو د اوسېدونکيو په باب عجيبې او حيرانوونکې خبرې دي چې جغرافيه پوهانو بيان کړې دي. د دې اقليم د شپږمې برخې په شمالي څنډه ټوله د يمن سيمه خپره ده. څکه خو د قلزم درياب له لوري د زبيده، مهجم، تهامه اليمن او تر هغو وروسته صعره ښار دی چې د زيديه امامت يو مرکزي ښار دی، صعده له سهيلي او ختيځ دواړو سمندرونو نه لرې دي، بيا د عدن ښار راځي، د هغو شمال لوري ته صفا آباد دی، تر دې دواړو وروسته د ختيځ لور ته د احقاف او ظفا ځمکه ده، بيا د حضرموت سيمه راځي، بيا د جنوبي او فارس سمندرګي تر منځ د شحر سيمه ده، د دې اقليم په شپږمه برخه کې د ځمکې دغه برخه وچه ده، تر دې وروسته نهمه برخه هم لږ وچه ده، بيا تر نهمې برخې لسمه برخه زياته وچه ده، په دې برخه کې د چين پاسنۍ برخه هم يو څه اندازه شامله ده چې د خانګو مشهور او نوماند ښار يکې دی او ختيځ لور ته يې مخامخ د سيلون ټاپوګان دي چې پاس يې يادونه وشوه.

## دوهم اقليم

### د دوهم اقليم لومړۍ او دوهمه برخه

دغه اقليم له لومړي سره د شمال په لوري کې يوځای کېږي، د محيط سمندر په لوېديځ کې د خالداتو ټاپوګانو څخه دوه ټاپوګان شته دي، د دې اقليم په لومړۍ او دوهمه برخه کې پورته لوري ته د قنوريه ځمکه او تر هغه وروسته ختيځ ته د غانه د ځمکې پاسنۍ برخه ده، بيا د سوډاني تور پوستي قام زغاده ځنګل دی او له دې دوو سيمو نه لاندې لوري ته د نستر ميدان دی چې له لوېديځه د ختيځ په لور غځېدلی، په دې کې ځنګلونه دي د مغرب او سوډان د تور پوستانو تر منځ سوداګر له همدې سيمې څخه تېرېږي. په همدغه هوار ميدان کې د صنهاجه د مخ پټيو قومونو ځايونه دي، د هغو ډېرې څانګې دي چې کزوله، لمتونه، مسراقه لمطهنه او وريکه يکې اوسېږي.

### د دوهم اقليم درېيمه او څلورمه برخه

د دې ځنګلونو ختيځ لوري ته د فزان سيمه ده ورپسې د بربريانو د يوې تور پوستې قبيلې ارکار آبادۍ دي چې ختيځ لوري ته د درېيمې برخې تر پاسنۍ برخې پورې خپاره دي. بيا د دې دريمې برخې په شمال کې د وذان څه سيمه ده او په ختيځ کې همدې لوري ته د سنتريه سيمه ده چې الواحات الداخله ورته وايي، د څلورمې برخې نه پاس د باحويين پاټې سيمه ده، بيا د دې برخې په منځ کې په ساره کې د صعيد ښار دی چې د نيل پر غاړه آباد دی، چې په لومړي اقليم کې له خپلې سرچينې راوزي د دوو غرونو (په لوېديځ کې د داحات او ختيځ لور ته د مقطم غرونو) تر منځ تېرېږي او سمندر ته لوېږي. د هغو پاسني لوري ته د اسنا او ارمنت ښارونه ودان دي او په همدې ډول يې څنډې له اسيقوط او قوس سره يوځای کېږي، دغه غرونه بيا نيل درياب په دوو برخو وېشي، ښۍ څانګه يې په همدې برخه کې بشپړېږي او کيڼ ښاخ يې په دلاص کې پای مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دوهم اقليم پنځمه برخه

د دغو دوو ځانګو تر منځ د مصر پاسنۍ برخې دي، دلته د مقطم غر او د عيذاب هوارې ځمکې دي، پنځمه برخه وړاندې په سويز کې په قلزم سمندر کې پای مومي چې په جنوب کې د هند له سمندر څخه راوتلی او د شمال په لور بهېږي، په همدې برخه کې د قلزم په ختيځو څنډو د حجاز ځمکه ده چې د يلملم له غرونو پيلېږي او د يثرب تر ښارونو رسېږي. د حجاز په منځ کې مکه معظمه ده، جده يې پر څنډه ده چې د عيذاب په هواره کې د هغه سمندر پر لوېديځه غاړه آباد دی.

## د دوهم اقليم شپږمه برخه

د دې لوېديځ ته په شپږمه برخه کې د نجد سيمه ده، د نجد پاسنۍ برخه په سهيل کې ده او له تباله او جرش نه تر عکاظ پورې بيا په شمال لوري کې ده، په همدې ځای کې تر نجد لاندې د حجاز نورې برخې دي. ختيځ لوري ته بيا په همدې لوري د نجران او خيبر سيمې دي او په ځوړو کې يې د يمامه ځمکې دي، د نجران ختيځ لوريو ته د سبا او مأرب سيمې دي،بيا د شحر سيمه ده چې د فارس تر سمندرګي پورې رسېږي او پای ته رسېږي. دا دوهم سمندر دی چې د هند له سمندر نه راوزي د شمال له لوري لوېديځ ته اوړي او د مثلث په څېر ښه خپلوي، د دې په پاسنۍ برخه کې د کلهات ښار دی چې د شحر پر څنډو دی بيا په همدې غاړه په کوزنۍ برخه کې عمان دی او د همدې برخې په پای کې بحرين او هجر سيمې دي.

## د دوهم اقليم اوومه برخه

د اوومې برخې په پاسنۍ برخه کې د فارس سمندر يوه ځانګه ده، دا د سمندر په شپږمه برخه کې له بلې ځانګې سره يوځای کېږي، د دې پاسنۍ برخه د هند په سمندر کې ډوبه ده، او پر همدې تر مکران پورې د سند سيمه پرته ده. مکران ته مخامخ د طوبران سيمه ده چې په سند کې شامله ده، ځمکه خو د دې برخې لوېديځ لوري ته د سند تړوله سيمه يوځای شوې ده. د سند او هند تر منځ ځمکې پر ځنګلونو پوښل شوې دي، په سند کې د سند سيند بهېږي چې د هندوستان له سيمې رابهېږي او په سهيل کې د هند سمندر ته لوېږي.

## د دوهم اقليم نهمه او لسمه برخه

د هند د سمندر پر غاړه د هند لومړنی ښار ودان دی، د هغه ختيځ لوري ته بلهتر دی، تر هغه لاندې د کابل سيمه ده، تر هغو وروسته ختيځ لوري ته د دوهم اقليم په نهمه برخه کې د قنوج سيمه ده، چې د داخلي او بهرني کشمير تر منځ پرته ده، د دې لوېديځ لوري ته د هند نوره برخه ده چې ختيځ لوري ته د نهمې برخې نه تر لسمې پورې غځېدلې ده او تر ختيځه وړاندې درومي، د هغو شا ته د چين ځينې سيمې دي چې په هغو کې شيغون ښار ودان دی، بيا لسمه برخه تر محيط سمندر پورې بشپړه د چين سيمه ده، الله ج ښه خبر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریيم اقلیم

## د دریيم اقلیم لومړی برخه

دغه اقلیم له دوهم سره په شمال کې یوځای شوی دی، د دې د لومړۍ برخې $\frac{1}{3}$ برخه د درن (اطلس) غر دی، دغه غر محیط سمندر ته نږدې له لوېدیځه تر ختیځه غځېدلی دی، په دې کې بې شمېره بربري قومونه مېشت دي چې وروسته به يې بیان کړو د دې غره اوبل اقلیم تر منځ د ځمکې یوه ټوټه ده چې د محیط سمندر په پاسنۍ برخه کې واقع ده، په دې کې رباط ماسه دی او په ختیځ کې له دې سره نښتي سوټس او نول سيمې دي، همدې لوري ته په ختیځ کې د ورعه او ورپسې د سجلماسه سيمې دي، بیا د نستر د میدان یوه کلا ده چې شاړه ده چې په دوهم اقلیم کې مو يې یادونه کړې ده. د درن غر د دې برخې پر ټوله سیمه راخپور دی، لوېدیځ لوري ته په دې کې درې او پیچومي ډېر لږ دي. تر دې چې د ملویه وادي ته مخامخ کېږي، بیا يې تر پایه درې او پیچومي ډېر زیات دي، دلته په ترتیب سره مصادرت، بیا هنتانه، بیا تیملک، بیا گرمیوه، بیا مشکوره قومونه مېشت دي، د ټولو په پای کې مصاعده دي، بیا صنهاکه (صنهاجه) قبيلې دي او په پای کې د زناته ځينې قبيلې دي او د اوراس (کتامه) غر همدلته په منځ کې ور سره یوځای کېږي، تر دې وروسته د بربریانو نور قومونه مېشت دي چې په اړه به يې پر خپل ځای تفصیل راشي. دغه درن غر په لوېدیځ کې د لوېدیځ تر وروستیو څنډو پورې په ټولو ښارونو کې غځېدلی دی او دهمدې غره د ننه دغه ښار ودان دی. څکه خو د دې غره په سهیل کې د مراکش، اغمات او تادلا سيمې دي او په همدې برخه کې د محیط سمندر پر غاړه رباط اسفی او سلا ښارونه ودان دي. د مراکش په منځ کې د فاس سيمې مسکناسه، تازه او د کتامه مانۍ دي. دې ته مغرب اقصی (وروستی لوېدیځ) وايي، د همدې برخې پر څنډو په محیط سمندر کې بلدان، اصیلا او عرایش پراته دي. چې پلازمینه يې تلمسان دی، د همدې پر ساحلي سیمو د روم په سمندرگي کې د حنین، د هران او نور ټاپوگان دي، دا چې د روم سمندر په لوېدیځ کې په څلورم اقلیم کې له محیط سمندر (طنجه خلیج) نه وزي د ختیځ لور ته درومي او د شام په سیمه کې پای مومي، بیا چې له تنگ خلیج نه را وزي لږ وړاندې درومي او په شمال کې پراخېږي په دریيم او پنځم اقلیم کې ور گډېږي څکه خو يې پر غاړه د دریيم اقلیم ډېر ښارونه آباد دي، بیا ختیځ لوري ته د ټاپوگانو له ښارونو سره نښلي، د سمندر پر غاړه بجايه سیمه ده د هغو ختیځ لوري ته قسطنطنیه ده او د لومړۍ برخې په پای کې له سمندر نه یو پړاو لرې هغو ښارونو سهیل ته او د منځني مغرب په سهیل کې په لوړو کې استیر، ور پسې مسیله او بیا زابن ودان دي، د مغرب پلازمېنه بسکره ده چې د غره او د هغو شا ته د درن غره سره یوځای شوی چې مخکې يې یادونه وشوه دا د دې برخې په پای کې ختیځ لوري ته پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د درېيم اقليم دوهمه برخه

د دې اقليم دوهمه برخه د لومړۍ برخې په څېر ده. خو په سهيل کې يې $\frac{1}{3}$ برخه د درن (اطلس) غر پروت دی، چې له لوېديځه د ختيځ په لور غځېدلی او اقليم يې په دوو برخو وېشلی دی، شمالي برخه يې تر ډېره ځايه د روم په سمندرگي کې ډوبه ده او د سهيل لوري ټوله لوېديځه ساحه په ځنگلونو پټه ده. ختيځ لوري ته يې غدامس ښار دی او د هغو ختيځ له لوري ته د ودان سيمه ده چې پاتې سيمه يې په بل اقليم کې ده چې مخکې يې يادونه وشوه، په لوېديځ کې د ودان په منځنۍ برخه او د روم سمندر تر منځ د اوزاس غر، تبسه او اوبس دي، د سمندر پر غاړه د بونه ښار دی بيا د دې ښارونو ختيځ لوري ته د افريقا ځمکه ده. چې د سمندر پر غاړه لومړی تونس ور پسې سوسه او بيا مجديه ودان دي، د دې ښارونو جنوب ته د ودان غره په لمنه کې جريد، توزر، قفصه او نفزاوه ښارونه دي، د دې ښارونو او ساحلي سيمو تر منځ قيروان، د وسلات غر او سبيطله ښار ودان دی، د دې ټولو ښارونو ختيځ لوري ته د روم سمندرگي په غاړه د طرابلس ښار ودان دی جنوب لور ته بېدو طرابلس ته موازي ومر او نقره غرونه دي، په دې دواړو کې د هواره دوې قبيلې دي، دغه دواړه غرونه د درن له غره سره يوځای شوي دي، غدامس ته مخامخ دي چې يادونه يې د جنوبي برخې په وروستيو کې شوې ده. د دې برخې په پای کې ختيځ لوري ته د سمندر پر غاړه سويقه بن مشکوره پروت دی او په سهيل کې د ودان په سيمه کې د پوونده عربو د گرځېدو را گرځېدو سيمې دي.

## د درېيم اقليم درېيمه برخه

د دې برخې له درېيمې برخې څخه هم د درن غر تير شوی دی خو په پای کې د شمال لوري ته گرځېدلی او سيده وړاندې دورمي او د روم سمندرگي ته رسېږي او په هغو ور گډېږي. هلته د غرونو دغه لړۍ د اوسان په نامه بلل کېږي او يوه برخه يې په شمال کې د روم په سمندرگي کې ډوبه ده، تر دې چې د دې لړۍ او د روم سمندرگي د منځ برخه ډېره تنگ شوې، د درن د دغه غره شا ته په سهيل لوېديځ کې د ودان نوره برخه ده او د عربو د تگ را تگ سيمې دي. بيا زويله بن خطاب دی. بيا د ختيځ لوري ته د دې برخې تر پايه ريگي او شاړه ساحه ده، لوېديځ ته يې د دې غره او سمندر په منځ کې د سمندر پر غاړه سرت ښار دی، بيا شاړه هواره سيمه ده چې عربان پکې د کوچيانو په څېر گرځي را گرځي، بيا اجدابيه ده ور پسې برقه ده، دا دواړه د غره په ناو کې پراته دي، بيا هلته د سمندر پر غاړه طلسمه ده، بيا د غره په گرځندي کې ختيځ لوري ته د دې برخې تر پايه د هيب او روامته کلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول کتاب ۷۸۵ صفحې دی
د ټول کتاب PDF کول مې د لیکوونکي بې
اجازې غوره ونه بلل.

په درنښت
عثمان غني

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**